



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کې کورنی ژوند

(څلورم چاپ)

www.melitahrik.com
0777 400 116

لیکوال : الحاج قاضي محمد حسن حقیار

کابل – افغانستان
۱۳۹۳ هـ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم : په اسلام کې کورنی ژوند
مؤلف : الحاج قاضي محمدحسن حقیار
کمپوز : رفیع الله روشن
ډیزاین : محمدافضل ذاکر
خپرندوی : د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه
د خپرندوی شمېره: (۶)
چاپ نېټه : ۱۳۹۳ هـ ل
د چاپ وار : لومړی
شمېر : ۱۰۰۰

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه اساسي څانګه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.
د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.
د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وټپېله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.
دا اثر (**په اسلام کې کورنی ژوند**) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (**قاضي محمد حسن حقیار**) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله

په درناوي

د افغانستان ملي تحریک

فرهنګي څانګه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پیل خبرې

محترمو او قدرمنو لوستونکو :

د دې کتاب د لیکلو او چاپ د انګېزې او موخې په اړه به څکه څه ونه وایم چې فکر کوم دا لامل او غرض هر چاته روښانه دی ټول پوهېږو چې ولس او ملت مو لادمخه هم چندان له لیک او لوست سره اشنا نه و ، او د ټولنې ډېره کمه سلواله مو د لوست او لیک په ګاڼه پسوللي و ، خو په هېواد کې روانې دوه ویشت کلنې غمیزې له دې بدمرغۍ سره نوره هم مرسته وکړه ، د قلم او کتاب ځای توپ او ټوپک ونیو ، په لویانو او کوچنیانو ټولو مو جنګي او احساساتي کلتور وتپل شو .

قلم او کتاب مو له ګوتو و تروړل شو او کلاشینکوف او برچې په لاس کې راکړل شوې خو له نېکه مرغه چې ټولنه مو د داسې شاځلمیو له کاختۍ ( قحطۍ ) سره مخ نده چې تندی مو د نهیلۍ په دیوال ولګېږي او که و وایم چې دا د همداسې څو تنو روڼ اندو ،هڅاندو ، ویښو قلموالو ځوانانو د هاند او هڅو پایله ده چې زموږ د زمولیدلې ټولنې په کلتوري ادبي کالبد کې یې ساه پوه کړه او د همدوی مسیحایي چوف د دې لامل شو چې زموږ قلموال ، ادبیان او شاعران له یو څه لنډ مهالي نهیلۍ او رکود څخه وروسته خوځښت پیل کړي او د کلتوري ، عرفاني او پوهنیز اوښتون ( انقلاب ) شعور یې په روح کې غزوني وکړي .

زما دالیکنه ( کوني ژوند ) هم زموږ د ټولنې د پوهنیز کچ او ټولنیز څرنګوالي سره بی اړیکی نده او په حقیقت کې همدا د ټولنې او چاپېریال غږ و چې د دې کتاب لیکلو لامل شو .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کتاب لومړی ځل ۲۰ وړاندې بیا ۱۴کاله وړاندې او په وروستي ځل اوه کاله وړاندې چاپ شو خوداچې دخلکو له ښه هرکلي سره مخ شو او اوس هم په بازار کې نه موندل کېږي له بلې خوا د مینه والو او لوستونکو تنده او غوښتنه هم ډېره وه نو ځکه مو د ډیرو نویو زیاتولو سره څلورم ځل چاپ ته زړه ښه کړ.

په کتاب مو ځکه «کورنئ ژوند» نوم کېښود چې ټول مسایل یې په کورني ژوند پورې اړه لري تر دې د مخه د «د کورني» مسایل په پرله پسې ډول په شریعت اوونیزه کې خپاره کړل او غوارم چې دا لومړی د کورني ژوند ترسرلیک لاندې هم همداسې روانه وساتم ، هیله ده چې د دې کتاب ترچاپ وروسته په شریعت اوونیزه کې خپاره شوي مضامین هم د یو کتاب په بڼه لوستونکو ته ورسیږي اوس به په دې کتاب کې په همدې موضوعاتو بسوالی وکړو.

په پای کې له محترم رفیع الله روشن اوروح الله احمدزي څخه دکتاب د کمپوز ، له محترم انجنیر محمد افضل ذاکر څخه یې دډیزاین اوله ویښ اوسترګورا وسیاست پوه استاد محمد اسمعیل یون څخه یې دمالي لګښت دستومانتیاد پر غاړه اخستلو له امله مننه کوم همدا راز له ټولو هغو ورونو او خویندو څخه هم مننه کوم چې په دې اړه یې ماته لارښوونې کړېدي.

په درنښت

محمد حسن حقیار

۱۳۹۳ هـ لمریز دغبرګولي لسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## نکاح

## حکم او پېژندنه

### الف : د نکاح تعریف (پېژندنه)

نکاح په لغت کې پیوستون او یوځای والي ته وایي.

په اختیار کې لیکلي چې نکاح په لغت کې پیوستون او یوځای والي ته وایي ځکه چې ښځه او خاوند د کور والي په حالت کې یوله بل سره داسې پیوست شي لکه یو بدن[1] ، او په اصطلاح کې فقهاوو د نکاح بېل بېل تعریفونه کړي دي چې څو یې د بېلګې په ډول یادوو.

### د کمال ابن همام حنفي تعریف

[1] الاختیار فی تعلیل المختار او فتح القدیر : جلد .۲ ص :۱۸۳ .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکاح په خوند باندې د ملکیت لپاره یو تړون دی چې له ښځې څخه د ګټې اخیستلو لپاره جایز شوې دی او له تړون څخه مراد ، د ایجاب او قبول مجموعه (ټولګه) ده چې د تړون کوونکو یا د هغوی د وکیلانو لخوا ترسره او اجرا کېږي.

## د امام کاساني(رح) تعریف

نکاح مېړه ته د ښځې د فرج او نورو غړیو خاصوالی دی.[1]

## ۱. د شوافعو(رح) تعریف

دنکاح په لفظ یو تړون دی چې د وطی د روا والي تضمین کوي.[2]

## د حنابله و په نزد

دا یو تړون دی چې د نکاح او یو ځای والي په الفاظو صحیح کېږي.

## د نکاح غوره تعریف

د ښځې او نر تر منځ د همېشني ژوند تېرولو تړون دی چې له یوبل څخه ګټه په ځانګړو شرایطو روا کوي.

## ب: د نکاح د لفظ اصل

فقها پدې کې دنظر اختلاف لري چې کله د نکاح د لفظ اطلاق وشي نو مراد ترې څه دی ؟ ایا د نکاح له لفظ څخه عقد مرادکېږي اوکه وطي ؟

## د احنافو په وړاندې

---

[1] بدائع الصنایع

[2] حاشیة الباجوري علي شرح ابن القاسم الغزي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



له احنافو څخه په يو روايت کې د نکاح د لفظ اصل وطي او عقد دواړو ته شامل دی مګر په قوي او معتمد روايت کې د دوی په نزد دنکاح لفظ په حقيقت کې په وطي او مجازا په عقد کې استعمالېږي يعني کله چې د نکاح د لفظ اطلاق وشي غرض ترې وطي ده.[1]

دلايل يې : (وَلاَ تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاء سَبِيلاً).النساء :۲۲

يعني : او په نکاح مه اخلئ هغه ښځې چې په نکاح اخېستې وي ستاسو پلرونو مګر هغه چې وړاندې شوي.

يعني چې ستاسو پلرونو وطي کړې وي د هغوی نکاح تاسو ته روا نده.

دا ايت په ډاګه کوي چې د چا پلار له چا سره زنا وکړي نو په زوی يې حرامه ده.

(فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىَ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ).البقره : ۲۳۰.

يعني : (بيا که چېرې دا ښځه يې طلاقه کړله (دريم ځل) نو اوس روانده ده لره دا ښځه له هغې وروسته تر هغه چې نکاح وکړي له بل چا سره.)

يعني تر هغه ورته روا نده تر څو چې له طلاق کوونکي څخه پرته يې بل مېړه وطي نکړي.

رسول الله(ص) فرمايي : ( اصنعوا کل شیء الی النکاح).[2]

---

[1] المبسوط ، بدايع الصنايع ، کتاب الفقه علي المذهب الاربعه او الاختيار شرح المختار .
[2] صحاح الستة مګر بخاري نيل الاوطار او مشکوة.

www.meiltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني : (وکوئ هرڅه مګر نکاح : يعنې له حايضې ښځې سره هرڅه روا دي مګر وطي يې).

### د مالکيه و په نزد

له امام مالک(رح) څخه يو روايت دی چې د نکاح لفظ اصل په حقيقت کې په عقد کې او په وطي کې مجازا استعمالېږي[1].

مګر په دې مذهب کې معتمد دا دی چې دا لفظ عقد او وطي دواړو ته شاملېږي که څه هم ډېر استعمال يې په عقد کې دی همدا قول د قاضي ابويعلي له حنابله و څخه او يو روايت له شافعيانو څخه هم دی.[2]

### د شوافعو په نزد

له امام شافعي(رح) څخه کمزوری روايت د احنافو په څېر دی ، مګر د دوی په نزد د نکاح لفظ په اصل کې په عقد کې دی او په وطي کې مجازا استعمالېږي.[3]

### ۴ : د حنابله و مذهب

د حنابله و مذهب هم همدا د شوافعو مذهب دی يعنې د نکاح لفظ په حقيقت کې په عقد او مجازا په وطي کې استعمالېږي.[4]

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

[1] کتاب الفقه على المذاهب الاربعة .
[2] بدائع الصنايع ،مغني المحتاج ، المغني الابن قدامة .
[3] مغنى المحتاج ، حاشية العلامة الباجوري شرح ابن القاسم الغزي.
[4] المغني لابن قدامه او شرح الكبير على متن المقنع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمهورو دلایل

جمهور وایي چې: (حتی تنکح زوجا غیره) د وطي معنی نه ورکوي د لته مراد عقد دی او وطي په حدیث کې راغلې ده: (حتی تذوقي عسیلته و یذوق عسیلتک).[۱]

یعنې: (ترديې چې وڅکې ته خوند د هغه (سړي) او وڅکې هغه خوند ستا) او (لاتحل للاولی حتی تذوق عسیلة لاخر و یذوق عسیلتها).[۲]

یعنې: (نده روا لومړي ته تر دې چې وڅکې خوند د بل او وڅکې هغه خوند د دی (عسیله او عسال مجاز له لزې جماع څخه دی او دا خوند یې له شهدو سره تشبیه کړ.)

او له (مانکح اباء کم) څخه زنا نه، بلکې نکاح مراد ده چې په صحیح عقد سره شوی وي.

نو که د چا پلار له چا سره زنا وکړله په زوی یې نه حرامېږي او که له پلار سره یې صحیح عقد وشي او جماع شوې هم نه وي نو په زوی یې حرامه ده.

رسول الله(ص) فرمایي: (ولدت من نکاح لامن سفاح)

یعنې: (زه له صحیح نکاح څخه پیدا شوی یم له بد کارئ څخه پیدا شوی نه یم).

که د نکاح دلفظ د استعمال ځایونه وګورو نو جوتېږي چې دا لفظ عقد او وطي دواړو ته شامل دی.

---

[۱] متفق علیه.

[۲] ابوداود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج : نکاح د عربو په جاهلیت کې

په جاهلیت کې د ښځې او نر د جنسي اړیکو د ټینګښت مختلفې لارې وې چې حتی ځینې لارې یې د هغوی په عنعنو کې هم ښې نه ګڼل کېدلې خو ځینو نورو ته یې نکاح ویله چې څو ډولونه یې درلودل :

۱. استبضاع : یو سړي به خپله ښځه بل چا ته ورولېږله او بیا تر هغه به یې ورسره جماع نه کوله تر څو چې له هغه څخه به یې حمل ښکاره نه شو او دا به د اولاد د نجابت لپاره د هغوی ستره مینه وه.

۲. د لس نفرو څخه کمو به له یوې ښځې سره جماع کوله بیا به یې چې کوچنی وزېږېد نو دا ټول به یې راغونډ کړل او هر یو به چې د ښځې خوښ وو ورته به یې وویل چې ای فلانیه دا ستاېچی دی نو بیا هغه انکار کولی نشو.

۳. زنا کارو ښځو به چې له چا سره زنا وکړله او اولاد به یې وزېږېد نو بیا به ښځې خلک را غونډ کړل او قافیه پېژندونکي به چې هر څوک مناسب ولید هماغه ته به یې ورکاوه او هغه انکار نشو کولی.

۴.یوه د نن ورځ مروجه نکاح.[۱]

۵. یو سړي به بل ته وویل ته چې ته ماته له خپلې ښځې څخه تېر شه او زه به تا ته له خپلې ښځې تېر شم او دومره مال به دېر درکړم.

۶. چې د پلار له مرګ څخه وروسته به یې د هغه ښځه په نکاح کړله په انصارو کې دا کار لازمي او په قریشو کې په خوښه و.

---

[۱] دارالقطني روایت له عایشې څخه ،حجة الله البالغة ، شاه ولي الله دهلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. چې لونډان به یې نیول.[۱]

۸. د شغار نکاح.

۹ : د متعې نکاح چې وروسته به یې وپېژنئ.

## د: د نکاح ارزښت او د روا والي حکمت

ښکاره خبره ده چې نکاح د ژوند د پایښت یوائینی لاره ده او د نارینه او ښځې د فطري غوښتنو د سړولو خورا غوره او سپېڅلی ذریعه ده د نکاح په واسطه انسان ته سکون ، اطمینان او هوساینه ور په برخه کېږي او هره ټولنه کې چې واده کول اسان وي او وګړي یې شرعي نکاح ته غاړه ږدي هغه له افتونو او رزائلو څخه سالمه او په امن وي نکاح د غنا (بډایئ) لامل ده او د مینې محبت پېژند ګلوی حاصلولو ، تولد او تکثر لاره ده ، نه پرېږدي چې انسان دی خپل جنسي غرایض د نورو ژویو په څېر پرته له کوم قید او شرطه ، هرچا سره چې خوښه یې وي پوره کړي د نکاح په اثر که الله(ج) نېک اولاد چا ته ورپر برخه کړي نود همېشني نیکمرغی لامل ورته جوړېږي رسول الله(ص) خپل امت نکاح ته هڅوي فرمایي : [ یا معشر الشباب من استطاع منکم الباء فلیتزوج فانه اغض للبصرواحصن للفرج، ومن لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاء].[۲]

یعنې : ( ای د ځوانانو ډلې ځوک چې په تاسو کې نکاح کولی شي نو هغه دې واده وکړي ځکه چې نکاح د نظر او فرج ساتونکې(ده له ببځایه

---

[۱] الانکحة الفاسدة اعبدالرحمن بن عبدالرحمن شمیلة لامدل.

[۲] متفق علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمال شخه) او څوک چې نکاح نشي کولی نو روژه دې ونیسي ځکه چې روژه د هغه لپاره خصیتوب ده.)

همدا راز فرمايي : (النكاح من سنتي فمن لم يعمل بسنتي فليس مني).[١]

یعنې : (نکاح زما له سنتو شخه ده او څوک چې زما پر سنتو عمل نه کوي، نو زما له ډلې څخه نه دی.)

نکاح په دیني او دنیوي ښېګڼو مشتمله ده فقهاء لیکي : په حلاله نکاح کې له خپلې ښځې سره ځان مشغولول له نفل لمانځه څخه غوره دي.[٢]

رسول الله(ص) فرمايي : ( تناكحوا وتوالدوا و تكاثروا فاني اباهي بكم الامم يوم القيامة).[٣]

یعنې : (نکاح وکړئ، تولد او تکثر وکړئ ، زه پر تاسو(ستاسو پر ډېروالي) د قیامت په ورځ په نورو امتونو ویاړم.)

همدا راز فرمايي: کله مو چې د يوې پردۍ ښځې ښکلا خوښه شي ، او ترې اغېزمن شئ ، نو له خپلې ښځې سره کوروالی وکړئ ، ځکه دا کوروالی هغه سوچونه له منځه وړي).[۴]

رسول الله(ص) له ښځو سره له اړیکو غوځولو څخه په کلکه منع کړې ده ،سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله(ص) عثمان بن مظعون رضي الله عنه له

---

[١] ابن ماجه
[٢] فتح القدير.
[٣] مسلم
[۴] الجامع الصغير للسيوطي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځو سره د اړيکو له غوښتلو څخه منع کړ او که هغه ته يې اجازه ورکړې واى نو موږ به ځان خصي کړي و او ځان به مو عبادت ته اوزګار کړی و.[۱]

رسول الله(ص) فرمايي: (درې کسان دي چې مرسته يې په الله(ج) حق ده يو ترې هغه نکاح کوونکى دى چې پاکي يې غرض وي).[۲]

همدا رنګه نکاح د سکون او اطمينان سبب ګرځي الله(ج) فرمايي: (وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا) الروم: ۲۱

يعنې: (او له نښو د ده دا دي چې پيدا کړي يې دي تاسو ته له نفسونو ستاسو څخه ښځې لپاره د دې چې مايل شئ دوی ته.)

خاوند او ښځه يو له بل څخه ډېرې سترتياوې لېرې کوي، د ورځني ژوند د بېړۍ په چلولو کې مرسته کوي يو د بل اسرار او رازونه ساتي: (هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ) البقره: ۱۸۷.

يعنې: (هغوی اغوستن دي ستاسو لپاره او تاسو اغوستن يئ د هغوی لپاره.)

ګورو چې له نکاح او واده سره انسان ته ستومانتياوې پيدا کېږي لکه د اولاد نفقه لګښت، جامه... مګر هغه پدې ټولو خوښ وي، په نيويارک کې د اروايي روغتون رئيس ډاکټر(هافلبرګ) وايي چې: دلته د ځان وژنې حادثې په مجردانو کې له واده والا څخه ډېرې دي.

---

[۱] متفق عليه.

[۲] بخاري، مسلم، ترمذي، ابن ماجه، نسايي المستدرک للحاکم او مسند احمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ لوی او مشهور صحابي عبدالله بن مسعود ﷺ وایي : ماته واده وکړئ ځکه چې زه دا بد ګڼم چې له الله(ج) سره مخ شم او مجرد و اوسم.

ـ امام احمد(رح) د خپلې ام ولدې د وفات په دوهمه ورځ واده وکړ او ویې ویل چې زه دا بد ګڼم چې مجرد ویده شم.[1]

ـ الله(ج) په خپله په نکاح کولو امر کړی دی په دې هکله له نصوصو څخه څرګندېږي چې نکاح او کورنی نظام په اسلام کې ځانګړی ارزښت لري او د ژوند د نورو مسائلو په څېر باید یوې خواته وانه چول شي او خلک باید دا مذهبي او ټولنیز دود تل ژوندی وساتي نکاح انسان له اخلاقي مفاسدو څخه ساتي او د ټولنې د نظم او اصلاح تضمین هم کوي ، ځکه که هر څوک خپل جنسي ضرورت ازاد له هر چا سره چې زړه یې وغواړي پوره کړي نو دلته انانیت ، ځان ځاني او خپل غوښتنې پیدا کېږي هر چا به پر بشکلې انجلۍ حملې کولې ، جنګ جګړې به پیدا کېږي همدا راز د راتلونکي کوچني وارث به معلوم نه وو ، نفقه ، جامه ، تربیه.... به یې چا پر ذمه اخیستله ؟

نو اسلامي شریعت د دې هرې بې نظمۍ د له منځه وړلو لپاره د نکاح پاکه لاره پیدا کړله.

## هـ : د نکاح حکم

[1] تحفة العروس محمود مهدی استانبولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله بن شیخ بن محمد سلیمان وایي : که په زنا کې د واقع کېدلو وېره نه وي نو په دې حالت کې نکاح واجب ده او که د نفقې او مهر توان هم لري او په حرامو کې د واقع کېدلو وېره هم وي نو فرض ده.[۱]

د فقهي مشهور عالم عبدالله بن احمد محمود النسفي وایي چې نکاح په درې ډوله ده :

۱. سنت: د اعتدال په حال کې لکه رسول الله(ص) چې نه یې مال ډېر و او د شهواني قوې له غلبې څخه هم معصوم و.

۲. واجب: کله چې مال هم ولري او شهوت یې هم غالب وي.

۳. مکروه: چې د نفقې او جامې څخه د عاجز کېدلو وېره وي.[۲]

دکتور احمد الحصري د نکاح د حکم په هکله د بېلابېلو علماوو اقوال راخېستي دي چې ځینې یې دلته رانقلوو :

۱. چې جنسي قوه یې غالبه وي، د ښځو خواته میلان ډېر لري او په ګناه کې د واقع کېدلو وېره ورسره وي د جامې ، نفقې او مهر توان لري نو امام غزالي، کاساني او ځینې نور فقها وایي چې نکاح پرې فرض ده.[۳]

دلایل : (فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ) النساء :۳

یعنې (نو نکاح کوئ کومې چې نورې ستاسو خوښې شي دوه ، دوه ، درې ، درې او ، څلور ، څلور.)

---

[۱] مجمع الانهر شرح ملتقی الابحار.
[۲] الاختیار شرح المختار.
[۳] الوجیز للغزالی جلد: ۲ ، البدائع الصنائع ، المغنی او شرح الکبیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وَأَنكِحُوا الْأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ) النور: ۳۲

یعنې: (او نکاح وکړئ هغوی ته چې مېږه نه نلري له تاسو څخه او ستاسو له نېکو او صالحو مرئیانو او وینځو څخه.)

پدې ایتونو کې مطلق امر دی او مطلق امر ترځو یې چې په خلاف دلیل پیدا نشي د فرضیت لپاره وي او دلته هېڅ دلیل نشته دی.

الله(ج) فرمایي: (وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً) الاسرا: ۳۲

یعنې: (مه نژدې کېږئ زنا ته چې دا بې حیایي او بده لاره ده.)

نو ځان ساتل له زنا څخه فرض دي او د بر وخت دا پرته له نکاح څخه امکان نلري.ځینې وایي چې په نکاح امر په قران کې مندوبي امر دی خو سمه خبره دا ده چې دا امر وجوبي دی مګر داسې نه چې حکومت دې مجردان په زور په نکاح مجبور کړي.

۲. په داسې حال کې چې شهوت یې غالب وي، مال لري نفقه او مهر ورکولی شي او د زنا وېره ورسره نه وي نو دلته د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی.

ـ حنفي فقهاء وایي: په دې حالت کې عملي واجب ده لکه د سلام ځواب ورکول.

ـ امام شافعي(رح) وایي: په دې حالت کې نکاح مستحب ده مګر عبادت ته ځان اوزګارول له نکاح څخه غوره دي.[1]

---

[1] المغني ،شرح الکبير ، الوجيز او حاشية العلامةالباجوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د احنافو دلایل: من استطاع منکم الباءه فلیتزوج.

یعني: څوک چې په تاسو کې نکاح کولی شي نو هغه دې واده وکړي.)

دا امر د وجوب لپاره دی خو د دی لپاره چې رسول الله(ص) د نکاح قائم مقام روژه ټاکلې ده او روژه په دې حالت کې واجب نده نو دا هم اعتقادي واجب نده رسول الله(ص) په نکاح همېشه والی کړی دی.

په عادي حالاتو کې نکاح سنت ده ځکه چې رسول الله(ص) فرمايي : (نکاح زما له سنتو څخه ده) او په حدیثو کې نکاح غوښتل شوې ده او له پرېښودو څخه يې منع شوې ده.

۱. د حنابله و او امام مالک(رح) په نزد نکاح مستحب ده.

دلایل يې : ابن مسعود رضي الله عنه وايي که زما د عمر لس ورځې پاتې وي او پوه شم چې په لسمه ورځ مړ کېږم او له ماسره د نکاح توان وي نو زه به دفتنې له وېرې نکاح وکړم.[1]

ابن عباس رضي الله عنه سعید بن جبیر رضي الله عنه ته وويل : واده وکړه يقينا غوره د دې امت د ډېرو ښځو خاوند دی.[2]

امام احمد(رح) وايي: جره توب په اسلام کې هېڅ ځای نلري، رسول الله(ص) فرمايي : زه روژه هم نیسم، افطار هم کوم ،لمونځ هم کوم او ويښ هم اوسېږم او له ښځو سره صحبت هم کوم څوک چې زما له سنتو څخه مخالفت کوي نو زما له ډلې څخه ندی .......بخاري.

[1] احیاء العلوم امام غزالي.
[2] المغني لابن قدامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنابله وايي : په صحيح نکاح کې له ښځې سره بوختېدل او کورنی نظام ته ځان اوزګارول له نفل لمانځه څخه ډېر ثواب لري او نکاح واجب ځکه نده چې د رسول الله(ص) ډېر صحابهؓ داسې وو چې د نکاح قدرت يې هم درلود مګر بيا هم واده يې نه وو کړی که نکاح واجب وای نو هغوی به حتما کړې وه.

په عادي حالاتو کې د امام شافعي په نزد نکاح مباح ده.[1]

دلايل يې : نکاح يوه دنيوي اړتيا ده او د جسم له غوښتنې سره سم صورت نيسي لکه خوراک ، څښاک او اغوستل ، بل دا چې خلک د جنسي غريزو له کبله هم نکاح کوي ځکه خو کافر او مسلمان ټول دا کار (نکاح) کوي او الله(ج) د محرماتو له بيان څخه وروسته وفرمايل : (وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ).

يعنې : (له دې څخه پرته نورې درته حلالې دي.)

او تحليل له اباحت څخه پرته کوم بل مفهوم نه لري الله(ج) د يحيى(ع) ستاينه کوي وايي چې : (سَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ) ال عمران :۳۹.

يعنې : (سردار به وي او ښځو ته به نه راځي او نبي به وي له صالحانو څخه) او حصور هغه چاته ويل کېږي چې پر جماع له قدرت سره سره نکاح ونکړي بل ځای کښې د ښځو سره مينه محبت ښه نه ستايې : (زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ) ال عمران :۱۴.

يعنې : (غولوي دا خلک د خوندناکو شيانو محبت لکه ښځې او زامن)

---

[1] البدائع الصنائع ، المغني لابن قدامه او شرح الکبير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دې ایتونو څخه ښکاري چې نکاح یو غیر ضروري او مباح عمل دی.

**۵**. مکروه : په داسې حال کې چې د نفقې او مهر وېره نه وي مګر دا وېره ورسره وي چې په ښځه به ظلم او تېری وکړي.

۶. حرامه : په داسې حالت کې چې د نفقې او مهر وېره هم وي او یقین یې وي چې په ښځه به ترې ظلم وشي.

۷. فرض عین : دظاهریه وه په نزد: داود بن علي اصفهاني ظاهري وایي : نکاح لکه لمونځ ، روژه ، زکوة فرض عین ده.[1]

دلایلو ته په کتنه د احنافو نظر پیاوړی ښکاري ، په هر حال ټول فقهاء نکاح یو ضروري او لازمي عمل بولي او څوک چې د نکاح توان ولري او نکاح نه کوي او د خپل شهوت لپاره نورې لارې لټوي هغه د الله(ج) او د ټولنې دښمنان دي.

سید ابوالاعلی مودودي(رح) وایي : څوک چې له قدرت سره نکاح نه کوي هغه دټولنې تیار خواره ټګان او غداران دي.

نه یوازې دا چې نکاح په اسلام کې ارزښت لري بلکې په نورو مذهبونو کې هم ځانګړی اهمیت ورکړل شوی دی.

نکاح د عبرانیانو په نزد دیني فریضه ده همدارنګه د مانو (ماني بن فاتک د مانویه دین بنسټګر) په نزد نکاح تر هر څه ډېره ارزښتمنه وه.

په زردشتي دین کې د یوې ښځې له خاوند څخه د دوه وښځو خاوند غوره دی او له مجرد څخه د یوې ښځې خاوند غوره دی.

په یونانیانو کې د نکاح مسئله ډېره مهمه ګڼلی شوه.

هندوان مجرد ته بې مېوې ونه وایي.[2]

---

[1] فتح القدیر ، بدایع الصنائع او المحلی لابن حزم.

[2] قضیة تحدید النسل فی الشریعة الاسلامیه ، ام کلثوم یحیی مصطفی خطیب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## و: د نکاح سیاسي هدف

لکه مخکې موچې وویل نکاح ډېرې ګټې لري لکه د ټولنې نظم او اصلاح ، هغه بی نظمي ، ګډوډي جنګ او جګړې چې د زنا په نتیجه کې را منځته کېږي د نکاح سپېڅلې لاره یې مخنیوی کوي همدا راز هره ټولنه ، ټاټوبی او مذهب په وګړو اباد وي او د هر هیواد پرمختګ او تمدن په وګړو پورې اړه لري ، همدارنګه له هیواد او مذهب څخه د دفاع لپاره وګړو ته اړتیا ده هر مذهب او هیواد چې ډېر پوځ او لښکر ولري هېڅوک پری حمله نشي کولی ، خو په مقابل کې کوم هیواد چې لښکر او پوځ ونلري هغه به تل د بل تر اسارت لاندې وي نو د دې موخو ترلاسه کولو لپاره هم نکاح ضروري ده ، رسول الله(ص) فرمایي : (نکاح وکړئ تولد او تکثر وکړئ ـ اولاد وزېږوئ- ځکه چې زه د قیامت په ورځ ستاسو پرډېرښت ویاړم).[1]

(په نکاح کړئ زېږوونکې او محبت کوونکې ښځې ،یقینا زه ستاسو په ډېروالي پر نورو امتونو ویاړم).[2]

نفوس په اسلام کې هم ځانګړی ارزښت لري د یو زوی له پلار څخه د دوه زامنو پلار غوره دی او الله(ج) د ډېر اولاد پلار خوښوي رسول الله(ص) فرمایي: (ان الله یحب الفقیر العفیف اباالعیال)[3]

یعني : (الله(ج) خوښوي فقیر (نادار ه، نېستمن) چې پاک وي او د ډېر اولاد پلار وي).

---

[1] الجامع الصغیر امام السیوطي.

[2] ابوداود.

[3] ابن ماجه ، امام غزالي په احیاءالعلوم کې رانقل کړېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم څپرکی

## خطبه (د نکاح غوښتنه)

### الف : خطبه له اسلام څخه د مخه

په جاهلیت کې په عربو کې ډول ډول ښه او بد دودونه او عنعنې وې هرې قبیلې او هرې ډلې ځانته بېل بېل دستور او عنعنات درلودل چې د اسلام په راتګ سره ځینې ښه دودونه پاتې شول اکثره یې چې ناوړه دودونه وو له منځه ولاړل همدارنګه د نکاح په اړوند هم ډول ، ډول دودونه ، سوچونه او مختلف فکرونه وو ځینو به ښځو ته د مېره د ټاکلو حق ورکاوه، د هغوی د فکر احترام او درناوی به یې کاوه او ځینو به زموږ د نني جاهلیت په څېر چې چاته د ولي (مشر) خوښه وه ، د هغې د خوښې او غوښتنو پر خلاف ورکوله ، همدا راز عربو دا نه خوښوله چې ځلمی دې مستقیما له ښځې سره د نکاح غوښتنه وکړي ، او مور او پلار یې په خطبه کې ضرور ګډون کېدل او که په مرکه کې به د هلک پلار نه و نو د جاهلي غیرت او ننګ پـه اساس بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سبايي لور يا خور ته څوک پېغور ورنکړي نه ورکوله او خلکو به په هېڅ ترتيب له خپل قوم څخه پرته بهر بل چاته خور، لور يا . . . نه ورکوله.

## ب : خطبه په اسلام کې

الله ج فرمايي: (وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاء أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ) البقرة.۲۳۵

يعني : او هېڅ ګناه نشته پرتاسو که په اشاره کې ووايئ خطبه (د نکاح پيغام) د دې ښځو او که ويې ساتئ په خپلو زړو کې

د نکاح په غرض د يوې نجلۍ غوښتلو او د هغې خبرولو ته (پدې قصد باندې) خطبه وايي.

په جاهليت کې چې کوم ، ناوړه دودونه وو اسلام هغه يو مخيزه رد کړل ښځې ته يې د مېړه د انتخاب پوره حق ورکړ په جاهليت کې به د ښځې غوښتنه په خپله د زلمي په واسطه (مستقيما بې له کومې واسطې) بده ګڼل کېدله خو حضرت علي رضي الله عنه له رسول الله(ص) څخه فاطمه رضي الله عنها بې له کومې واسطې په خپله وغوښتله.[1]

د نجلۍ کورته به خلک د مرکې لپاره ورتلل ،منت او زارۍ به يې کوله لکه د نن سبا تعامل ،مګر حضرت عمر رضي الله عنه د خپلې لور حفصې رضي الله عنها د نکاح وړانديزحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنه ته پخپله کوي ، هغوی به له خپل قوم څخه پرته بل چا ته نه ورکوله ، مګر اسلام دا تميز

[1] المستدرک للحاکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک کړ او رسول الله(ص) د خپلې ترور لور زینبې (رضي الله عنها) نکاح له ازاد شوي مریې زید سره وکړله.[۱]

څوک چې د چا خور ، لور یا . . . وغواړي او د نکاح پیغام ورولېږي ، نو نه باید نجلۍ او نه یې ولي د دوی دا اقدام بد ومني ، دا چې دوی موافقه کوي او که نه دا جلا خبره ده خو که موافقه هم نه کوي ، نو په کار ده چې په نرمه لهجه د ورورۍ او صمیمیت په فضا کې هغوی ته ځواب ورکړي او د هغوی دا اقدام (د نکاح پیغام) باید د هغوی له خوا څخه د ځان احترام وګڼي داسې و انګېري چې ګویا هغه ده ته په درنه سترګه ګوري دا ورته شریف ، ابرومن او قدرمن ښکاري او پر دې باید خوښ شي او فخر وکړي.

عبدالله ابن ابي وداعه (رح) وایي چې زه به له لوی فقیه او مشهور عالم سعید بن مسیب(رح) سره هر وخت کښېناستلم خو ورځې ورته ورنه غللم هغه زما د نه ورتګ لامل و پوښت ، ما ورته وویل چې ، مېرمن مې وفات شوه د هغې په فاتحه او..... کې بوخت وم هغه راته وویل چې موږ به دې هم خبر کړي وو ، چې فاتحې ته درغلي وای او په تعزیت کې موګډون کړی وای بیا ما غوښتل چې ترې پاځېږم هغه راځینې وپوښتل چې ایا د کومې ښځې سره دې د نکاح لپاره خبرې کړې دي ؟ ما ورته وویل چې قربان !ماته به څوک خپله خور یا لور څه راکړي ، زه خو دوه درهمه هم نه لرم ؟ هغه راته وویل زه به یې درکړم ، ما وویل ډېره ښه ده هغه سمدستي خطبه پیل کړه ، زه له ډېرې خوښۍ نه په جامو کې نه ځایېدم ، ماښام چې کور ته لاړم ، روژه وم ، روژه مې ماته کړه ، لمونځ مې وکړ ، د ډوډۍ لپاره مې ځان برابر کړ چې دروازه و ټکېدله زه دروازې ته ورغلم او غږ مې وکړ چې څوک یې ؟ هغه

---

[۱] بخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل سعید یم ما خپل خیال او خاطر ته څوسعید نومي راوستل او سعید بن مسیب(رح) مې په فکر کې هم نه ګرځېده ، چې ګوندې هغه به زما دروازې ته راځي ، ځکه چې هغه په څلوېښتو کالو کې له کور او جومات څخه پرته په بله لاره نه و تللی ، ورووتم او ومې لید ، فکر مې کاوه چې له خپلې وینا څخه به اوښتی وي ، ورته ومې ویل چې قربان زه به دې درغوښتی وم ، هغه راته وویل چې ته ډېر مستحق وې ، چې زه درته راشم ، ما ورته وویل چې امر کوئ هغه را ته وویل چې ته مجرد وې او ما درته کور ودان کړ ، نو دا مې مناسب ونه ګڼله چې ته شپه یوازې سبا کړې ، ګورم چې شاته یې څوک ولاړه ده ، هغه یې دروازې ته ننوېستله او خپله بېرته ستون شو ، بیا کله چې زه ددې ناوې خوا ته ورغلم ګورم چې د ښکلا مثال او ثاني یې نشته له ټولو خلکو څخه د قران پاک ښه حافظه، په سنتو عالمه اود حق پېژندونکې ده دا پاکه او سپېڅلې پېغله د سعید بن مسیب(رح) خپله لور وه ، کومه چې خلیفه عبدالملک بن مروان خپل زوی ولیعهد ته د ولي عهدۍ له ټاکلو څخه وروسته څوځو ځلې غوښتې وه ، خو هغه نه وه ورکړې.[1]

## ج : د خطبې الفاظ

مخکې مو وویل چې دنکاح په غرض دیوې نجلۍ غوښتلو اد دهغې خبرولو ته خطبه وایي نو که چېرې نجلۍ موافقه وکړله نو خطبه بشپړه او د نکاح ژمنه وشوله خو دوی لا یو بل ځینې بېل دي.

[1] تحفة العروس : محمود مهدي استانبولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله خطبه تصریح وي او کله د تعریض په ډول :

۱. تصریح : له چا سره واده ه غوښتل او هغه ته خپل رغبت او میل ښکارول لکه چې څوک چا ته ووایي: زه له تا سره واده کول غواړم ،اوټول فقهاء وايي: د دې لپاره چې د جماع الفاظ ناوړه اوفحش دي نو په خطبه کې يې مستقيما استعمالول حرام دي.

۲. تعريض: په يو خبره کې ديو مطلب دلالتاً وړاندېزچې ظاهرا په کې ياد نه شي ،یعنې ديو شي غوښتل چې هغه هدف مستقيما نه يادوي لکه يو محتاج چې چا ته ووايي ،زه ستا د سلام او احترام لپاره راغلی يم،ددې لپاره راغلم چې ستا مبارک مخ ووينم ،ته مې يادېدلې او داسې نور.

## بېلګې

۱. رسول الله(ص) فاطمې(رض) دقيس لورته وفرمايل : (اذا حللت فاذ نيني)

یعنې : کله چې حلاله شوې (نکاح درته رواشوه) ماته خبرراکړه.

او ورته يې وفرمايل (لا تفوتينا بنفسک).

یعنې : دځان په هکله دي موږ مه هېروه.

۲. کله چې ام سلمة(رض) دابو سلمة ښځه کونډه شوله رسول الله(ص) ورته وفرمايل :ته خبره يې چې زه د خدای(ج) رسول يم ، دخلکو غوره او بهترشخصيت يم ، زما ځای او مقام زما په قوم کې ته ښه ويني.[1]

۳. ته ډېره ښايسته يې د هرچا خوښه يې.

---

[1] دارالقطني او نيل الاوطار

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. زه له یو صالحې ښځې سره واده کول غواړم.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د: د نکاح په غرض نجلۍ ته کتل

همدارنګه فرمایي :(اذا خطب احدکم المراة فان استطاع ان ینظره منها فلیفعل)[۱]

یعني : کله چې له تاسو څخه چاکومه ښځه وغوښتله نو که چېرې کولی شي، چې له هغې څخه(د مخ او بدن) ځینې برخې وګوري نو دا کار دې وکړي.

ددې لپاره چې دلته دکورنۍ دجوړښت ، دټول ژوند د تېرولو او هوساینې خبره ده نوپه همدې بنا شریعت دا اجازه ورکړله چې که څوک له کومې ښځې سره واده کول غواړي ،هغې ته وګوري که خوښه یې شوله نوښه ده اوکه خوښه یې نه شوله نوبله دې وګوري.

همدارنګه ښځې ته رواه ده ،چې نارینه ته وګوري داسې نه شي چې ښځه له واده څخه مخکې یا نارینه له واده څخه د مخه یوله بل سره لیدلي نه وي ،اوله واده څخه وروسته یې خوښ نه شي، په دې کې د شارع لوي حکمت دی نن سباداسې ډېر لیدل شوي دي چې هلک اونجلۍ هېڅکله هم سره لیدلي نه وي، او مشران یې په پټوسترګویوبل ته واده کړي ،چې وروسته یې یوبل خوښه شوي نه وي اوطبیعت یې سره نه لګېږي اود مینې اومحبت ژوند یې په کرکه ،نفرت اوناخوالوبدل شي اوتل د کشمکشونوسره لاس اوګریوان وي ،خواسلامي شریعت دواړوته اجازه ورکړله چې ښه یو بل ته وګوري ،دهغه له اخلاقوڅخه ځان خبر کړي نه یوازې اجازه بلکې، رسول الله(ص) حضرت مغیره بن شعبه‌رضي الله عنه ته امر وکړ: (ارجع وانظرالیها)

---

[۱] ابوداود ،او مسند احمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني : وګرځه او هغې ته وګوره.

همدا راز رسول الله(ص) فرمايي (اذا خطب احدکم المراة.فلاجناح عليه ان ينظره منها اذاکان ينظره اليهالخطبة وان کانت لا تعلم)[1]

یعني : کله چې له تاسوڅخه چا یوه کومه انجلۍ وغوښتله نوهېڅ ګناه پرې نه شته چې هغې ته وګوري ،کله چې هغې ته د غوښتنې په غرض ګورئ که څه هم هغه پوهه نه وي.

(اذا خطب احدکم المراة فان استطاع ان ينظره منها فليفعل).[2]

یعني : کله که څوک له تاسوکومه نجلۍ د نکاح له لپاره غواړي اوکولی شي، چې هغه وګوري ،نودا کار دې وکړي.

نوله دې او داسې نورو رواياتوڅخه جوتېږي ،چې دنکاح په نيت نجلۍ ته کتل جائزدي او د نجلۍ کورنۍ هم بايد په دې څه ننګ ونه کړي ځکه دا شرعي او مباح عذر دی .

د امام ابوحنيفه(رح) په نزد يوازې د هغه مخ ،لاسونو او قدمونو ته کتلی شي.

امام مالک (رح) وايي: که نجلۍ اجازه وکړله. کتل ورته روا ده ،اوکه نجلۍ اجازه ونه کړله ،نوکتل ورته روا نه دي.

داود ظاهري وايي: په خطبه کې دنجلۍ ټول بدن که هغه خبره وي او که نا خبره کتلی شي.[3]

شيعه وايي : دنکاح په نيت نجلۍ ته کتل روادي.

---

[1] مسند احمد ،نيل الاوطاراوالفقه الا سلامي وادلته.
[2] ابوداود اومسند احمد
[3] المحلي جلد :۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي عیاض وایي : دا کتل مکروه دي.

### ه: د خطبې له پاسه خطبه

که څوک کومه نجلۍ وغواړي ،نوترڅوهغه ځواب ورکړي ،یایې غوښتونکې پرېږدي ،بل چاته یې غو ښتل حرام دي خونن سباډېر داسې لیدل شوي ،چې دیونجلۍ په سرغتې غتې دښمنۍ پیدا شوې وي.ډېر له ضده هم دا کار کوي ،اوډېر داسې هم شوي دي چې څوک د کومې نجلۍ د غوښتلو لپاره چاکره ورشي نودوی لا ناست وي چې نور راشي او ځینې خولا د نجلۍ کورته ګواښ هم کوي ،چې که له ما څخه پرته دې بل چا ته ور کړه نو. . .دا په اسلام کې حرام او سخته ګناه لري.

رسول الله(ص) فرمایي : (لایبیع احدکم علي بیع اخیه ولا یخطب علی خطبة اخیه)

یعنې : بیه دې نه کوي یو له تاسو هم دخپل مسلمان وروربه بیه او خطبه (غوښتنه)دې نه کوي د خپل ورورپر خطبې.

مطلب دا چې، دپېرلو او پلورلو په معامله کې او د خطبې په معامله کې د خپل مسلمان ورور د غوښتنې له پاسه غوښتنه مه کوه ؛ترهغه چې یایې غوښتونکی پرېږدي اوی‌ا نجلۍ موافقه ونه کړي.

همدارنګه نور مختلف روایتونه شته چې نه یوازې د خطبې پر جواز دلالت کوي، بلکې دا جوتوي چې خطبه سنت هم ده، رسول الله(ص) په خپله خطبه کړې ده.

رسول الله ص فرمایي چې یومسلمان ورور دې دبل مسلمان ورور د غوښتنې له پاسه غوښتنه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکه څوک دا کاروکړي نو د رسول الله ص د وينا مخالفت به يې کړی وي، او که د چا کومه نجلۍ ډېره خوښه وي ، نو کوښښ دې وکړي چې د هرچا څخه يې مخکې وغواړي. اوپه کار ده چې دنجلۍ کورنۍ ته دفکرکولوشوری او...وخت ورکړل شي ، تر څوښه جوته شي ، چې يا يې موافقه راغلله يانه او دخطبې فسخه که دهلک له خواڅخه وي او که دنجلۍ لخوا ،هېڅ اغېزه نه لري او که په خطبه کې موافقه راغلله نوترڅوچې شرعي ايجاب او قبول نه وي شوي نودا نکاح نه ده او هلک اونجلۍ لاتر اوسه پردي دي اودادنکاح لپاره يوه ژمنه ده ،دخطبې له پاسه خطبه هغه وخت روا ده چې لمړی غوښتونکې ،فاسق ،فاجر ،نااهله اوددې نجلۍ وړ نه وي.

و :پر يوه جاهليت نيوکه

يوبل جاهليت دادی ،چې کله په خطبه کې موافقه راشي نو ددستمال په نامه يوه ټوټه يا ګل ورکړي ،بيا پرته لدې چې شرعي ايجاب اوقبول وشي ،هلک اونجلۍ لکه ښځه اوخاوند يوځای کېږي دادستمال هېڅ مانا نلري اونه حرام حلالولی شي ،اوترڅوچې شرعي عقد نه وي شوی ،دوی دواړه پردي دي.يوازې دنکاح موافقه نکاح کېدلای نشي ،دنکاح لپاره څه نور هم ضرور دي چې مخکې به راشي.دنکاح په قصد نجلۍ ته دکتلو له جواز څخه ځينو عياشانو نورې ګټې پورته کړلې اوپه دې کار کې يې له افراط څخه کار واخست ،کتل په خلوت صحيحه بدل شول.اودوی چې کومه نجلۍ خوښه کړي ،نودنکاح په پلمه له هغوی سره خلوت کوي ،په يوازيتوب کې ورسره يوځای کېږي ،او داکار په څو اسلامي پرمختګ خوښو!!هيوادونو کې له څوکالو راهيسې راپيل شوی دی.څوکله که ددواړو موافقه رانشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،اوپه هوټل ،سرای یا . . .کې یې ورسره خلوت هم کړی وي اودریم ملګري (شیطان) یې هم خپله دنده پوره اجراکړې وي ،نوبیا به څه کېږي ؟ لکه چې ډېر داسي ولیدل شول ،پېغلو انجونو او زلمیانو اوس هلته هم دا پلمه پیداکړې ده او خپل جنسي غرایز اوس له همدې لارې سړوي ،ځکه چې دټولنې له خبرو او دتندي له تروشولو څخه هم خلاص دي او قانون او دستور هم ورته اجازه ورکړې ده !!.

## د نکاح ارکان

### الف: ایجاب او قبول

ټول علماء په دې متفق دي چې ایجاب او قبول دنکاح رکن دی ،هغه څه چې په مجلس کې لومړی صادرېږي ،هغه ایجاب دی ،دنارینه له خوا وي اوکه دښځې له خوا (اوکه ددوی داولیاوو لخوا). ایجاب او قبول په اتفاق سره دنکاح اوزوجیت په الفاظوصحیح کېږي لکه په نکاح مې درکړله،اودملکیت، هبې (بخښنې) او صدقې په الفاظو امام ابو حنیفه(رح) په نزد صحیح کېږي لکه چې درسول الله(ص) نکاح دهبې په الفاظو شوې ده: (وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ) الاحزاب: ۵

یعني : (اوهغه مومنه ښځه که بخښبي خپل نفس نبي (ص)ته)

اوبل داچې که دادنکاح صریح الفاظ نه دي ،نو کنایه خودي..[۱]

امام شافعي(رح) وايي چې دنکاح اوتزویج له کلموڅخه پرته نکاح په نوروکلمونه صحیح کېږي.[۱]

---

[۱] الاختیارلتعلیل المختار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل په ایجاب اوقبول کې په خولې خبرې دي که څوک په خولې خبرې نه شي کولی نو په لیکلو هم صحیح ده او کله که عاقدان (تړون کوونکي) حاضر وي او خبرې هم کولی شي ،بیا ورته لیک روا نه دی ځکه اصل په خولې خبري دي اوکه څوک لیک هم نه شي لیکلی نو په اشاره هم روا ده په دې شرط چې له اشارې څخه غرض ، مطلب او مقصد ښکاره وي.

دایجاب او قبول ارکان په لاندې ډول دي.

۱. دمجلس یووالی: ایجاب او قبول باید په یو مجلس کې وشي که چېرې ایجاب په یو ځای کې اوقبول پر بل ځای کې وشي ،نه صحیح کېږي.

۲. هر طرف باید د بل طرف خبرې بشپړې واورې او پرې پوه شي او که چېرې خبرې نه اورېدل کېدې اویا ژبه بدله وه اونه پوهېدل چې بل طرف څه وايي نه صحیح کېږي.

۳. دایجاب او قبول لپاره عربي ضروري نه ده او نه دعقد لپاره دیني عالم ضرور دی ښځه او خاوند یا یې وکیلان هم دا کار کولی شي اولکه عیسویانو په کاهن پورې اړه نه لري او نه خطبه ضروري ده ، بې خطبې هم نکاح روا ده اونه پرې نړیوال خبرول ضروري دي لکه راډیو ،تلویزیون ،اخبارونوکې خبرتیالکه عیسویان چې په نکاح نړیوال خبرنه شي ، صحیح یې نه ګڼي ،اونه په کوم ځانګړي وخت پورې اړه لري لکه یهودیان چې دشنبې(خالي) اود اخترونوپه ورځوکې نکاح حرامه بولي ،اونه یې په رسمي دفترونوکې ثبتول ضروري دي.

## ب: ولي

---

[۱] بدایع الصنایع

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجمهـورو علماووشـافعي، مالک،احمـد بـن حنبـل اوشـاه ولـي والله دهلوي(رح) په نزد ولي د نکاح له ارکانو څخه.[۱]

شاه ولـي والله دهلـوي وايـي ښـځې تـه روانـه دي چـې لـه ولـي څخـه پرتـه دخپلي نکاح تړون وکړي ،ځکه هغه خپله ګټه اوښېګڼې نه پېژني ښايي لـه خپل سيال څخه پرته لـه بل چاسره نکاح وکړي او قوم تـه يې شرم او ننګ جوړشي ، نولکه چې وروسته به راشي کله چې نجلۍ له کم سيال سره واده وکړي ،نوبياخود احنافوپه نزد هم ولي د اعتراض حق لري.

د جمهورو دلايل

(وَإِذَا طَلَّقْـتُمُ النِّسَـاء فَـبَلَغْنَ أَجَلَهُـنَّ فَـلاَ تَعْضُـلُوهُنَّ أَن يَـنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ) البقرة۲۳۲

ىعني: اوهغه وخت چې طلاقې کړلې تاسې ښـځې او دوی ورسـېږي اخرد مـودې خپلـې تـه پـس مـه منـع کـوئ تاسـودوی لـه دې څخـه چـې پـه نکـاح بـه واخلي دوې مېړونه خپل.

(وَأَنكِحُوا الْأَيَامَى مِنكُمْ) النور۳۲

ىعني : اوپه نکاح ورکوئ بې واده والاله تاسې نه

(أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ) البقرة۲۳۷

اويـاعفوه وکـړي ،هغـه څـوک چـې پـه لاس کـې يـې غوټـه دنکـاح ده.امـام قرطبي(رح) ووايي :چې داولي دي.[۲]

---

[۱] النهاية لرملي
[۲] احکام القران قرطبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه ولوايتونوکې ولي دنکاح لپاره ضروري ګڼل شوى دى.
رسول الله(ص) فرمايي :لا نكاح بغير ولي. دارقطني
ىعنې:له ولي پرته نکاح نه ده صحيح.
(ايماامراة نكحت بغيراذاوليها فنكاحها باطل قالهاثلاثا)[1]
ىعنې : هرښځه چې دولي له اجازې پرته په نکاح شوه نودهغه نکاح باطله ده دايې درې ځله وويل.

خودامام اعظم (ابوحنيفه)(رح) په نزد ولي دنکاح رکن نه دى،نوعاقله او بالغه ښځه کولی شي ،چې له خپل سيال سره د ولي له اجازې پرته هم نکاح وکړي اوځان ته يې خاوندوټاکي.

د احنافو دلايل

(فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِيَ أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ) البقرة: ۲۴۰

ىعنې :اوپه تاسوګناه نه شته پدې خبره چې وکړي هغوى په خپل حق کې دشريعت مطابق.

(فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْاْ بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ)

ىعنې :نومه بندوئ هغوى لدې چې نکاح وکړي دوى خپلوخاوندانوسره کله چې راضي شي دوى خپل منځ کې د شريعت مطابق.

---

[1] بخاري، مسلم، ابوداود، او ابن ماجه

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله(ص) فرمایلي (الایم احق بنفسها من ولیها والبکر تستاء ذن في نفسها واذنها صماتها).[۱]

یعني :بې خاونده ښځه ډېره حقداره ده دځان په حق کې له خپل ولي ځنې او پېغله به اجازه کوي دځان په حق کې او اجازه یې چپ کېدل دي

(لاتنکح الثیب حتی تستامرولاتنکح البکرحتي تستاء ذن واذنهاالصموت).[۲]

یعني : نه دې په نکاح کېږي کونډه تردې چې امر وکړي اونه دي په نکاح کېږي پېغله تردې چې اجازه وکړي اودهغه اجازه چپ والی دی.

(لیس للولي مع الثیب امر).[۳]

یعني :ولي د کونډې ښځې سره هېڅ کاراوغرض نه لري درسول لله(ص) په وخت کې یوصحابي یوځل همداسې وغوښتل چې خپل لور د هغه له خوښې پرته خپل وراره ته ورکړي خودې مبارزې پېغلې صحابیې نه غوښتل چې دا رواج دې همداسې پاتې وي اوخلک دې لورګانې اوخوینډې د هغوی دارادې اوخوښې پرخلاف واده وکړي. اودادې حتی پوښتل کېږي هم نه.نورسول لله(ص) ته یې له پلار څخه شکایت وکړه اوځرګنده یې کړه چې زه داډول واده نه غواړم رسول الله(ص) ورته توصیه وکړه چې خیردی اوس دې د پلارخبره ومنه. خوهغه په خپل دریځ ټینګه ولاړه وه.اورسول الله(ص) ورته بیاوفرمایل خیر نو هرڅوک چې دې خوښ وي ورسره واده وکړه. دې انجلې د رسواالله(ص) له دې وینا سره وویل اوس به مې د پلارخبره ومنم ماغوښتل

---

[۱] مسلم اوترمذي
[۲] دارالقطني.
[۳] ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا ناروا او د جبر ریکارډ مات کړم او مسلمانانې خویندې په دې وپوهوم چې پلرونه یې دلورګانو په ورکولو کې څه واک نه لري.[۱]

نو دامام ابو حنیفه(رح) له مذهب سره سم ښځه ځان ته د خاوند د انتخاب حق لري ،کله چې هغه بالغه وي او د ښواوبد وتمیز وکولی شي خپله ګټه او تاوان وپېژني نو شریعت هغه ته د خپل مېړه دانتخاب بشپړ حق ورکړیدی ،او هېڅوک یې د خپلې خوښې (مرضئ)خلاف په نکاح نشي مجبورولی.

یوله هغو جاهلي او ناوړه دود څخه چې زموږ په ټولنه کې عام شوي دادی چې ولي ښځه چې چاته یې خوښه وي په نکاح ورکوي ،هغه لکه دمال یا څاروي خپل شخصي ملکیت ګڼې ، انجلۍ بېچاره هېڅ نه پوښتل کېږي او د برداسې کېږي چې هغه مېړه ته له خپل ورکولو څخه له سره خبره هم نه وي ،کونډه خود خُسرد کور شخصي ملکیت او شتمني بلل کېږي بل چاته ورکول یې د هغه دوژلو څخه هم سخت تمامېږي که د هغې د خُسر په کورکې ځلمی وجود ونلري نو په کلونو کلونو به انتظار کوي ترڅو کوم کوچنی بالغ شي او هغه ورته په نکاح کړي او که طفل هم نه وي نو بیا ناچاره ده چې ټول عمره بې واده وي او د خُسر په کور کې د وینځې په څېره په خدمت ژوند تېر کړي.

دې ناوړه عنعنو ډېرې ناکارې ډالۍ ټولنې ته راوړلې د بېر مولیدلي چې ښځه د خپلې ارادې او طبیعت پرخلاف په نکاح مجبوره شوې وي چې هغې یا ځان وژلی یا یې تېښته او فرار کړی او یا یې نور اخلاقي مفاسد رامنځ ته کړي وي.

---

[۱] الاختیار لتعلیل المختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زموږ په جاهلیت کې ښځه ځانته خاوند اختیارکړي نو دهغې مرګ مباح نه، بلکې لازم ګڼل کېږي چې بیاهلک او انجلۍ دواړه یاد تبغ دخولې اویا دټوپک د شپېلۍ ښکارشي د انجلۍ ولي دپیسو لپاره دانجلۍ ګانده «راتلونکې» ژوند ته هېڅ پام نه کوي هر څوک چې ډېر مال ورکړي انجلۍ هماغې ته ورکوي ،داچې په انجلۍ څه تېرېږي اودهغې راتلونکي ژوند ته یې څه ډالۍ ورکړله دهغه پرې څه پروانشته د انجلۍ په زوره په نکاح مجبورول، د هغه دارادې او طبیعت پرخلاف دهغې ورکول ،دکورنۍ نظام دجوړښت اودنکاح داصلي مقصد خلاف کار دی نکاح خودسکون ،هوساینې، اطمنان، مینې او محبت لپاره ده :«ومن ایته ان خلق لکم من انفسکم ازواجاًوجعل بینکم مودة ورحمة»[1]

یعنې: او له نښو دده دادي چې پیداکړې یې دي تاسو ته له نفسونو ستاسې نه ښځې لپاره ددې چې مایل شئ دوی ته او ګرځولې یې ده په منځ ستاسو کې دوستي اومهرباني.»

اوکله چې څوک په نکاح مجبوره شي اودهغه دخوښې اومرضۍ په خلاف چاته واده شي نونه خوتسکین اواطمنان راځي اونه خومینه ،محبت اودوستي اونه دکورني نظام دجوړښت هدف تحقق مومي د دې له پاسه هره ورځ دمېړه اوښځې ترمنځ اوبه خړې وي تردې چې یوله بل څخه توبه ګارشي نوهرڅوک چې داکارکوي نومهرباني دې وکړي خپلې دې کړنې ته دې د اسلام او مسلمانۍ رنګ نه ورکوي.

ځکه دا تحمیلي او تپل شوې نکاحګانې په اسلام کې ځای نلري داخودنفس غوښتنې اویا جاهلي ننګ اوغیرت دی چې اسلام ورڅخه پنا

---

[1] الروم ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي ،له اسلام څخه دمخه هم ښځې همداسې بې ارادې اوپه زوره په نکاح ورکول کېدلې مګراسلام د ازادۍ بالغې اوعاقلې ښځې احساس اوطبیعت ته ارزښت ورکړی رسول الله(ص) فرمايي چې په نکاح کولوکې به کونډه امرکوي چې هغې دپېغلې په اندول د واده خوا ړه اوترخه لیدلي وي اوپېغلې ته که حیاورځي اوامرهم نه کوي نوچپوالی يې هم کافي دی اوکه هغه په چیغوچیغوژاړي اويا صفا انکارکوي نودا نکاح نه شي صحیح کېدلی چې راتلونکی ژوندبه يې هم ناخوالو ،تاوتریخوالي اوزړه بداوي څخه ډک وي.

## ج: شاهدان

دجمهورفقهاوو ،شافعي احمدبن حنبل اواحنافو(رح) په نزد په نکاح کې دایجاب اوقبول په وخت کې شاهدان ضروري دي ،

رسول الله(ص) وفرمایلي: لانکاح الابولي وشاهدی عدل.[۱]

یعني :نه ده صحیح نکاح مګرد ولي اودوه عادلوشاهدانوپه حضورکې.

او مالکیان وايي چې اصل په نکاح کې اعلان دی چې خلک په ترون خبر شي.[۲]

ددوی په نزد له شاهدانوڅخه پرته نکاح فاسده ده اوشاهدان په نکاح کې واجب دي خودعقدپه وخت کې دشاهدانوحضورضروري نه، بلکې مستحب دی اوکه دعقد په وخت کې شاهدان حاضر نه شول نود دخول په وخت کې به حاضرېږي اوکه د خول په وخت کې حاضرنه شول نودانکاح فاسده ده.[۳]

---

[۱] دارلقطني.
[۲] بدانع الصنائع،فتح القدير،تحفةالمحتاج ،المهذب اوالمغني.
[۳] الانکحةالفاسدة عبدالرحمن بن عبدالرحمن شمیلة الامدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د : مهر**

داحنافو په نزد له مهرڅخه پرته نکاح نه صحیح کیږي لکه چې الله(ج) فرمایي: (وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم) النساء: ۲۴

یعنې: اوحلالې کړی شوې تاسې لره هغه ښځې چې غیرله دې ښځه دي چې طلب به کوئ تاسود هغوی په مالونوخپلوسره.

دامام شافعي(رح) اوحنابله وپه نزد مهرمستحب دی نوکه چېرې یې د مهر په نشتوالي موافقه وکړه هم رواده.

اومالکیان وایي چې مهرد نکاح دصحت له شرطونوڅخه ده اوپرېښودل یې روانه دي (وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً) النساء ۳

یعنې:ورکوئ ښځوته مهرونه د دوی په خوشالۍ سره

(فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً) النساء:۲۴

یعنې :نودوی لره ورکړئ ددوی حق کوم چې مقرر شویدی

دمهرکمه اندازه فقهاوو لس شرعي روپۍ ټاکلې ده اوزیاته اندازه یې ټاکلې نه ده په هرڅوچې دواړه راضي شول سیي ده، دمهرپه هکله به کافي تفصیل وروسته راشي.

## د نکاح شرطونه او د عقد(تړون) ډولونه

### الف: د نکاح شرطونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنکاح ځینې شرطونه په هلک ، ځینې په انجلۍ او ځینې دنکاح په صيغې پورې اړه لري :

## ۱. تړون کوونکي شرطونه

الف :عقدکوونکی باید اهلیت ولري ،عاقل ،بالغ وي. دلیوني اوکوچني عقد نه صحیح کیږي.

ب: چې عقد کوونکي دواړه خواوې یودبل خبرې واوري اوپرې پوه شي.

ج: که ښځه مسلمانه وي، خاوند دې یې هم مسلمان وي.

## ۲. د ښځې شرطونه

الف: چې خالصه (سوچه) ښځه وي ،خنثی نه وي.

ب: چې د ښځې په نکاح کې شرعي مانع نه وي یعني (محرم نه وي).

ج: چې ښځه معلومه وي ، چې فلانۍ نومې ده اونامعلومه نه وي لکه دچاچې ډېرې لورګانې وي اوورته وايي چې یوه مې په نکاح درکړله اومعلومه یې نه کړي چې کومه یوه یې په نکاح ورکړله.

## ۳. دنکاح په صیغې (الفاظو) کې شرطونه

دنکاح په صیغه کې چې څه شرطونه دي څه یې په ایجاب او قبول کې یاد شول بل دا چې دنکاح لفظ به راتلونکي ته نه منسوبوي او نه به یې څه داسې شرط پورې چې د نکاح دتړون په وخت کې موجود نه وي اړوندوي ، بل داچې نکاح به نه موقتي وي اونه به متعه وي او باید دتل لپاره وي.

ب: د عقد ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. صحیح او نافذ عقد

پر صحیح او نافذ عقد مرتبه اثار

## الف: پر خاوند حقوق

۱. په مجرد عقد سره مهر لازمېږي که مهر د نکاح د عقد په وخت کې ټاکل شوی و ، خو هماغه دی او که ټاکل شوی نه و نو مهر مثل لازمېږي.

۲. په مجرد عقد سره د ښځې نفقه ، جامه او د اوسېدلو ځای لازمېږي.

۳. که بله ښځه یې وي نو د دوی ترمنځ به له مساوات ، عدل او انصاف څخه کار اخلي.

۴. پر خاوند لازم ده چې ښځې ته هېڅ ډول زیان نه په ژبه او نه په لاس ور ورسوي مګر کله چې شریعت ورته مباح کړی وي.

## ب: پر ښځه حقوق

۱. پر ښځه واجب دي چې د خاوند اطاعت وکړي او کوم کورې چې ورته ټاکلی دی هلته واوسېږي.

۲. د خاوند له کور څخه به بې له اجازې او بې له شرعي جواز څخه نه وځي.

۳. ترڅو چې شریعت اجازه کوي نو د خاوند پر خبره به عمل کوي.

۴. د خاوند تادیب ته به غاړه ږدي ، ترڅو چې خاوند د شریعت حدود مراعات کړي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج: په ښځه او خاوند کې اثار

۱. د نسب ثبوت چې له دې دواړو څخه زیږیږي .

۲. ترڅو چې په دین کې سره جدا نه وي (لکه یهودي یا عیسوي) نویو له بل څخه میراث وړي.

۳. حرمت مصاهرت ثابتیږي .

۴. هریو ته رواده چې له بل څخه خوند او مزه واخلي لکه څنګه چې شریعت ورته رواکړي دي او مانع (لکه حیض او نفاس) وجود ونلري.

۵. په هریو لازم دي چې له بل سره دژوند دچارو په سنبالولو کې له خپل قدرت او توان سره سمه مرسته وکړي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

## ۲. صحیح موقوف عقد

هغه عقد دی چې دنفاذ یو شرط یې کم وي یعنې که دا یو شرط پکې پوره شي نو عقد صحیح او نافذ دی لکه مریی یا وینځه چې دخپلې نکاح عقد پخپله (دبادار له اجازې پرته) وکړي یا عقد کوونکې کوچنۍ او یا معتوه وي یا دازادې ، اصیلې ، عاقلې او بالغې ښځې نکاح څوک دهغې له اجازې پرته وکړي یا دنژدې ولي په شتوالي کې لیرې ولي دنکاح عقد وکړي او نژدې ولي اجازه هم ورته نه وي کړي. داعقد له دخول څخه وړاندې دنژدې ولي په اجاز ې پورې اړوند (مربوط)دی او که له اجازې څخه وړاندې یې دخول وکړنو داعقد د فاسدې نکاح حکم اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: ټول فقها پدې متفق دي چې په نارينه باندې کوم شرط ندی اېښودل شوی له هر چا سره چې نکاح يې ورسره رواوي ،نکاح کولی شي او که ښځه د خپلې نکاح عقد پخپله کوي نو دې دوه شرطونو ته به پام کوي :

١. داچې خاوند يې سيال وي.

٢. چې مهر به يې له مثل څخه کم نه وي.

نوکه لدې شرطونو څخه يو هم کم وي ، ولي د اعتراض حق لري.

## د: فاسده نکاح

فاسده نکاح هغه ده چې دنفاذ ټول شرطونه يې پوره وي خو دصحت له شروطو څخه يو شرط پکې کم وي ،لکه چې دشاهدانو شمېر پوره نه وي يا په بائن طلاق کې ديوې خور نکاح د بلې په عدت کې شوې وي.يا دپنځمې نکاح د څلورمې په عدت کې شوې وي ،يا د وينځې نکاح په اصيلې باندې شوې وي ،يا دا چې نکاح کېدونکې ښځه دبل چا د طلاق په عدت کې وي ،پدې شرط چې دوی دعقد په وخت کې پدې پوه نه وي او که پوه وي نو دا عقد باطل دی.

په فاسده نکاح کې هر کله چې ښځه او خاوند پوه شي نو بايد ځانونه بېل کړي او که خپله بېل نشول نو په هر مسلمان لازم دي چې قاضي پرې خبر کړي ،تر څو دوی جدا کړي ،که قاضي له دخول څخه وړاندې بېل کړل ،نو هېڅ اغېزه پدې عقد نه مرتبېږي او که له دخول څخه وروسته يې بېل کړل نو دا څلو ر اثرات پرې مرتبېږي او پدې نکاح کې حد نشته :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. د بېلتون له لومړۍ ورځې څخه به د خپل عدت ورځې شمېري.

۲. حرمت مصاهرت ثابتېږي يعنې پر سړي د ښځې ټول اصول او فروع او پر ښځې د سړي ټول اصول او فروع حرامېږي.

۳. که د عقد په وخت کې يې مهر ټاکلی و نو له ټاکلې اندازې څخه کم مهر لازمېږي او که مهر يې ټاکلی نه و ، نو له مهر مثل څخه هم کم لازمېږي ځکه چې د ښځې په وطی به يا مهر لازم وي او يا حد او حد د شبهې لپاره رفع شو نو مهر پاتې شو.

۴. ثبوت د نسب د هغه حمل چې له دې خاوند څخه يې زېږوي.

## هـ: باطله نکاح

چې په صيغه کې يې نقصان (کمښت) يا څه عيب پيدا شي ، يا د انعقاد له شرطونو څخه يو شرط کم وي ، نو د انکاح باطله ده لکه موقتي نکاح يا چې عقد کوونکي دواړه ليوني وي ، يا يې يو ليونی وي ، يا دا چې ښځه د نکاح جوګه نه وي لکه نکاح له محرماتو سره ، نو په دې نکاح هيڅ اثرات نه مرتبېږي. د دې وجود لکه عدم (نشت) دا سې دی نه پر ښځه عدت شته دی نه نسب ثابتېږي، نه ميراث شته نه مهر او نه نفقه او نه د خاوند اطاعت شته او حد هم د شبهې لپاره نشته او که چا داسې نکاح وکړله سمد ستي دې خپله بېل شي او که بېل نشي او خلک پرې خبر شي ،نو قاضي دې پرې خبر کړي، چې بېل يې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

# د نکاح مانع

## هغه ښځې چې نکاح ورسره حرامه ده:

له کوموښځوسره چې نکاح حرامه ده دوه ډوله دي ، یوه هغه چې نکاح ورسره دتل لپاره حرامه ده ، بله هغه چې موقتا ورسره نکاح حرامه ده.

الف: هغه ښځې چې نکاح ورسره دتل لپاره حرامه ده

کومې ښځې چې دتل لپاره حرامې دي ، نودحرمت لاملونه (اسباب) یې څلور دي.

## ۱. محرمات دنسب په سبب

کومې ښځې چې د نسب په سبب حرامې دي ، څلورډلې دي

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: د سړي اصول: لکه مورد پلارمور، د پلارنیا که څه هم پورته وي الله(ج) فرمایي: (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ) النساء۲۳

یعني: حرامې کړی شوي پر تاسو مورګانې ستاسو.

اود نیاګانونکاح په اجماع د امت سره حرامه ده.

ب: د سړي فروع (اولاده) لکه لور،دزوی لور،دلورلور، نمسیانې، او کړوسیانې که څه هم ښکته وي : (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ) النساء۲۳

یعني: حرامې شوې پر تاسې مورګانې ستاسې اولورګانې ستاسې.

ج: د مور او پلار فروع

لکه خور، وریره ،خورزه، د وررلور اود خور لور اود هغوی اولاد، برابر خبرده که خوریاوررسکه وي اوکه ناسکه.

د نیکه اولاده

لکه ترورګانې، خاله ګانې، خودا حرمت یوازې تر دوی پورې ځانګړی دی ، د دوی اولاده حرامه نه ده فقهاء وایي [یحرمه جمیع نساء القرابة غیرولدالعمومة والخؤ له]. [1]

یعني: ، دعمه توب او خاله توب له اولاد څخه پرته دخپلولۍ ټولې ښځې حرامې دي.

اویاد تره اوماما څخه.

[1] الانکحة الفاسدة نقل له حاشیة الشرقاوي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله(ج) فرمايي : (حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالاَتُكُمْ وَبَنَاتُ الأَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ) النساء۲۳

يعنې : حرامې شوې په تاسو مورګانې ستاسو اولورګانې ستاسو اوخورګانې ستاسو اوترورګانې ستاسو اوخاله ګانې ستاسو اود وروړلورګانې اودخورلورګانې.

## ۲. محرمات درضاع (دتي رودلو) په سبب

رضاع په زوراوزيرسره دښځې اونوروژويو(اوحيواناتو) له تيوڅخه د شيدوڅښلوته وايي.[1]

او شرعا په ځانګړې موده کې دانسان له تيو څخه دشيدو رودل دي ،چې دحرمت سبب ګرځي .

الله(ج) فرمايي :( وَأُمَّهَاتُكُمُ اللاَّتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُم مِّنَ الرَّضَاعَةِ) النساء:۲۳.

يعنى :او حرامې دي پر تاسو هغه مورګانې چې شيدې يې درکړېدي تاسې ته اوستاسې هغه خوېندې چې تاسې ورسره شيدې رودلې دي.

رسول الله(ص) فرمايي :[يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب]. [2]

يعنې :ټول هغه په رضاع (تي رودلو)سره حرام دي څوک چې په نسب سره حرام دي.(يحرم من الرضاع ما يحرم من الولادة).[1]

---

[1] الميزان للشعراني

[2] بخاري مسلم ،اين ماجه اونصب الرايه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې حرام دي په تې رودلو سره کوم چې حرامیږي له زیږیدلو څخه.

(حرموا من الرضاعة ما یحرم من النسب).[۲]

یعنې: حرام کړئ په رضاع سره هغه څوک چې حرام دي په نسب سره.

(الرضاع تحرم ماتحرم الولادة).[۳]

یعنې: رضاع حراموي څوک چې له زیږیدلو څخه حرامیږي.

نوچې کومه مور کوم ماشوم ته تی ورکوي ، دجمهورو امامانو په نزد یې دا ښځه مور وګرځیدله ،که څه هم مړه وي ( غیر له امام شافعي څخه)

او ددې ښځې ورونه یې ماماګان ، خویندې یې خاله ګانې اودهغه خاوند یې پلار وګرځید د پلارلورګانې یې خویندې ،او زامن یې ورونه ، ورونه یې ترونه،خورګانې یې خورګانې او دادښځې او سړي دنمسیانو ترور اوخاله ګرځي ،که انجلۍ وي او که هلک وي ،نو ماما اوتره یې ګرځي.خو ځینې صورتونه شته چې هغه له دې قاعدې څخه مستثنی دي هغه یو درضاعي ورور خپله مورده یعنې که یوه ښځه زوی ولري اوبله ښځه هم زوی ولري او دا دواړه کوچنیان دیوې دریمې ښځې تی وروي نو دا دواړه سره رضاعي ورونه دي ځکه چې د یوې ښځې له تیو څخه یې شیدې رودلې دي ،خو بیا هم دیو بل له اصلي مور سره ددې نکاح حرامه نده.[۴]

---

[۱] متفق علیه.
[۲] بخاري.
[۳] بخاري.
[۴] تخفة المحتاج ،حاشیة ابن عابدین ،درمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یو له هغو صورتونو چې هغه لدې څخه بهر دی د رضاعي زوی خور ده مثلا یو سړي یو زوی لري ،او بل سړی یوه لور لري ،او ددې انجلۍ مور دې لومړي هلک ته تی ورکړی نو دا هلک او انجلۍ خور او ورور دي خو دا انجلۍ د دې هلک په پلار حرامه نه ده.[1]

په لنډ ډول دې ته یوه داسې قاعده ږدو: د تي ورکوونکې ښځې او دهغې داولادې او دمور او پلار حرمت خاص په تي رودونکي کوچني پورې اړوند دي ،یعنې دا ښځه او دهغې اصول او فروع یوازې په همدې کوچني حرام دي او ددې کوچني په مور او پلار نه حرامېږي ،لکه څنګه چې د تي ورکوونکې ښځې د مېړه اودهغې د اصولو او فروعو حرمت یوازې په همدې کوچني پورې اړوند دی.

د ماشوم دمور او پلار او ورونو او... سره ددې سړي او دهغې داولادې او مور او پلار نکاح جایز ده ،یعنې دکوچني پلار ته روا دي چې شیدې ورکوونکې ښځې سره او دهغې دلورګانو سره نکاح وکړي او دماشوم مورته روا دي چې له دوی څخه یوه سره واده وکړي.

## په شیدو د تحریم علت

دا چې ولې په رضاع باندې حرمت ثابتېږي ډاکټران وايي چې په دې موده کې د کوچني بدن له همدې شیدو څخه وده کوي ،غوښه له همدې شیدو څخه ډېرېږي هډوکي غښتلي کېږي ،نو دماشوم وده اونمو او دهډوکي کلکوالی دهغې شیدو څخه حاصلېږي چې ماشوم يې په لمړیو دو و کالوکې

---

[1] تحفة المحتاج.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثنبي ،.نو ماشوم ددې ښځې جز (برخه) وګرځېده نو همدا يې د تحريم علت دی.

## د ماشوم عمر د تي رودولو په وخت کې

دا چې دڅوکالوکوچنی ديوې ښځې شيدې وروي نو رضاع ثابتېږي په دې هکله فقهاء دنظر اختلاف لري.امام (ابوحنيفه(رح)) وايي داموده دکوچني د عمر لومړنی دېرش مياشتې دي.[1]

دليل يې دا ايت دی : (وحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا ) الاحقاف: ۱۵.

يعنې: حمل او بېلتون يې له تي څخه دېرش مياشتې دي)

.امام زفر(رح) وايي : دا موده د کوچني د عمر لومړني دوه کاله ده جمهورو فقهاءوو لکه امام شافعي ،امام احمد بن حنبل ،امام محمد ،او امام ابويوسف اود ډېرو صحابه و او تابعينو (رح)په نزد دا موده دوه کاله ده.[2]

دلايل يې : (وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلاَدَهُنّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ) البقرة ۲۳۳

يعنې: د کوچنيانو مورګانې دې تر دوو کالو خپلو کوچنيانو ته تی ورکوي، کومې چې غواړي چې دتي ورکولو موده پوره کړي.

بل داچې : (وحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا )الاحقاف :۱۵.

يعنې : حمل او بېلول يې له تي څخه دېرش مياشتې دي.

---

[1] بدائع الصنائع ،درمختاراو حاشية ابن عابدين

[2] درمختار ابن عابدين او رحمة الامة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې شپږمیاشتې په حدیث کې دولادت لومړۍ نېټه تاکل شوې ده بل ځای فرمایي : [لایحرم من الرضاع الاماکان فی الحولین ] .[۱]

یعنې :نه حرامېږي په رضاع ،مګر هغه څه چې په دووکالو کې وي.

نوشپږمیاشتې دحمل موده ټاکل شوې ده او دوه کاله موده د تي رودلو .

(وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ) اللقمان :۱۴.

او جلاکېدل د دوی دي په دوه کالو کې.

نو دا شپږ میاشتې دولادت او دوه کاله د تي ورکولو چې سره جمع شي ،نو هماغه دوه نیم کاله ترې جوړېږي ،چې قران ورته اشاره کړې ده.

د تي رودلو هغه موده چې حرمت پرې ثابتېږي.

دا چې کوچنی څومره شیدې وروي ،نو حرمت ثابتېږي ،په دې هکله هم فقهاء دنظر اختلاف لري.

حنفي اومالکي فقهاء(رح) وايي چې داکومه ځانګړې اندازه نلري اوپه یوه څاڅکې سره هم حرمت ثابتېږي ، ځکه چې ایت مطلق راغلی دی.[۲]

اماشافعي اوامام احمد(رح) وايي چې : پنځه ځله تی رودل حرمت ثابتوي یعنې چې ماشوم تی وروي اوموړشي اومخ واړوي نوچې پنځه ځله یې په دې ډول سره وروي نوحرمت ثابتېږي.[۳]

---

[۱] دارالقطني شرح الکبیر اوکشاف القناع.

[۲] بدائع الصنائع ، درمختار، ابن عابدین او بدایة المجتهد.

[۳] المغني لابن قدامه اوالمنهاج للنووی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دليل يې د عايشې(رض) حديث دی چې: په هغه څه کې چې قران کې نازلېدل لس ځله ښکاره او معلوم دتي رودل وچې حرمت يې ثابتاوه بيا هغه په پنځه ښکاره او معلوم باندې منسوخ شول.[۱]

او هغه حديث چې دعباس رضي الله عنه ښځې ام الفضل يې روايت کړی دی چې يوکش اودوه کشه (تی رودل) حرمت نه ثابتوي.[۲]

اودسالم په هکله دسهله په حديث چې پنځه ځله شيدې ورکړه.[۳] دحنابله وپه يوقول اودابي ثوراوځينوصحابه ودا اندازه درې ځله تي رودل دي اودليل يې دام الفضل يعنې دعباس رضي الله عنه د مېرمن هغه حديث دی چې يوکش اودوه کشه حرمت نه ثابتوي)

نومعلومېږي چې درې ځله يې ثابتوي، اويوځل دادی چې کوچنی تی خولې کې کش کړي، اوبيا يې پرېږدي، نوکه داعمل يې درې ځله تکرارکړ،نوحرمت ثابتېږي.[۴]

احناف وايي چې په ايت اوحديث کې اندازه ټاکل شوې نه ده اومطلق ذکرشوی دی مثلا [وامهاتکم اللتي ارضعنکم] يعنې اوستاسې هغه مورګانې چې شيدې يې درکړې وي.

دلته شيدې مطلقې يادې شوي.

(يحرم من الرضاع مايحرم من النسب).[۵]

---

[۱] مسلم اوابوداود.
[۲] مسلم.
[۳] موطا امام مالک.
[۴] المحلی، المغني معالم السنن للخطابي.
[۵] بخاري مسلم ،ابن ماجه اونصب الراية.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یعنې حرامېږي په رضاع سره څوک چې په نسب سره حرامېږي.**

په دې حدیث کې لړاوۀ ېرنه دي یادشوي.

ابـن مسـعود ،ابن عبـاس اوحضـرت علـي رضي الله عنه وایـي : (قلیـل الرضـاع وکثیـره سواء).[1]

یعنې : درضاع لړاوۀ بر برابردي.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمایي چې یوکش رودل هم حرمت ثابتوي.[2]

www.melitahrik.com
0777 400 116

[1] ترمذي جلد : ۳.
[2] دارالقطنی اوبدائع الصنایع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې له شیدوسره نورڅه ګډ شي.

که چېرې شیدې له کوم بهېدونکي شي سره ګډې شي ، لکه دوا ، دغوا یامیښې شیدې او... نوکه دښځې شیدې ډېرې وي نو داحنافوپه نزدحرمت ثابتېږي ، اوکه دښځې شیدې کمې وي اوبل بهېدونکي شی ډېرو ،نوحرمت نه ثابتیږي، اوکه دبلې ښځې شیدې ورسره یوځای شي ، نوکه دهرې یوې شیدې زیاتې وې ، حرمت په همغې پورې اړوندشو، اوکه برابرې وي اوپه اندازه کې یوشی وي ،نو حرمت په دواړوپورې اړوند شو ، او امام محمد (رحمة الله علیه) وایي چې :په دواړو صوروتونو کې حرمت دواړو ته اړوند دی.

او که چېرې شیدې له بهېدونکي شي څخه پرته له بل شي سره ګډې شي او په اور پوخ شي.نو بیا حرمت نه ثابتیږي ،لږې وي اوکه ډېرې امام مالک(رح) وایي که شیدې له اوبو سره ګډې شي او شیدې پکې ورکې شي ،نو حرمت نه ثابتېږي اوکه له دوا یا بل شي سره ګډې شي او شیدې پکې ورکې نه شي نو دامام مالک څخه په دې هکله کوم روایت نشته دی او ملګري یې وایي چې دا حرمت نه ثابتېږي.

امام احمد او امام شافعي(رح) وایي که له شیدو سره هر څه ګډ شي او کوچنی یې پنځه ځله وڅښي نو داحرمت ثابتېږي یوه خبره ده که شیدې له بهېدونکي شي سره وي او که له بل شي سره. لږوي اوکه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کوچني تغذیه پر مور او پلار واجب ده.

په هغه صورت کې چې کوچنی له خپلې مور څخه پرته د بل چا شیدې نه روي یا بله ښځه پیدا نه شوه چې ماشوم ته شیدې ورکړي، یا پیدا شوه او ماشوم یې هم شیدې رودلې ،خو دې ښځې اجوره غوښتله ،نو پدې صورت کې په مور او پلار واجب دي چې کوچني تغذیه کړي ،ځکه چې په شیدو نه ورکولو کې کوچني ته خطر دی.

الله(ج) فرمايي: (وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ) البقرة ۲۳۳.

يعني: او مور ګانې دې شيدې ورکوي خپلو کوچنيانو ته دوه کاله پوره.

معنی دا چه په مور او پلار واجب دي چې ماشومانو ته شیدې ورکړي اوکه دادرې صورتونه نه و اومور یې غوښتل چې خپل ماشوم ته شیدې ورکړي اواجوره یې هم نه غوښتله نو د کوچني تسلیمول هغې ته واجب دي ،ځکه چې خپله مور د نوروپه انډول ډېره مهربانه وي اوداولاد په تربیه کې ښه کوښښ کوي ،مګر دکوم شرعي عذر له کبله ،اوکه مور ماشوم ته شیدې ورکولې خو اجوره یې غوښتله نو که بلې ښځې ورته وړیا ورکولې نو پلار یې کولی شي چې دې بلې ښځې ته یې ورکړي اوکه بلې هم اجوره غوښتله او مور یې هم نو پلار به یې دکوچني مور ته حواله کوي ،مګر دکوم شرعي عذر له کبله .

مثلاکه مور بدکاره اوبد اخلاقه وي یا مسلمانه نه وي ،که کوچني ورته تسلیم کړل شي ؛ نو تربیه یې خرابېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مور د شیدو ګټې

د (۱۹۷۸م) کال په پسرلي کې په موناتو کې د کوچنیانو د روغتیا لپاره دریم کانفرانس جوړ شو او نوم یې پرې موناتو (۳) کېښود په دې غونډه کې له (۳۰۰) څخه زیاتو ډاکترانو ګډون کړی و دوی د مور شیدې د طفل لپاره تر ټولو غوره غذا وګڼله خصوصاً د زېږېدني په پنځو لمړیو ورځو کې ،او د کانفرانس په پای کې یې هرې مورته پنځه توصیې وکړلې.

۱. د مور طبعي شیدې د کوچني لپاره اساسي خواړه دي، سربېره کورنی نظام هم ټینګوي او ماشوم له ډېرو ناروغیو څخه ژغوري.

۲. څو مره چې ژر کولای شئ کوچني ته شیدې ورکړئ بیا هم څومره چې کولای شئ ژر ژر دا کار وکړئ او ژر یې پېل کړئ.

۳.د ښځو لویه سهوه داده چې ماشوم ونه ژاړي مور ورته تی نه ورکوی او داد کوچني په هاضمه کې توپېر راولي.

۴. هره مور باید له هر ډول نشې څخه ځان وژغوري او د ډاکتر له مشورې څخه پرته باید دوا او درمل ونه خوري ځکه دا کار د ښځې شیدې وچوي.

۵. د مور شیدې بشپړه غذا ده او لازمه ده چې کوچني ته تر ځلور میاشتو پورې نوره غذا ورنکړل شي او په کار ده چې کوچني ته تر ځلورو یشت (۲۴) ساعتو پورې په اوبو کې ویلې شوی بوره هم ورنکړل شي ځکه چې :

الف : ماشوم د مور په شیدو ژر ژر عادت شي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب : کوچنی دمور د شیدو له لومړیو اوګټورو موادو یعنې ورګو څخه بې برخې کوي چې د مور شیدو کې له ولادت څخه وروسته پیدا کېږي او دا ماده د ډېرو ناروغیو مخنیوی کوي.

ج: د مور شیدې تر څلور میاشتو پورې د ماشوم لپاره بشپړه غذا ده چې په کې پروتین ، شحمیات ،ویتامین او مالګې شته دي.دغه شیدې د ماشوم لپاره دهغه د عمر مطابق جوړې شوي دي نو دهغه په هضمي سېستم کومه بده اغېزه نه کوي بل هر وخت تیار وي ،نه خوټېدو ته حاجت لري او نه په کې د میکروب وېره شته اونه په کې د ګرموالي اویخوالي ډاکټر(هنري ستیراد) وایي چې دمورپه شیدوکې د روغتیا په سلګونو شیان چې د مور په شیدو کې شته دي ،د نورو ژویو په شیدو کې نشته دي.

## پر شیدو اجوره یا مزدوري کله لازمېږي ؟

کله که تې ورکوونکې ښځه دکوچني مور وه اود کوچني له پلار سره یې زوجیت برحاله وه ، اویا درجعي طلاق په عدت کې وي نودحنفي علماووپه نزد دې ته هېڅ ډول اجوره نه شته ځکه چې نفقه یې د کوچني په پلار واجب ده اوکه دبائن طلاق په عدت کې وي ځینې علماء وایي څرنګه چې نفقه یې په خاوند نشته نو اجوره یې حق ده اوځینې یې په رجعي طلاق قیاسوي او وایي چې اجوره یې نشته ده .لومړۍ ډله وایي چې ددې د زوجیت اونکاح لړئ له دې سرې سره ختمه ده اود هغې د رضا ، خوښې ،نوي مهراونوي عقدڅخه پرته یې نه شي په نکاح کولی اوکه د کوچني سره یې د زوجیت لړۍ بالکل ختمه وه نودې کې هېڅ اختلاف نشته چې کوچني ته دتې

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکولو په بدل کې اجوره لازمه ده الله(ج) فرمايي: (فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ) الطلاق: ۶

يعنې: او که چېرې يې شيدې ورکولې ستاسې لپاره ،نو ورکوئ دوی لره مزدوري ددوی.

او که ښځه پردۍ وه ،نو په هرحال د اجورې مستحقه ده.

## ۳. محرمات د مصاهرت (خسرګنۍ) په سبب

دا هم په څلور ډوله دي.

۱ د ښځې اصول : لکه د خپلې مېرمن مور ،نياګانې ، که څه هم پورته وي.

د مېرمن مور په ايت سره حرامه ده [وامهات نسائكم] او مورګانې د مېرمنو ستاسې .

او نياګانې په اجماع د امت سره حرامې دي

له ښځې سره يوازې د نکاح تړون که څه هم کوروالی نه وي شوی د ښځې اصول حراموي رسول الله(ص) فرمايي : (هرچا چې له کومې ښځې سره نکاح وکړله، نو که له هغه سره يې کوروالی وکړ ،او که ويې نه کړ نو د هغه د مور نکاح ورته حرامه ده.[1]

۲. د ښځې فروع (اولاده): له کومې ښځې سره چې کوروالی شوی وي ، د هغه اولاد لکه پرکټې (د ښځې لور له بل مېړه څخه) او د هغې لورګانې او نمسيانې ټولې پرې حرامې دي الله(ج) فرمايي: (وَرَبَائِبُكُمُ اللاَّتِي فِي

---

[1] ترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حُجُورِكُم مِّن نِّسَآئِكُمُ اللاَّتِي دَخَلْتُم بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ) النساء۲۳

یعنې :او ستاسو پرکتۍانې چې ستاسو پالنه کې وي ، کومې چې ستاسوله هغو ښځو پیداوي چې تاسوورسره کوروالی کړی دی

اوکه تاسوورسره کوروالی نه وي کړی نوبیاپه تاسوڅه ګناه نشته .

اود څلورواړوامامانوپه نزد د (في حجورکم) قید ته هیڅ اعتبارنشته، یعنې که پرکتۍ له ده سره ونه اوسیږي نوبیا هم حرامه ده.

۳. دزوی ښځه که څه هم ښکته وي : (وحلائل ابناءکم الذین من اصلابکم) اوښځې د زامنوستاسوهغه زامن چې ستاسوله شاګانوڅخه وي.

د زوی دخول یا له ښځې سره یې دزوی کوروالی هم شرط نه دی اود رضاعي زوی ښځه هم حرامه ده خوابن تیمه اوابن قیم جوزي درضاعي زوی له ښځې سره د میړه له بېلتون څخه وروسته نکاح روا بولي.[1]

۴. دپلارښځې (میرې) ،دنیکونوښځې که څه هم پورته وي (وَلاَ تَنكِحُواْ مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاء) النساء ۲۲.

یعنې اوپه نکاح مه اخلئ هغه ښځې چې په نکاح اخیستي ستاسې پلرونواوله نکاح څخه غرض دټولوفقهاء په نزدعقد دی.

۵. حرمت مصاهرت په زنا سره : په زناسره دحرمت مصاهرت (دخسرګنۍ دحرمت) په هکله فقهاء مختلفي نظریې لري :

---

[1] زادالمعاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام احمداوامام ابوحنیفه(رح) وایي : زنادواده په څېرده نوچاچې له کومې ښځې سره زناوکړله دهغې مور، نیاګانې، اودهغې لوراولمسیانې ټولې پرې حرامې دي اودزناکارپه پلار،نیکونو، زامنواونمسیانوټولودا ښځه حرامه ده ۲. همدانظرپه صحابه وکې دعمر،ابن مسعود، ابن عباس، جابر،عایشې،عمربن حصین (رضی الله عنهم اجمعین) اوپه تابعینوکې دحسن بصری، شعبي، نخعي، اوزاعي، طاؤس، عطا،مجاهد، سعیدبن مسیب، سلیمان بن یسار، ثوری، اسحاق بن راهویه(رح) هم دی اوله امام مالک څخه هم یوروایت همدادی ،اودمام شافعي(رح) په نزداودامام څخه په صحیح روایت زنا حرمت مصاحرت نه ثابتوي.[1] ځکه چې حرمت په صحیح عقد سره ثابت واقع کېږي او دامام شافعي(رح) په نزد او له امام مالک(رح)څخه صحیح روایت زنا حرمت نه ثابتوي[2]

اوامام ابوحنیفة(رح) وایي:حرمت په زنا، مسه کولو اودشهوت په نظر فرج ته په کتلو سره ثابتېږي او دشهوت په نظر فرج ته دکتلو اندازه د ذکر خوزېدل دي.

## ۴. حرمت په سبب د لعان سره

لعان له لعن څخه اخیستل شوی دی ،چې لېږې والې اوشړلو ته یې وایي، او دلته ترې مراد داده چې مېړه خپله ښځه په زنا تورنه کړي اوشاهدان ونه لري نو قاضي به دواړو ته لوړه(سوګند)ورکوي چې لعنت اوغضب ورسره

---

۱ المبسوط، بدایع الصنائع نیل الاوطار، تحفة المحتاج،الخرشي علی مختصرخلیل،شرح الکبیراوالمعني لابن قدامة(رح)

[1] الخرشي علی مختصر خلیل اوشرح الکبیر

[2] المنهاج موطا امام مالک اوشرح الکبیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمال کړي او پدې ترتیب صورت نیسي :قاضي به د ښځې له مېړه څخه وغواړي، چې څلور ځله ووايي : شاهدي ورکوم په الله(ج) سره چې ما دا ښځه په زنا ولیدله او یا دا حمل یې له ما څخه نه دی او زه پخپله دې وینا کې له رښتونو څخه یم او په پنځم ځل دې وايي چې پر ما دې د الله(ج) لعنت وي که زه به له دروغجنو څخه یم او که ښځې ونه منله ،نو قاضي به له هغې څخه وغواړي ،چې څلور ځله د هغه شهادت رد کړي او و به وايي شهادت ورکوم په الله(ج) چې دا زما خاوند له دروغجنو څخه دی او په پنځم ځل به وايي چې پر ما دې د الله(ج) غضب وي که چېرې دا له رښتینو څخه وي الله(ج) فرمايي :

(وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاء إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ {٦} وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ{٧} وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ {٨} وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِن كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ) النور٦- ٩

يعنې :او هغه کسان چې تورنوي ښځې خپلې (په زنا سره)حال دا چې نه وي دوی ته شاهدان ،مګر نفسونه ددوی (پس واجبه ده په دوی کې)شاهدي دیوه ددوی څلور شهادته په نامه د الله(ج) سره چې ببشکه خامخا له رښتیا ویونکو دی او پنځم (شهادت داسې ده چې) ببشکه لعنت د الله(ج) دې وي پرده که وي (دی)له دروغ ویونکو څخه او دفع کوئ له دې ښځې څخه عذاب داچې ولولي دا ښځه څلور ځله شهادت په نامه د الله(ج) چې ببشکه دا (مېړه زما خامخا له دروغ ویونکو څخه دی او پنځم شهادت (داسې ده چې) ببشکه غضب د الله(ج) دې وي پر ما که چېرې وي (دا مېړه زما) له رښتیا ویونکو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قاضي ته مستحب دي چې له څلورځله شهادت وروسته هر یو ته وعظ او نصیحت وکړي او له الله(ج) یې وویروي د اخرت دردوونکی عذاب ورته یاد کړي او په دې یې وپوهوي چې د اخرت عذاب سخت او ددنیا اسانه دی.

دلعان سببونه دوه دي.لمړی دا چې خاوند پر ښځه د زنا تهمت ولګوي او ښځه منونکې نه وي (منکره وي)دویم چې خاوند حمل له ځان څخه ونه ګڼي او له حمل څخه منکر وي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلعان شرطونه

۱. دښځې او خاوند تر منځ دسيي نکاح وجود که څه هم دخول صورت نيولي نه وي.

۲. چې خاوند خپله ښځه پر زنا تورنه (تهمتي)کړي.

۳. چې ښځه خپل خاوند دروغجن کړي او دلعان تر پايه پر خپله خبره ولاړ وي.

۴. چې دښځې په زنا شاهدان نه وي.

۵. خاوند به لومړی لعان پيلوي.

۶. خاوند او ښځه به دواړه يو بل ته نغوته (اشاره)کوي که حاضر وي او که غايب وي ،نوم به يې اخلي

## د لعان اغېزې (اثرات)

۱. پر خاوند د قذف (تور)حد نشته.

۲. په ښځه که لعان وکړي دزنا حد نشته دی او که لعان ونکړي نو دزنا حد پرې شته دی.

۳. د بلاربښت (حمل)نسبت خاوند ته نه کېږي (نسب نه ثابتېږي).

۴. دلعان په واقع کېدلو سره سمدستي يو له بل څنې جلا کېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵**. دا ښځې چې په دتل لپاره وي او يو پر بل دتل لپاره حرام شول.کله چې رسول الله(ص) د عويمر عجلاني رضي الله عنه او د هغه د ښځې تر منځ دلعان په واسطه بېلتون راوست بيا يې وفرمايل : (لاتجتمعان ابدا).[1]

يعني :دوی هېڅ کله بيا يوځای کېدلی نه شي.

او په لعان کې که يو له دوی څخه ځان دروغژن کړي او قاضي يې په حد کړي نو بيا يې يو له بل سره نکاح روا ده).[2]

## کومې ښځې چې موقتي (لنډمهالې)حرامې دي

دا هغه ښځې دي چې نکاح ورسره روا ده ،خو يو علت او لامل پيدا شوی وي ،چې دوی يې يو پر بل حرام کړې وي، اوددې علت دله منځه تللو په صورت کې دوی يوبل ته حلال دي ، دايې هم يو څو ډولونه :

۱. د پنځمې نکاح د څلورو په شته والي کې

کله چې ديو سړي په نکاح کې په يو وخت کې څلور ازادې ښځې پوره شي نو پنځمه ورته حرامه ده ،خو په هغه صورت کې چې له دوی څخه يو طلاقه کړي ،يعنې په يووخت کې له څلورو ښځوڅخه ډېرې په يوه نکاح کې رايو ځای کولی نه شي الله(ج) فرمايي : (فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ) النساء :۳.

[1] متفق عليه.
[2] فتح القدير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني:نونکاح کوئ کومې چې نورې ستاسې خوښې شي دوه ، دوه ،درې ،درې.څلور ،څلور.

د چا په نکاح کې به چې له څلورو ښځو څخه ډېرې وې نو رسول الله(ص) به ورته فرمايل چې څلورپرېږده او نورې طلاقې کړه.

د عبدا لله ابن عمر(رضي الله تعالى عنهما) څخه روايت ده چې غيلان بن ثقفي (رضي الله عنهما) اسلام ومانه او په جاهليت کې د هغه لس ښځې وې او ټولو له هغه سره ايمان راوړ.رسول الله(ص) ورته امر وکړ چې څلورپرېږده او نورې طلاقې کړه.[1]

حارث بن قيس رضي الله عنه روايت کوي چې کله ما اسلام ومانه نو زما اته ښځې وې ما رسول الله ته ددې يادونه وکړله هغوی(ص) راته وفرمايل چې څلورترې خوښې کړه اونورې طلاقې ۲.

، . . . صفوان بن امينه رضي الله عنه اسلام ومانه اواته ښځې يې وې رسول الله(ص) ورته امروکړ

چې څلورترې خوښې کړه اونورې طلاقې کړه.[3]

همدارازکه له څلوروښځوڅخه يې يوه طلاقه کړله خوهغه لاتراوسه د ده په عدت کې وه نودپنځمې نکاح ورته روانه ده که څه هم عدت دحضرت علي رضي الله عنه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه امام ابوحنيفه اوامام احمد بن حنبل(رح) په نزدبائن طلاق وي.[2]

---

[1] ترمذي اودارالقطني.

۲ ابوداود او دارالقطني.

۳بدائع الصنائع اوالمغني

(c) ketabton.com: The Digital Library



او امام شافعي(رح) وايي که عدت رجعي طلاق وي نو پنځمه ورته روانه ده او که عدت دبائن طلاق ونو بياورته له پنځمې سره نکاح روا ده.[١]

د ظاهريان پـه نـزد لـه نهـو(٩) ښـځو او دځينو په نزديې لـه اتـو ښځو سـره نکـاح روا ده).[١]

www.melitahrik.com 0777 400 116

[١] مغني المحتاج او الخرشي على مختصر خليل

[٢] المحلي ،بدائع الصنائع او مغني المحتاج.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له یوې څخه د ښځو د پروالی

## ژوره کتنه

ځینې خلک په اسلام تورلګوي چې نارینه وو ته یې له څلورو ښځو سره نکاح روا کړې ده ، خو ښځو ته یې له یو سړي څخه له ډېرو سره نکاح حرامه ګرځولې ده. ددوی پروینا داخولوی ظلم او بې انصافي ده. که څه هم داپوښتنه ښه اوږدځواب غواړي خو دموضوع داوږدوالي له وېرې په لنډه ډول وایو چې :

اوس ډېروا حصایوروښانه کړې ده چې په ډېرو هیوادونو کې دښځو شمېره له نارینه وو څخه ډېره ده ، اوکه اسلام نارینه هم دښځې په څېرله یوې څخه له زیاتو ښځو سره له نکاح څخه منع کړی وای ، نو ډېرې ښځې بې مېړه پاتې کېدلې. داهم په هغه صورت کې چې ټول نارینه نکاح ته اړباسل شي اوکه په نارینه وکې هم داسې څوک پیداشي چې هغه نکاح نه کوي اونورنارینه هم له یوې څخه له ډېروښځوسره له نکاح څخه منع کړلی شي ، نودا د ښځو لپاره لوی زیان دی اولوی فسادترې جوړېږي.

په نړۍ کې په ډېرو جګړو کې نارینه وژل کېږي ،ښځې کونډې کېږي ، دنارینه وو شمېره کمېږي او دښځو شمېره ډېرېږي ،ددوی په هکله هم باید څه سوچ وشي او فکر وکړلی شي چې اوسنی افغانستان یې بېلګه ګڼلی شو.

د ښځو د ډېروالي له هدفونو څخه عمده هدف د نسل ډېروالی دی ،نارینه هر وخت د نسل ډېروالي ته چمتو وي او ښځه چې کله حامله شي ،نو بیا څه له پاسه نهه میاشتې او څلوېښت ورځې له بل حمل څخه بنده وي ،او دتې

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکولو په موده کې هم ډېرې لږې ښځې حمل اخلي ،چې دا موده ډېره اوږده وي.نو يوه ښځه ولې څو نارينه بې ځايه مصرف کړي.

همدا راز که يو نارينه له څلورو ښځو سره واده وکړي نو کېدلای شي چې په يوه کال کې څلور بچي وزېږوي او که يوه ښځه له څلور نارينه وو سره واده وکړي نو په همدې کال کې به يوکس دنيا ته راشي.او که همدا څلورکسان هر يو له څلور –څلورو ښځو سره واده وکړي نو په همدې کال کې به شپاړلس کسه دنيا ته راشي اوس جوته شوی ده چې په لوېديځ او اروپايي ټولنوکې د ښځو شمېره له نارينه وو څخه ډېره ده، په انګلستان کې د لومړۍ سر شمېرنې څخه ښکارېږي چې دولس لکه نهه شپيته زره درې سوه او پنځوس ښځې له نارينه و نه ډېرې دي.

په (۱۹۰۰م)کال کې په فرانسه کې څلورلکه دروېشت زره اوه سوه نهه ښځې له نارينه و څخه ډېرې وی.

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته په جرمني کې ښځو مظاهرې وکړې چې قانون دې نارينه وو ته د ښځو دزياتوالي اجازه وکړي ،ځکه چې ډېرې ښځې له مېړه څخه بې برخې وي.[1]

پادري نکسن، جان ملتن، ايزک ټيلر په ډېر اصرار سره د ښځو د زياتوالي پلوي کړې ده.

مستر ديون پور وايي :دښځو زياتوالی يوازې غوره نه، بلکې په دې کې ډېر برکت هم دی.

[1] الاسلام بلامذاهب دکتورمصطفی الشکعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکار یوائې په اسلام کې نه، بلکې د نړۍ په ټولو مذهبونو کې هم شته دی، عربو به له اسلام څخه وړاندې ډېرې ښځې کولې که څه هم سلو ته به ورسېدلې.

- حضرت ابراهیم(ع) د مصر له هاجرې(رض) او دخپل دتره لور سارېې(رض) سره واده وکړ.

- دحضرت یعقوب(ع) په شریعت کې ددوه خویندونکاح رواوه او هغوي(ع)خپله هم دوه خویندې په نکاح کړې وې.

لامک (نوح(ع)) دوه ښځې درلودې چې یو یې عاده اوبله صله نومیدله.[1]

په حد یث کې راځي چې سلیمان(ع) سل (۱۰۰)ښځې کړې وې په یهودیت کې د ډېرو ښځو نکاح روا ده.[2]

په انجیل کې د ډېرو ښځو حرمت نشته دی

مزامنه د نصاراواویوه ډله عقیده لري چې دښځوزیاتوالی روادی.دعیسایانو ډېرو مشرانو ډېر ډېر ودونه کړي دي او کوم عیسایي یا یهودي مشران چې د ښځوزیاتوالی حرام ګڼي اکثره خپل ژوند په زنا تېروي.

## یونانیانو بې شمېره ښځې کولې

[1] الاسلام بلامذهب\ دکتورمصطفی الشکعه.

[2] حقوق المراءة فی الاسلام عبدالقادرشبیة الحمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليسا شارلمان ته دغيرشرعي اولاد د پيدا کېدلوپه رواوالي اعتراف کړی دی. استاد محمد محي الدين عبدلحميد دمصري ورځپاڼوپه حواله ليکي.

په برېتانيه کې دعيسايانومشران د دکتورفيشري په مشرۍ راغونډ شول او پرېکړه يې وکړه چې د ښځوزياتوالي ته اجازه ورکړي ځکه دا ټول انسانيت ته ټولنيزي ګټې وربخښي او د ښځو زياتوالی دهغې ناروغۍ يوازينی علاج دی چې نن سبا غربيان اواروپايان پرې اخته دي ، اوټولنيز ه بدامني لکه يارانه،بې ځايه اړيکې ،دنسب ګډوډي د ماشوم بې کفالته پرېښودل يې منځ ته راوړي [1] که څه هم په اسلام کې خود ښځوزياتوالي روادی ،خوددې ترمنځ عدل لازمي بلل شوي دي، ابوهريرهؓ روايت کوي ،چې رسول الله(ص) فرمايي (څوک چې دوه ښځې لري ،يوې ته ډېر ميلان کوي اود دواړترمنځ عدل نه کوي، نود قيامت په ورځ به راشي اوپه يواړخ به کوږ وي. [2]

مرتضی مطهري ليکنې

له يوې ښځې څخه د ښځوډېروالي پر ښځوظلم نه، بلکې دا دښځوحق دی، او که داسې ونه شي نوډېري انجوني بې مېړه پاتې کېږي ځکه چې واده ته د چمتوښځوشمېره تل واده ته چمتونارينه وو څخه ډېروي اوښځوته د مېړه نه موندلوبحران يا کړکېچ تربل هربحران څخه ډېرسخت دي اوښځه يې تحمل نه لري .تجربو ثابته کړېده چې په کوم ځای کې نارينه ووته دیوې ښځې

[1] الاحول الشخصيه في الشريعة الا سلامية \ محمدمحي الدين عبد الحميد
[2] ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه له ډېرو سره د نکاح اجازه نه وي نو دا خلا (تشه)بیا وفانه، بلکې زنااو بداخلاقۍ ډکه کړېده.[۱]

بل دا چې ښځوته د میاشتنۍ ناروغي (حیض) حمل ،نفاس او. . . داولاد زېږولویا د نسل د تکثر دوره ډېره محدود کړې ده په داسې حال کې چې نارینه هروخت د نسل تکثرته چمتودي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

[۱] نظام حقوق زن دراسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښځو ترمنځ عدل

که چېري دچا له یوې څخه ښځې ډېرې وي، نودا یې د ښځوحق دی چې ددوی تر منځ له عدل څخه کار واخلي(الله(ج)) فرمایي : (فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً) النساء:۳

یعنې:پس که وېرېدئ چې انصاف به ونه کړلی شئ، نو یوه کوئ.

د ښځو ترمنځ به په وېش ،نفقه ،جامه ،او. . . کې له انصاف څخه کار اخلئ څومره شپې چې له یوې سره کوئ له بلې سره یې هم کوئ ، دزړه مینه چې دده په واک کې نه ده الله(ج) یې پرې نه نیسي حضرت عایشه(رض) روایت کوي چې رسول الله(ص) به د ښځوترمنځ وېش کې عدل کاوه اوویل به یې (یا الله(ج)) دازماوېش دی په هغه څه کې چې زما په واک کې دي اوپه هغه څه مې مه نیسه چې ستا په واک کې دي ، او زما په واک کې نه دي.[1]

حضرت عمر رضي الله عنه رسول الله(ص) ته وویل که ماته اجازه راکړې چې حفصې(رض) ته ووایم چې دادې تاته زورنه درکوي ، چې ستا ګاونډۍ (عایشه) رسول الله(ص) ته ډېرګرانه ده ، رسول الله موسکی شو.[2]

د شپو اندازه په شریعت کې ټاکل شوې نه ده اونه دا واجب ده چې لومړۍ شپه له چاسره سبا کوي له کونډې سره که له پېغلې سره له ځوانې سره اوکه له زړې سره اوکه څوک د شپې کارکوي نودا نوبت به د ورځې مرعاتوي ، اوله یوې سره به له بلې څخه ډېر شپې نه کوي ، خوکله یې چې بنه یې په دې

---

[1] بخاري ، مسلم ،ترمذي، فتح الباري، اوبیهقي
[2] بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه وي حضرت سودې(رض) خپل نوبت حضرت عايشې(رض) ته بخښلی و.[۱]

الله(ج) فرمايي: (وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلاَ تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ) النساء۱۲۹

يعنې: اودښځوپه منځ کې په ټوله معنا عدالت ستاسې په وس کې نشته دی که تاسې وغواړئ هم نه يې شئ کولی له دې امله د يوې ښځې لور ته دومره ميلان مه کوئ چې هغه بله بې سرنوشته پرېږدئ.

الله ج په خپله فرمايي چې انسان په ټولو حالاتو کې د ښځو ترمنځ په هر اړخيزډول عدالت نشي کولی ځکه چې کېدای شي يوه يې ښکلې وي بله بدرنګه يوروغه وي بله ناروغه يونېکه وي اوبله بداخلاقه چې يوې ته په طبعي ډول دانسان تمايل اومينه ډېره وي اوبلې ته کمه نوالله ج داهرو مرو لازمي نه ونه ګڼله چې په مينه او محبت اوجسمي اړيکو کې دې له ټولو سره مساوات وشي. يولورته ميلان فطري خبره ده خوداسې هم نه چې هغه بله دې بې سرنوشته پرېښودل شي اوداسې وي لکه بېخي چې مېړه ونلري.رسول الله(ص) به حتی د مرګ په شېبو کې هم عدالت کاوه او دهرې ښځې به چې نوبت و هماغه کره به ورته،که دی به د ناروغۍ له امله نشو ورتللی نونوروته به يې امر کاوه چې ورکره يې بوځي حضرت عايشه(رض) فرمايي چې رسول الله(ص) به د شپو په وېش کې موږ يو پر بلې غوره نه بللو او له ټولو سره به يې برابر چلند کاوه داسې به ډېره کمه پېښېدله چې دی مبارک دې په يوه ورځ کې په ټولو بيبيانو ونه ګرځي او له هغوې سره دې مينه ،تفقد اومهرباني ونه کړي خو د شپې به هاغې بي بي کره چې نوبت به

[۱] بخاري، مسلم، ترمذي، ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې و ورتلل او که بلې کومې يوې کره به ورتلل نو له نوبت ولا څخه به يې رسمي اجازه غوښتله او که اجازه به يې ورنه کړه نو نه به ورتلل زه په خپله داسې وم چې هيڅکله مې هم اجازه نه ورکوله چې زما نوبت کې بلې بې بې کره ورشي حضرت علي کرم الله وجهه به ان اودس هم د هغې مېرمن کره کاوه ،د چا به چې نوبت و. دښځو تر منځ د عدل په مسئله کې يوه خبره دا ،که ښځې ټولې مسلمانې وي اوکه ځينې يې د کتاب لرونکو نورو پرګنو څخه وي اوداحنافو په نزد د نوې واده شوې او پخوانۍ ښځې تو پير نشته دی او شافعي ،مالکي او احمد بن حنبل(رح) په نزد نوې واده شوې که پېغله وي نو اوه (۷) ورځې او شپې اوکه کونډه وي نو درې ورځې او شپې به ورته ځانګړې (خاصې) کړي او که غوښتل يې چې يوه يې له ځان سره سفر ته بوزي، نو هره يوه چې يې خوښه وي بېولی يې شي ،ځکه چې سفر تکليف دی، مرستې او همکارۍ ته اړه لري اوښايي يوه له بلې څخه ډېر توان او طاقت ولري ،خو داحنافو په نزد غوره داده چې پچه (قرعه)واچوي او شافعي او احمد(رح) وايي چې يا به پچه اچوي اويا به د بلې رضا اخلي.[1]

او دامام مالک (رح) دوه قوله دي يو د احنافو په څېر اوبل د شافعي او احمد(رح) په څېر دی اوخومره يې چې توان رسېږي ، ټولې به خوشحاله ساتي ،ان دزړه په ميل او مينه کې به د مساواتو کوښښ کوي او يوه به د بلې د خوشحالولو لپاره نه وهي. ابوهريره ﷺ روايت کوي چې رسول الله(ص) فرمايي (څوک چې دوه ښځې لري او عدل نه کوي اويوې ته ډېر ميلان کوي ،نود قيامت په ورځ به راشي او په يو اړخ به کوږ وي).[2]

---

[1] الميزان للشعراني.
[2] ابوداود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ښځه خپل وار بلې ښځې (بنې) ته بخښلی شي ،اوبېرته یې اخستلای هم شي ،لکه څنګه چې حضرت سودې(رض) خپل وار حضرت عایشې(رض) ته بخښلی و.[1]

اوکه خاوند د ښځې پوره حقوق نه اداکول او عدل یې نه کاوه.نو ښځه قاضي ته هم مراجعه کولای شي ،چې خاوند ته تعزیر ورکړي او کله که قاضي ته د خاوند ظلم جوت شي.نو هغه دې ورتې او تعزیر دې ورکړي ،خو د احنافو په نزد ددواړو بېلتون راوستلای نشي او امام مالک(رح) وایي: که ښځې دعوه وکړه ،چې خاوند یې تکلیفوي او زیان ورته رسوي او قاضي ته جوته شي او دا زیان او ناخوالې داسې وي چې د هغوی ترمنځ اوسېدنه اویوځای ژوند یې له خطره سره مخ کړی و ،او قاضي خورا له اصلاح څخه عاجز شوا و ښځې هم طلاق وغوښت ،قاضي یې طلاقولی شي .

## ۱. ددوه خویندو په یوه نکاح کې راوستل

ددوو خویندو په یوه نکاح کې راوستل حرام دي ،خو کله چې یوه جلاشي : (وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ) النساء۲۳.

یعنې: او(حرام ده) دا چې ددوه خویندو تر منځ یوځای والی راولئ.

همدا راز په یوه نکاح کې ددوه وهغو ښځو تر منځ یوځای والی روانه دی ،چې که یوه یې نارینه فرض کړو ،د بلې نکاح ورسره حرامه ده لکه ښځه او دهغې خاله چې که هریوه یې نر فرض کړو ،نو دبلې نکاح ورسره حرامه ده .

---

[1] بخاري ،مسلم ،ترمذی اوابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا را ز د ښځې او دهغې د ترور يو ځای والی روا نه دی ،ځکه چې که ترور يې نارينه فرض کړو ،نو دانجلۍ يې وربره شوله او دا ددې انجلۍ تره شو چې ددوی نکاح يوله بل سره حرامه ده نو ددوی يو ځای والی هم په يوه نکاح کې حرام دی).[۱]

د هغو ښځويو ځای والی روانه دی چې خپل منځ کې يې نکاح حرامه ده نو : اياد نکاح داحرمت به ددوی تر منځ له دواړو خواوو ثخه وي او که له يوې خوا ثخه مثلا :موړوليدل چې دخورزې او خاله تر منځ يوځای والی حرام دی ځکه چې که خاله نر فرض کړو نو ددې انجلۍ ماما شو ،نو دخور لور پرې حرامه ده او که د خور لور يې نر فرض کړو نو خاله پرې حرامه ده ،نو دا حرمت ددواړو خواوو ثخه دی او که حرمت له يوې خوا ثخه وي پدې معنی چې که يوه نر فرض کړونو د بلې نکاح ورسره حرامه ده ،او که دا بله بيا نر فرض کړو نو ددې لمړنۍ نکاح ورسره حرامه نه ده مثلا :يوه انجلۍ او دهغې د پلار ښځه (ميره يې)نو که چېرې دا انجلۍ نر فرض کړو ،نو د پلار دښځې (ميرې)سره يې نکاح حرامه ده او که د پلار ښځه يې نر فرض کړو نو د خپل ميړه لور (پرکتۍ)پرې حرامه نه ده چې له همدې ښځې ثخه نه وي او د ميړه له بلې ښځې ثخه يې وي ،نو ايا ددوی يو ځای والی روا دی ؟

امام زفر(رح) وايي چې دا يوځای والی روانه دی.[۲]

او پاتې علماء وايي چې د يوځای والی روادی ، ځکه چې هغه يوځای والی روا نه دی چې حرمت د نکاح يو له بل سره له دواړو خواوو ثخه ثابت وي.[۱]

---

[۱] بدائع الصنائع ،المغني ،نيل الاوطار،المجموع شرح المهذب اوشرح مسلم للنووي.
[۲] بدائع الصنائع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محرماتو د یوځای والي په هکله رسول الله(ص) فرمایي (لاتنکح المراة علی عمتها ولاالعمة علی بنت اخیها ولا المراة علی خالتها ولا الخالة علی بنت اختها).[۲]

یعنې : نه دې شي په نکاح کولی ښځه په ترور د هغې او نه ترور په وریرې د هغې او نه ښځه په خاله د هغې اونه خاله په خورزې د هغې.

همدا راز(نهی رسول الله(ص)) :ان تنکح المراة علی عمتها اوخا لتها).[۳]

یعنې :منع کړې ده رسول الله(ص) له دې نه چې په نکاح شي ،ښځه په خپله ترورا ویا په خپلې خاله.

خوارج وایي چې یوځایوالی یوازې دووخویندواودموراودلورحرام دی دنورو خپلوانو ترمنځ یوځای والی لکه دتره دلورګانو یا دماما دلورګانو یا دترور د لورګانو ،د ټولوفقهاءو په نزد روادی ،خو مکروه دی. اودتحریم او کراهت لامل دادی چې ددوه بنو ترمنځ هر وخت جنګ ،جګړې ،تاوتریخوالی، ناخوالې ،کشمکش او جنجال وي[۴]

اوهره یوه د بلې سره رخه (حسد) او کینه ساتي نو که ددوی تر منځ په نکاح کې روا والی وشي یا دواړه د یو سړي په نکاح وي نو د دوستانو تر منځ الفت ،مینه او محبت به په کرکې، حسد ، کینې او نفرت بدل شي ،نو هغه غرض چې د هغه لپاره نکاح روا شوې ده له منځه ځي رسول الله(ص)

---

[۱] المبسوط ،المغني اوالمجموع شرح المهذب.
[۲] متفق علیه.
[۳] بخاري.
[۴] الاحوال الشحصیه في الشریعة السلامیة \محمد محی الدین عبدالحمید.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمايي:(فانکم اذافعلتم ذلک قطعتم ارحامکم)يعنې :که دا کار مو وکړ،نو ستاسو ترمنځ به صله رحمي غوځه شي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. هغه چې مېړوخې دي

کومې ښځې چې مېړونه لري او طلاقې کړې يې نه وي نو بل ته يې نکاح حرامه ده او که مېړونه يې مړه شول او يا يې طلاقې کړلې او عدت يې پوره شو بيا يې نکاح روا ده الله(ج) فرمايي : (وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ) النساء ۲۴.

يعني :حرامې دي(پرتاسو) مېړوخې ښځې مګر د کومو چې مالکان شئ ستاسو ښي لاسونه.

نو دلته يې وينځې مستثنی کړلې ځکه چې هغه کله په جنګ کې ونيول شي، نوله مېړه سره يې اړيکې غوڅې شي ،او بېلتون راشي ،او د مېړوخو ښځو په حرمت کې حکمت د نسب ساتنه ده اوبل دا چې ددوی په نکاح کې جنجال، کشمکش او تولنيزه بې نظمي رامنځ ته کېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

## ۳. هغه ښځې چې په عدت کې وي

په هغه ښځوچې له مېړه څخه جلا شي (خاوند يې مړشي يا يې طلاقه کړي) عدت تېرول لازم دي یعنې يوڅه موده دې بې له واده څخه انتظاروکړي ،چې د انتظار په دغه موده کې ددوی نکاح کول حرام دي الله(ج) فرمايي (وَلاَ تَعْزِمُواْ عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىَ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ) البقره ۲۳۵

یعنې : اوقصد مه کوئ تاسوعقد دنکاح ترهغه پورې چې ورسېږي هغه نېټه مقرره دخدای(ج) اخرخپل ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داد هغه چاپه هکله چې مېړونه يې مړه شوي وي اود طلاقې شوې ښځې په هکله فرمايي : (وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ) البقره ۲۲۸

يعنې :اوطلاقې شوې ښځې دې په انتظار کې لري ،خپل ځانونه تردرې حيضوپورې.

اود معتدې (هغه ښځې چې په عدت کې وي) دنکاح حرمت په اتفاق سره ثابت دی.).[۱]

اوکه چاله کومې ښځې سره په عدت کې نکاح وکړله نود جمهوروعلماوو(حنفي ،شافعي ، حنابله اوظاهريه و) په نزد پرې نه حرامېږي دوی به جدا کولی شي اوکله چې عدت يې پوره شي نونکاح ورسره کولی شي ،دوی يې قياس په زناکاربانديې کوي.[۲]

او دامام مالک ، اوزاعي اوليث په نزد اوپه يوروايت کې له امام احمد(رح) څخه داپرې د تل لپاره حرامه ده اوداسې فيصله حضرت عمرؓ هم کړې ده.[۳]

حضرت عمرؓ وويل : لاتجتمعان ابداً.[۴]

يعنې : دوی نه شي يوځای کېدلای دتل له لپاره .

يا په بل عبارت دوی هېڅ وخت نه شي يوځای کېدلای.

---

[۱] بدائع الصنايع
[۲] المغني او المحلي
[۳] بداية المجتهد اوالخرشي علي مختصرخليل
[۴] موطاامام مالک

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ښځه چې مېړه يې درې طلاقه ورکړي ، نو دا پرې حرامه شوله نه ورته رجوع کولی شي او نه د نکاح تجديد ، خو هغه وخت چې بل مېړه وکړي او هغه ورسره صحيح خلوت وکړي لکه عادي نکاحګاني بې قيد شرطه او بيا يې هغه مېړه مړشي او يا يې په خپله خوښه طلاقه کړي نو بيا ده ته روا ده چې په نوي عقد او نوي مهر يې نکاح کړي.الله(ج) فرمايي: (فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىَ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يَتَرَاجَعَا إِن ظَنَّا أَن يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ وَتِلْكَ حُدُودُ اللّهِ) البقرة: ۲۳۰

يعنې.بيا که چېرې دا ښځه يې طلاقه کړله (دريم ځل)نو اوس روا نده ده لره (دغه ښځه) د هغې څخه پس تر څو پورې چې نکاح وکړي له بل خاوند سره بيا که طلاق ورکړ دويم خاوند نو څه ګناه نشته پدې داوړو چې يو تر بله يو ځای شي که خيال يې لرلو چې ټينګ به وساتي حکم د الله(ج).

## له کونډو سره نکاح ته هڅونه

که څه هم اسلام نارينه له پېغلو سره نکاح ته هڅوي خو له کونډو سره نکاح له اجر او ثواب څخه خالي نه ده الله(ج) خپل رسول ته د (ثيبت وابکارا)يعنې کونډو او پېغلو دواړه يادونه کړېده.[1]

او که څوک پدې غرض له کونډوسره نکاح کوي چې د هغې او دهغې د اولاد پالنه وکړي نو دا عيناً عبادت دی.يو بل ناوړه دود چې زموږ په ټولنه کې يې ځای موندلی دی هغه دادی چې زموږ اکثره ځوانان له کونډو سره که څه هم ځوانه وي واده ته زړه نه ښه کوي همدا راز زموږ د ټولنې اکثره

[1] تحريم ۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کونډې هم د رواج ،دود ،.دستوراو پښتني پېغور له مخې دوهم واده تـه زړه نه ښه کوي ،که څه هم ژوند یې ډېر تریخ وي.د اکثرو ظاهري پلمه داوي چې دوهم واده ځکه نه کوي چې له لومړي مرحوم مېړه سره وفا وکړي. باید وویل شي چې کونډې ته چې له لمړي مېړه سره د وفا کومه موده الله(ج) ټاکلې ده هماغه بس ده.الله(ج) له بنده څخه ډېر غیرتي ،وفادار ،حکیم او پوه ذات دی دا موده څلور میاشتې او لس ورځې ده الله(ج) پـه دې هکله فرمایي :
(وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ) البقرة۲۳۴.

یعنې :او هغه کسان چې مړه شي لـه تاسو څخه او پرېږدي دوی ښځې. انتظار دې کوي دا ښځې [له نکاح کولو څخه ] پـه ځانوخپلو څلورمیاشتې اولس[ورځې ] .

په صدراسلام کې به داسې ښځې ډېرې کمې وموموچې کونډې شوي وي او بیا یې حتی دویم او دریم واده هم نه وي کړی د رسول الله(ص) د خپلې کورنۍ غړي هم همداسې و پـه هغوی کې زموږ څخه غیرت هم ډېرو او د اسلام په روح او مفهوم هم ښې پوهېدلې علماء وایي چې :هغه ښځه وفاداره نده چې د لومړي مېړه له مړینې څخه وروسته له بل سره واده ونـه کړي بلکې هغه ښځه وفاداره ده چې دمېړه په ژوند کې یې د زړه مارغه د بل چا پـه دام کې نه وي ننبتی.

په خپله د رسول الله(ص) بیبیانې له حضرت عایشې(رض) څخه پرتـه نورې ټولې کونډې وې حتی ځینو یې له رسول الله(ص) څخه مخکې دوه ودونه هم کړي وو.تاسې وګورئ پـه خپلـه د رسول الله(ص) دکورنۍ غړو نارینـه او ښځینه دواړو له کونډو نارینـه او کونډو ښځوسره ودونـه کړي دي.حضرت

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماء لومړی له جعفر طیار رضی الله عنه بیا له حضرت ابوبکر صدیق رض او بیا له(حضرت علي) سره واده وکړ،درسول الله(ص) نمسۍ د حضرت حسین لور د حسن له مړینې وروسته له عبدالله ابن عمر او بیا له ابن عثمان سره واده وکړ.د حضرت علي ٍرضً لور فاطمې درې مېړونه کړي و.لبابه د عبیدالله ابن عباس لور لومړی له ابوالفضل بن عباس او دهغه له مړینې وروسته له زید بن حسن بن علي سره واده وکړ.د علي کرم الله وجهه لور میمونې په کربلاکې د خپل مېړه عبد الله ابن عقیل بن ابي طالب له شهادت وروسته له عبد الله ابن شمامه ابن عباس سره واده وکړ.دا په خپله د نبوي ډیوې پتنګان او د سپېڅلي کورنۍ غړي دي نو ویلای شو چې له کونډې سره نکاح یا کونډې ته دوهم واده نه شرعا بد کار دی او نه عرفا اونه دا په ځوانۍ ،مروت او وفاکې شمېرل کېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## د نکاح څو ډولونه او احکام يې

### الف: له کافر سره نکاح

اسلامي شریعت نارینه وو ته اجازه کړې ده چې د اسماني دين له منونکو سره نکاح وکړي په دې موجوده عصر کې درې اسماني شريعته (اسلام ،يهوديت او نصرانيت) موجود دي ،او نارينه وو لپاره روا دي چې په دې درې ډلوکې له هرې يوې سره چې وغواړي واده وکړي او هغه چې اسماني دين نه لري ،لکه مجوس ،بت پرست او داسې نور له هغو سره نکاح حرامه ده.

او د مسلمانې ښځې لپاره له مسلمان څخه پرته له بل چا سره نکاح روا نه ده، که څه هم د کتاب خاوند وي د مشرکوښځو سره د نکاح په هکله الله(ج) فرمايي : (وَلاَ تَنكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ) البقره۲۲۱

يعنیً: او په نکاح مه اخلئ مشرکې ښځې.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مشرکانو ته د مسلمانې ښځې د نکاح ورکولو په هکله فرمايي : ( وَلاَ تُنكِحُوا ْ الْمُشِرِكِينَ) البقرة۲۲۱.

يعنې اوپه نکاح مه ورکوئ مشرکانو ته (لورګانې اوخويندې خپلې.

(لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ) الممتحنة : ۱۰.

يعنې : نه هغه مسلمانې ښځې هغه کافرو سړيو ته حلالې دي اونه هغه کافر سړي مسلمانو ښځو لره حلال دي.

(وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ) الممتحنة: ۱۰.

يعنى :اومه ساتئ پخپله قبضه کې ناموس دکافرو ښځو .

اوله مسلمانو سره د کتابيې دنکاح په هکله فرمايي :( وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ) المائده :۵

يعنى:اوپاکې ښځې له هغو کسانو سره چې ورکړل شوي دوى ته کتاب مخکې له تاسو څخه.

اوله کتابيې سره نکاح جايز ده ،څکه چې ښځه کمزورې وي ژر د اغيزې لاندې راځي ،اونارينه د تاثير خاوند وي ،کېدلاى شي ،ښځه دهغه له وېرې ياله هغه سره د محبت له کبله ايمان راوړي لکه چې ډېر څله داسې شوي هم دي او دښځې نکاح هم له کافر سره له همدې امله حرامه شوه.الله(ج) فرمايي :(أُوْلَـئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ) البقره ۲۲۱.

یعنې: دوى اورته بلنه کوي:

او: ((ولن یجعل الله للکفرین على المؤمنین سبیلاً))

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې: او له سره نه ده ګرځولې الله تعالی لپاره د کافرانو پر مومنانو کومه بالادستي.

ځینې علماء وايي چې له اهل کتابو ښځو سره نکاح مکروه ده او عبد الله بن عمرؓ وايي چې دا نکاح حرامه ده اود : (وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ) څخه مراد هغه ښځه اخلي چې ایمان يې راوړی وي له دوی ځنې.

او له یهودو اونصاراوو څخه پرته له نورو اهل کتابو سره لکه هغه چې ایمان پر زبور یا پر صحیفو د ابراهیم ،شیث(ع) او داسې نورو لري د نکاح په هکله دوه قوله دي امام ابو حنیفه(رح) اویو روایت کې له امام احمد(رح) څخه دا نکاح صحیح ده.[1]

امام شافعي ،صاحبان(رح) او په بل روایت کې له امام احمد(رح) څخه دا نکاح صحیح نه ده.[2]

او له صابیې سره نکاح دامام ابو حنیفه(رح) په نزد رواده ځکه دوی اهل کتاب دي، اسماني دین مني او دستورو عبادت او بندګي نه ،بلکې احترام يې کوي.

امام شافعي اوصاحبان(رح) وايي :چې له صابیې سره نکاح روا نه ده.[3] ځکه دوی د ستورو عبادت کوي اوصحیح قول هغه دی چې ابن قدامه وايي: که دوی له یهودو اونصاراوو سره ددین په اصولو کې لکه تصدیق درسولانو اوایمان په کتابونو موافق وو ،نودا اهل کتاب دي ،اوکه له دوی سره ددین

[1] بدائع الصنائع اوالمغني.
[2] بدائع الصنائع ،المغني اوالمجموع شرح المهذب.
[3] بدائع الصنائع اوتحفةالمحتاج.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصولو کې برابرنه وو نوددوی نکاح روا نه ده.[۱] او که له مور او پلار څخه یې یو اهل کتاب او بل مجوسي و نو د هغې نکاح هم روا ده.[۲]

هغه وینځه چې کتابیه وي د امام شافعي او حنابله و(رح) په نزد نکاح ورسره صحیح نه ده.[۳] او بادار ته یې روا ده او امام ابو حنیفه(رح) وایي چې د کتابیې وینځې نکاح روا ده.[۴]

## ب: متعه او موقتي (لنډ مهالې)نکاح

### متعه

متعه فایدې اخستلو ته وایي ،او داسې صورت نیسي چې سړی کومې انجلۍ ته ووایي چې مثلاً څوورځې له تا څخه په سل روپۍ ګټه اخلم یا ترڅوچې زه په دې ښار کې اوسېږم له تا څخه په زرروپۍ جنسي فایده اخلم او هغه یې ومني.

www.melitahrik.com 0777 400 116

### موقته نکاح

هغه ده چې څوک کومې انجلې ته ووایي چې ته له ما سره د یوې میاشتې لپاره واده وکړه او دومره مهر به درکړم او هغه یې ومني.په دې نکاح کې به دنکاح ټول شرطونه لکه شاهدان ،مهر،ایجاب او قبول پوره وي او د مودې ټاکل ضروري دي.

---

[۱] المغني لابن القدامه.
[۲] الاشباه والنظائر،ابن نجیم.
[۳] رحمة الامة ،المغني او المجموع شرح المهذب.
[۴] بدائع الصنائع او فتح القدیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د متعي اولنډ مهالي نکاح توپير

۱. په متعه کې شاهدان ضروري نه دي اوپه موقتي نکاح کې ضروري دي.

۲. متعه به د تمتع (فايده) په لفظ وي په نوروبه نه وي اوموقتي نکاح په زواج ،نکاح اونوروالفاظوچې همدا مفهوم لري هم صحيح کيږي.

۳. دوخت اومودي ټاکل په متعه کې شرط نه اوپه موقتي نکاح کې شرط دي.

## د متعې او لنډې مهال نکاح حکم

متعه په ابتدا د اسلام کې روا وه بیاوروسته منع اوحرامه کړل شوه اوټول فقهاء يې په حرمت متفق دي اوله روافضو اوشيعه اماميه و څخه پرته هېڅوک يې هم روانه ګڼي.[1]

دوی وايي چې ډېرو صحابه و لکه علي ،عبدالله بن عباس ،ابن مسعود ،ابی بن کعب ،عمران بن حصينؓ دې ته روا ويلي دي ،خوعليؓ خپله وايي : ان حل المتعةقد نسخ.[2]

يعنی :يقينا دمتعې حلالول منسوخ شوي دي.

ابن رشدوايي،چې د متعې حرمت له رسول الله(ص) څخه په تواتر سره ثابت دی.[3]

[1] الاعتبارفي ناسخ والمنسوخ من الاثار\محمدبن موسی الهمداني ،کاشف الغطا،کشف الاسرار،ايه الله خميني اين است ائين ما\فقيد محمد حسين اومختصرالنافع.

[2] تحفةالمحتاج ،المهذب ،الخرشي اونيل الاوطار.

[3] بد اية المجتهد.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عمرؓ وايي : رسول الله(ص) د متعې اجازه موږ ته درې ځله کړې وه ،بیایې حرامه کړله په خدای(ج) سوګند نه پوهېږم چې بیا به چا متعه کړې وي او هغه واده والا وي ،مګر په تیګو ویشتل شوی دی.[1]

د سبرة الجهنيؓ څخه روایت دی چې رسول الله(ص) فرمایي :(یاایها الناس اني کنت قد اذنت لکم في الاستمتاع من النساء وقد حرم الله ذلک الی یوم القیمة).[2]

یعنیً: ای خلکو یقینا زه وم چې تاسو ته مې اجازه کړې وه په فایده اخستلو له ښځو څخه (په متعې) او بېشکه حرام کړ الله(ج) دا کار د قیامت تر ورځې پورې.

له حضرت عليؓ څخه روایت دی چې رسول الله(ص) د خیبر په غزا کې له متعې څخه او د کورنیو خرولـه غوښو څخه منع کړې ده.. بخاري او مسند احمد، امام بیهقي په سنن الکبری کې له ابن عباسؓ څخه نقلوي چې (المتعة هی حرام کالمیتة والدم ولحم الخنزیر)

یعني متعه حرامه ده لکه مړه او وینه او د خنزیر غوښه.

الله(ج) فرمایي : (وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ) المومنون : ٥.

یعني : او هغه کسان چې د خپلو شرمګاهو ساتونکي دي همدارازفرمایي : (وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا ) النور: ۳۳.

یعني:او ښايي چې ځان وساتي هغه کسان چې نه مومي (توان)د نکاح.

---

[1] ابن ماجه.

[2] مسلم او مسند احمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مِّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم) النساء:۲۵.

يعنې: او څوک چې په تاسو کې نه لري توان د دې چې نکاح وکړي له بيبيانو مسلمانانو سره نو نکاح دې وکړي له هغه ښځو سره چې چې ستاسو دلاس مال دی.

نو څوک چې په صحيح عقد او نکاح کې ښځه نه لري ،نو په پاکۍ او ځان ساتنې حتی له وينځو سره په نکاح مامورشوي دی. که متعه روا وای الله(ج) به ورته د متعې امر کړی و.

او موقتي نکاح هم دمتعې په څېرباطله ده او له امام ابوحنيفه (رحمة الله عليه) څخه يو روايت شوی دی که چېرې په موقتي نکاح کې دومره وخت وټاکل شي چې غالبا انسان پکې مړکېږي لکه سل کاله نو دا عقد صحيح دی، ځکه چې دامعناً ابدي او دتل لپاره عقد دی ،خو دا روايت کمزوری دی.

www.melltahrik.com 0777 400 116

## د همېشنۍ نکاح ګټې

اسلام يو ريښتونی دين دی او دهرچا مصالح (ښېګڼې) په نظر کې نيسي ،که چېرې په موقتي ډول نکاح روا شوې وای او وروسته ښځه او خاوند سره بېل شي او يا خاوند ښځه وشړي ،نو په دې کې دښځې او کورني نظام دوارو لپاره ډېرډېر زيانونه ليدل کېدل ،مثلاً :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. که اولاد پلار واخلي ،نود مور له ترحم او شفقت ،روزنې او تربيې څخه بې برخې پاتې کېږي اود مور روزنه د کوچنې لپاره حتمي ده ،اوکه اولاد مور واخلي نو د پلار له ترحم ،شفقت او مينې څخه محرومېږي.

۲. داکوچنی به په ټولنه بوج وي ځکه دهغه د لګښت ،خوراک ،جامواوروزنې لپاره څوک تيار نه وي.

۳. کله چې په ځوانۍ کې ښځه ښکلې وي د هر چا رغبت ورته کېږي ،چې هغه خپلې غېږی ته راولي اودهغې د ښکلا له خوږو څخه خوند اومزې واخلي ، خوکله چې زوړ اوښکلا يې ختمه شي نوبيا هېڅوک دې ته غاړه نه ږدي چې دا پنډ دې پورته کړي اودتل لپاره دې د هغې خدمت ،نفقه ،دارو اودرمل پر غاړه واخلي.اومور،پلاراو ورونه هم ورسره تنګ شي،نواسلام نکاح د تل لپاره وګرځوله چې که څوک د کومې ښځې دځوانۍ ،دښکلا اوخوږو څخه خوند اخلي نو هغه دې په زوړوالي کې هم ساتي اوهمدا د سليم فطرت تقاضا هم ده.نن صبا موږ وينو چې په لوېديځ، اونورو اروپايي اونورو تش په نامه پرمختللو هيوادونوکې په ځوانۍ کې له ښځې څخه خوند اومزې اخستل کېږي ،اودخپلو غوښتنو قرباني کوي يې اوبيايې په زوړ والي کې داسې پرېږدي لکه چې دوه څاروي د خپلو جنسي غرايزو د اشباع لپاره يوځای شي اوبيا د خپلو غوښتنو له پوره کولو وروسته بېل شي اوبيا هر يو پخپله مخه ځي او دا ښځو ته لوی زيان اوهغوی پورې ملنډې وهل دي ،نو له همدې امله هلته هرکال په زرګونو ښځې ځانونه وژني.

## ج: د شغار (بدل) نکاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



شغار د شين په زير سره خالي ځای ته وايي لکه چې عرب وايي :شغرت البلد ،يعنې ښار له اوسېدونکو څخه خالي شو

هذا عمل شاغريعني :دا کار خالي دی.کله چې هېڅوک هغه کار نه قبلوي اودې نکاح ته شغارځکه وويل شوچې له مهر څخه خالي وي.[1]

ځينې وايي چې شغار په لغت کې پورته کولوته وايي ،کله چې سپی پښه د حاجت لپاره پورته کړي،نووايي (شغرت الکلب) اوددې نکاح د سپکوالي او غندنې لپاره په دې نوم ونومول شوه.[2]

په جاهليت کې يوډول نکاح وه چې شغار به يې ورته ويلې،پدې ترتيب چې يوسړی به خپله لور ياخوربل تن ته په دې شرط ورکړله چې هغې به هم خپله خور يالور ده ته په نکاح ورکوي اوهر يوبه دخپلې ښځې د مهر بدل ورکړل شوي انجلۍ وګرځوله.

مګر اسلام دامنع کړل حضرت عمر(ص) روايت کوي چې ان رسول الله(ص) نهى عن الشغار.[3]

يعنې: يقيناً رسول الله(ص) فرمايي :(لاشغارفي الاسلام)[4]

يعنې:نشته شغارپه اسلام کې.

مګر کوم بدل چې نن سبا زموږ په ټولنه کې رواج دی.دا شغارنه بلکې سيې نکاح ده اوکه چېرې داسې وشي چې يوه د بل مهر و ګرځول شي نو

---

[1] ترمذي اونيل الاوطار.
[2] القاموس المحيط اولمغني لابن قدامه
[3] صحاح الستة اونيل الاوطار.
[4] مسلم اومسند احمد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام شافعي(رح) وايي : دا نکاح باطله ده اوپه مسلمانانو واجب دي چې دوی سره بېل کړي که دخول يې شوی وي اوکه نه شوی.[۱]

او همدا سې يو روايت له امام حنبلﷺ څخه هم دی دليل يې دادی چې عبدالرحمن بن هرمزالاعرج روايت کړی دی چې عباس بن عبدالله بن عباسﷺ خپله لورعبدالرحمن بن الحکم ته په نکاح ورکړله اوعبدالرحمن خپله لورعباس ته په نکاح ورکړله اودواړو خپلې لورګانې يو دبل مهر وګرځولې نومعاويه ابن ابي سفيان(رح) مروان بن الحکم ته وليکل چې دوی يوله بل نه بېل کړئ.[۲]

امام مالک(رح) وايي،چې په دې نکاح کې له دخول څخه وړاندې جدايي راوستلی شي،خوله دخول څخه وروسته يې نه شي راوستلی.[۳]

امام ابوحنيفه(رح) اوملګري يې وايي دا هغه نکاح ده چې باطل شرط ورسره يوځای شوی وي ،يعنې عقد اونکاح سيې دی مګرشرط باطل دی او دواړو ښځوته مهر لازمېږي ،ځکه چې په دې نکاح کې هغه څه مهر شول چې مهر کېدلای نشي ،چې هغه انسانان دي اومهر بايد متقوم (ارزښتمن)مال وي.[۴]

---

۱ مغني المحتاج اوالمغني.
۲ ابوداوداومسنداحمد.
۳ الخرشي على مختصرخليل.
۴ بدائع الصنائع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حنابله و مشهورقول دادی چې که پدې شرط يې ورکړله چې هغه به هم خپله لوریاخور ده ته په نکاح ورکوی نو داصحبح نه ده ځکه چې په فاسد شرط پورې يې اړوند کړله چې هغه ده ته دبلې ورکول دي.[1]

## د: وینځې سره نکاح

لکه چې مخکې مو وویل ،کومه ښځه چې په جنګ کې ونیول شي اومېړوښه وي نوله مېړه سره يې اړیکې غوځې شي اومسلمانانوته روادي چې له داسې ښځوسره نکاح وکړي.الله(ج) فرمايي: (فَمِن مِّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ) النساء :۲۵.

یعنې: نو نکاح دې وکړي د هغوسره چې ستاسې د لاس مال وي چې ستاسې وینځې دي مسلمانانې.

اودهمدې ایت په پای کې فرمايي :( ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ) النساء :۲۵.

یعنې :داپه دې وجه چې څوک په تاسوکې وېرېږي له تکلیف ورپېښېدلو څخه.

فقهاء په دې ایت کې د (طول) په تفصیل کې ډېر اختلاف لري چې په لنډ ډول يې دلته یادونه کوو:

۱.د امام ابوحنیفه(رح) په نزد هراصیل اومریې سړي ته روادي چې اصیله ښځه يې نه وي نوله وینځې سره نکاح وکړي که دا وینځه مسلمانه وي اوکه کتابیه وي اوهر اصیل او مریې ته روا نه دي چې اصیله ښځه ولري او له

[1] المغني اولمختصرفي الفقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينځې سره نکاح وکړي،نود احنافو په نزد هر چاته روا ده چې له وينځې سره نکاح وکړي خو چې اصيله ښځه ونلري ،يعنې د وينځې نکاح په اصيلی روا نه ګڼي.[1]

او که څوک اصيله ښځه ونلري که څه هم داصيلې سره نکاح توان ولري له وينځې سره نکاح ورته روا ده.

رسول الله(ص) فرمايي :(وينځه دې پر اصيلې ښځې نشي په نکاح کولای.

الله(ج) فرمايي :وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مِّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ) النساء۲۵.

يعنې: او څوک چې نه لري په تاسو کې طاقت ددې چې نکاح وکړي له بيبيانو مسلمانانو سره نو نکاح دې وکړي له هغو ښځو سره چې ستاسو دلاس مال دي چې مسلمانې وينځې دي.

او له(طول) څنې مراد په ايت کې دده په نزد داصيلې ښځې شتوالی دی يعنې چې همدا اوس دده په نکاح کې وي ځکه چې دا اصيلې ښځې سپکاوی اوبې احترامي ده.

۲. امام شافعي (رح) وايي چې هر مسلمان ته چې ازاد وي او که مريې ،په دوه شرطونو دوينځې نکاح روا ده.[2]

[1] روائع البيان في تفسيرايات الاحکام ۱محمدعلی الصابوني اوجامع احکام القران.

[2] المهذب اومحمد محي الدين عبدالحميدي له تحفه ابن حجرڅخه نقل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف :چې د زناوېره ورسره وي.

ب: چې له اصیلې ښځې سره د نکاح مالي توان اوطاقت ونلري که څه هم اصیله ښځه له اهل کتابو څخه وي اوله طول ځنې مرادمالي توان اوطاقت دی.

اوهرمسلمان ته چې که اصیل وي اوکه مریی دا حرام ده چې له کتابیې وینځې سره نکاح وکړي ځکه چې الله(ج) فرمایي : (فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ).

یعنې:چې ستاسو وینځې دي مسلمانانې.

اودده په اندمریي ته رواده چې له وینځې سره نکاح وکړي او اصیله ښځه ولري.

عجیبه خولاداده چې له وینځې سره نکاح روا نه ګڼي مګرهغه چاته چې له اصیلې ښځې سره د نکاح طاقت ونه لري اومریې ته اجازه ورکوي چې د اصیلې له پاسه وینځه هم په نکاح کړي ،سره له دې چې : (وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ) عام دی اوهېڅوک ترېنه خاص نه دي.

۳. امام مالک(رح) وایي:هراصیل مسلمان ته روادي چې له وینځې سره که څه هم کتابیه وي په هغه دوه شرطونونکاح وکړي چې امام شافعي(رح) شرط کړي دي.

برابره خبره ده چې له دې سره نکاح يې لومړنۍ وي اوکه له دې څخه پرته بله ښځه هم ولري اوبرابره ده که لدې څخه مخکینۍ ښځه یې اصیله وي اوکه وینځه خو په دې شرط چې اصیله ښځه یې  زوجي حقوق ادانکړي.

په مالکیانو کې ځینې علماوو د وینځې نکاح پر اصیلې په دې مشروطه کړې ده چې اصیله ښځه په دې واده خوښه وي ،اوکه اصیله ښځه دځان له پاسه د وینځې په نکاح ناراضه وي نو روا نه ده.اود خپلې ښځې له وینځې سره هم نکاح روانه ده.[۱]

[۱] درمختار.فقه السنه اوشرح الوقایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



. لکه وړاندې موچې وویل ،ټول فقهاء په دې متفق دي چې په نکاح کې په هلک باندې کوم شرط نه دی ایښودل شوی له هر چا سره یې چې خوښه وي نکاح کولی شي ،که هغه یې سیال وي اوکنه خو که انجلۍ د خپلې نکاح تړون په خپله کوي ،نوسیالداري به په نظر کې نیسي، داچې کله یووګړی د بل سیال ګرځي ،اوواده ورسره کولی شي، اوپه سیالۍ کې معتبر صفتونه کوم دي ؟فقهاء په دې هکله د نظر اختلاف لري :

١. عبد الله ابن مسعودﷺ امام مالک، ،سفیان ثوري ،کرخي ،محمد ابن سیرین،حسن بصري ،اوعمر ابن عبدالعزیز(رح) وایي چې : سیالي یواځې په دین کې شرط ده او په نورو صفاتو کې سیالي ضرورنه ده ځکه چې په صدر داسلام کې ډېرو معتبرو صحابیوﷺ له مرئیانو سره ودونه کړي دي لکه دقیس لورفاطمه(رض) چې قریشه اوډېره جلیل القدره صحابیه وه اود رسول الله(ص) له مریې اسامه سره ورته رسول الله(ص) په نکاح امر وکړاو هغې ور سره نکاح وکړله.[1]

٢. امام احمد(رح) وایي چې سیالي یې په دین او کارکسب کې ضروري ده یعنې دا اوچت کسب کوونکي لوردټیټ کسب کوونکې دزوی سیاله نه ده.

٣- دامام شافعي(رح) په نزد سیالي په دین، کار، کسب، اصیلوالي، (ازادي) او له عیبونوځخه خالي والي کې ده اود ځینومعاصروشافعي مذهبو علماوو په نزد په عمرکې مساوي والی ضروري دی یعنې زوړاوبوډا دځوانې ښځې سیال نه دی.

که دا صفت د سیالۍ د صفتونوپه معتبروشرطونوکې دصفت اوشرط په توګه ونه منو او ونه وایوچې د بوډا اود ځوانې پېغلې نکاح دې حتماونه

---

[1] فتح القدیر،بدائع الصنائع اونیل الاوطار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ، خودا باید ضروري وګڼو چې ځوانه نجلۍ باید سپین ږیري او کمزوري ته په نکاح ورنه کړل شي ، ځکه داد ټولنې نظم ته زیان رسوي ، ټولنه فاسد وي ، ځوانه ښځه بوډانه خوښوي او نه سپین ږیری د ځوانې ښځې حقوق ورپوره کولی شي ، ډېر داسې شوي دي چې سپین ږیري ته یې ځوانه په نکاح کړې وي او بوډاد هماغې شپې په سبا مړ وي نو په دې هکله ډېر احتیاط په کار دی ، داد ښځې لپاره یو همېشنی رنځ دی چې روحا هم نا ارامه وي.

۴- د امام ابوحنیفه او د هغه د ملګرو (رح) په نزد د سیالۍ صفتونه اسلام، دینداري ،نسب ،اصیلوالی ، شتمني ،کسب او کړنه ده نو کله که کومه ښځه له چاسره واده وکړي او دا صفتونه په کې کم وي او ولي ورځنې تېر شي نو نکاح صحیح ده .

همدارازکه صغیره یې په نکاح ورکړې وي او په هلک (خاوند) کې داصفتونه کم وي او له بلوغ نه وروسته ترې جینۍ تېره شي ، نو نکاح صحیح ده او که دادواړه هر یو ورځنې تېر نه شي ، نو د نکاح د فسخ کولو حق لري له اسلام څخه مراد د پلرونو او نیکونو اسلام دی،نو د چاچې یوازې پلار مسلمان وي ،د هغه چاکفوه او سیال نه دی چې پنځه یا شپږ پېړۍ یې په اسلام کې تېرې شوي وي (دا په غیرد عربو کې).

او د کسب او کار په لوړتیا او غوره والي کې د هغې ټولنې دود او رواج ته اعتبار دي یعنې هرکسب چې په یو ټولنه کې ارزښت او درناوی لري ،هماغه لوړدی نو دا وچت کسب کوونکي د لورنکاح د ټیټ کسب کوونکي له زوی سره د انجلۍ دولي له موافقې پرته صحیح نه ده لکه په افغانستان کې چې سپک کسب ډمتوب او نایېتوب او په مصرکې اهنګري ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله مال څخه مراد دادی ،چې خاوند د ښځې نفقه ،مهر،جامه ،اوداسې نورې اړتیاوې پوره کولی وشي او که دایې پوره کولی وشو،نودا دغني(بډای) دلورسیال دی اوغوره والي په نسب اوقوم کې یوازې په عربو کې دی اوعجم ټول یودبل سیالان دي.اوعرب هم ټول یودبل سیالان نه دي اوعجمي دعربي سیال نه دی.[1]

www.melitahrik.com
0777 400 116

[1] شرح الوقایه ،الاحوال الشخصیة في الشریعة الاسلامیة \ محمد محي الدین عبدالحمید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولي او په نکاح کې ولایت

په نکاح کې ولایت (واکمني) په دوه ډوله ده:

جبري ولایت یا (غیراختیاري واکمني) او هغه ولایت چې مستحب دی ،چې دواړو ته به لنډه کتنه وکړو :

الف: جبري ولایت

دجبري ولایت اسباب درې دي :

۱. کوچنیوالی که کونډه وي او که پېغله.

۲. لیونتوب چې پیدایشي وي او که وروسته لیونی شي.

۳. معتوه یا احمق (پاګل او ډېر کم عقل)[1]

ټول اولیا په خپل وارد ولایت حق لري ،لومړی پلار ،بیا نیکه بیا... لکه څنګه چې د نکاح په موانعو کې موږ ورته نغوته وکړه ،په هماغه ترتیب سره لومړی له دویم څخه د نکاح دولایت حق لومړی لري.

امام شافعي(رح) وایي چې پر کونډې داجبارولایت نشته دی او په بالغې پېغلې هم شته دی او په کوچنۍ باندې پلاراونیکه د اجبارولایت حق لري ،بل څوک یې نه لري ، اوکه دادواړه نه و.نوبیادې بی واده پرېښودلای شي ،ترهغه چې بالغه شي اواجازه وکړي.

---

[1] بدائع الصنائع ،تحفة المحتاج،المغني اوالخرشي على مختصر خليل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مالک(رح) وايي چې جبري ولايت پر کوچني له پلار څخه پرته بل چاته نشته دی او که پلار يې نه وي نو په نکاح دې يې څوک نه ورکوي، ترهغې چې پيغله شي او دځان لپاره وکېل وټاکي.[۱]

له امام احمد(رح) څخه په دې هکله دوه روايته دي چې يو دامام شافعي(رح) په څېر دی.

او دپاګلې ليونۍ ښځې د زوی يا لمسي ولايت په مور له هر چالومړی دی ،که کومه پاګله ياليونۍ ښځه يې زوی يالمسی په نکاح ورکړي ،نوعقدفسخ کولی نه شي.

دامام ابوحنيفه(رح) په نزد اوپه يوروايت کې کې له شافعي،مالک اواحمد(رح) څخه په ولي کې عدالت شرط نه دی.اوپه قوي روايت کې له امام شافعي،مالک اواحمد(رح) څخه په ولي کې عدالت شرط دی.

که چېرې پلار يانيکه صغېره په نکاح ورکړله ،نوداعقد لازم اونافذ دی له بلوغ څخه وروسته د فسخې حق نه لري ،په هغه صورت کې چې پلار يا نيکه له عقد څخه د مخه په بد اختيارۍ ونه پېژندلی شي ،اوکه د عقد څخه د مخه اويادعقد په وخت کې هغه صغيرته بد نيت درلودیا فاسق ياليونی و ،يايې سپک خويونه درلودل،لنډ فکری و ،دکارونوپه پای (انجام) يې فکر نه کاوه يا يې پر صغير له اندازې څخه ډېر مهرټاکلی و ،اوياد صغيرې مهرله اندازې څخه کم و ،يا يې سيال ته نه وه ورکړې ،نوځينې وايي چې دانکاح

[۱] الخرشي على مختصرخليل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحېح نه ده ،اوځينې وايي چې دانکاح موقوفه ده ،اوصغيراوصغيرې دواړوته له بلوغ څخه وروسته اختيار دی.[۱]

اوکه له پلاريا نيکه څخه پرته بل ولي په نکاح ورکړله ، که څه هم خاوند يې سيال وي اومهرهم له مثل څخه هم کم نه وي ، نودانکاح صحېح اولازمه ده ، خو نافذه نه ده، اوهريودبالغېدلوپه صورت کې اختيارلري ، يعنې دانکاح منلی هم شي او ردولی يې هم شي ، که څه هم دخول شوی وي اودامام ابويوسف(رح) په نزداختياردبالغېدونشته دی اودنکاح فسخ هغه وخت صحېح کېږي کله چې له عقدڅخه خبرشي ، يعنې که کوم څوک بالغ هم شي او له نکاح څخه خبرنه وي نوهرکله چې خبرشي ، نودقبلواوردولوحق لري.

ب : يوې عاقلې، بالغې اواصيلې ښځې ته چې دامام ابوحنيفه(رح) په نزددخپلې نکاح دکولوحق هم لري ، مستحب دی ، چې ولي ته اجازه ورکړي ، چې د دې دنکاح عقدوکړي اوکه ولي ورڅخه اجازه وغوښتله اوداچپ شوه ، نودا د دې له خوا اجازه ده ، اوکونډه به په ډاګه (صراحت) سره امرکوي اوولي بايد اصيل، عاقل اوبالغ وي،اوله هغه چاسره چې دايې ولي دی ، په دين کې مساوي وي.

پر مسلمان دکافر، ذمي، يهودي، نصراني اوداسې نوروولايت نشته دی :

(وَلَن يَجْعَلَ اللّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً ) النساء: ۱۴۱

يعنې : اوله سره نه دي ګرځولي الله(ج) دکافرانولپاره په مسلمانانوکوم حاکميت.

د امام شافعي(رح)په نزد زوی پر موردولايت حق نه لري.[۲]

[۱] المجموع شرح المهذب ،المغني اوالخرشي على مختصر خليل.

[۲] المهذب للشيرازي.

۲المهذب للشيرازي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکـه عصـبه نـه وي نودولايـت حـق دامـام ابوحنيفـه(رح) پـه نـزدذوي الارحاموته لېږدول کېږي.

امام شافعي اوصاحبين(رح) وايي که عصبه نه وي نودولايت حق خليفه ته دی.[۲]

اوڅوک چې وينځه ازاده کړي اودوينځې عصبه يې نه وي ، نوباداريې دهغې ولي دی.

اوکه نژدې ولي لېرې وي او خاطب (غوښتونکې) دهغه انتظارنه کوي ، نوشريعت يې لېرې ولي ته اجازه کړې ده ، چې دنکاح ولايت وکړي اودنژدې ولي په راتګ سره نکاح نه باطلېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## نفقه

## پېژندنه او د استحقاق شرطونه يې

### ۱. ثبوت او پېژندنه

### الف: نفقه په لغت کې

نفقه له نفوق څخه اخستل شوې چې هلاک او له منځه تللو ته يې وايي يا له نفاق څخه اخستل شوې ، چې رواج (دود) ته يې وايي.
او فقهاد نفقې کلمه هغه مال ته استعمالوي چې انسان يې په خپل عيال لګوي ، ځينې علماء نفقه خوړو او جامې ته وايي ، او ځينې نورېې خوړو ، جامې او استوګنځي (داوسېدلو ځای) ته وايي.

### ب: ثبوت

د ښځو نفقه په ايت، حديث، اجماع او قياس ثابته شوې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. (وَعلَى الْمَولُودِ لَهُ رِزْقُهُنّ وكِسوَتُهنّ بِالْمَعْرُوفِ) البقرة ۲۳۳
يعني :اودکوچنيانوپه پلار لازم دي خوراکه اوجامې د دغوښځود دستور(شريعت) مطابق.

۲. (أسْكِنُوهُنّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنّ) الطلاق : ۶

يعني : واوسوئ دا ښځې چېرته چې اوسېږئ تاسې ، له خپل طاقت سره اوضررمه رسوئ دوی ته چې تنګي به روالئ تاسې په دوی باندې .

۳. (لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمّا آتَاهُ اللّهُ) الطلاق : ۷

یعني: نفقه دې ورکوي ښتن دطاقت له طاقته خپله څوک چې راتنګه کړلی شوه پرهغه روزي د ده پس خرڅ دې کوي دی له هغه څخه چې الله(ج) ورکړې دي.

۴. رسول الله(ج) دحجه الوداع په خطبه کې وفرمايل : (ولهن عليکم کسوتهن ورزقهن بالمعروف).[1]

یعني : اوهغوی لره په تاسې جامه اوروزي ده په نيکې طريقې سره.

۵. په نيل الاوطارکې وايي چې هند دابي سفيان مېرمن درسول الله حضورته راغلله اوويې ويل چې ابي سفيان ډېربخيل سړی دی اومورته دومره څه نه راکوي ،چې مااوزمازوی لپاره بس شي ، خوهغه څه چې زه يې ورڅخه واخلم اوهغه پوه نه شي رسول الله(ج) ورته وفرمايل : (خذي من مال

[1] مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابي سفيان مایکفیک وولدک بالمعروف) یعني : دابو سفیان له مال څخه دومره څه چې ستاا وستا بچي ته بس کېږي په نېک (منل شوي ) ډول اخله.[1]

۲. بل دمعاویة القشري رضي الله عنه حدیث چې رسول الله(ص) ورته وفرمایل: (( هغې ته خواړه ورکړه کله چې خواړه خورې،په جامه یې پټه کړه کله چې ځان په جامه پټوې.....))[2]

ټول علماء پردې متفق دي چې دښځې نفقه پر خاوند واجب ده .

داچې مېړمن دکوراو خاوند خدمت کوي، دهغه په کورکې اوسېږي ،بهر ته نه وځي کاراوکسب نه کوي نودعقل غوښتنه هم داده چې دهغې جامه او نفقه پرخاوندلازمه وي .

کومه ښځه دنفقې مستحقه ده؟

هره ښځه د نفقې مستحقه نه ده.د نفقې د استحقاق لپاره څوشرطونه شته دي چې دلته یې په لنډ ډول یادوو.

الف: چې د نکاح عقدیې صحیح وي ، په فاسده نکاح کې نفقه نه شته اوکومه ښځه چې په اشتباه کې ورسره کوروالی شوی وي ،هم دنفقه مستحقه نه ده.[3]

ب: داچې د خاوند دکتې اخستلولپاره برابره اومناسبه وي اوکه چېرې کوچنۍ وي لکه له اوه کلوڅخه وړه ، نوپه نفقه یې اختلاف دي امام

---

[1] متفق علیه

[2] ابوداود ،ابن ماجه،مسنداحمد اومشکوة.

[3] بدائع الصنایع

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو حنیفه او امام محمد رحمة الله علیه وايي چې ددې نفقه يې په خاوند نه شته ده ، که څه هم خاوند کورته راوستې وي او د خاوند په کور کې اوسېږي امام ابويوسف(رح) وايي که خاوند يې خپل کورته راوستې وي او د خاوند په کورکې اوسېدله ، نو نفقه يې په خاوند شته ده دلته فتوی په دې مذهب کې د امام ابويوسف په وينا ده.

کومه ښځه چې ناروغه وي او د خاوند مباشرت ورسره نه کېږي امام ابوحنيفه ،او امام محمد (رح) وايي چې نفقه يې په خاوند حق ده خو په هغه صورت کې چې ناروغي ورته د پلار په کورکې پيدا شوي وي او د خاوند کورته له تللو څخه انکار وکړي نو نفقه يې په خاوند نه شته ده.

امام ابويوسف(رح) وايي چې که ناروغي ورته د پلار په کورکې پيدا شوي وي نو د نفقې مستحقه نه ده که څه هم د مېړه کورته له تللو څخه انکار ونه کړي.

او که په خپل کور کې يې وساتله نو نفقه يې حق ده دلته فتوي د امام ابوحنيفه او امام احمد (رح) په وينا ده.[1]

ج: چې له عذر څخه پرته يې په کورکې ونه اوسېږي یعنې: ښځه هيڅ شرعي عذر نه لري خو بيا هم د خاوند په کورکې نه اوسېږي سره له دې چې خاوند يې غواړي چې خپل کورته يې بوزي .

د: همدارازبدګذرانه ښځه چې د خاوند اطاعت او منه په روا کارکې نه کوي او بد اخلاقي کوي نو دا د نفقې مستحقه نه ده.

ح: چې خاوند يې په دومره مسافه کې سفرته بېول غواړي چې هلته په لمانځه کې قصر نه کېږي او د هغې عاجل مهر يې ورکړی وي خو بيا هم له

---

[1] بدائع الصنائع

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللو څخه انکار کوي نو دا ښځه بد ګذرانه ده او نفقه یې په خاوند شته خو په دې شرط چې خاوند د ښځې امن د سفر په اوږدو کې وساتلی شي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. د نفقې اندازه

امام مالک او امام احمد بن حنبل(رح) وايي چې نفقه به د ښځې او خاوند د مالي وس او حال مطابق وي که ښځه او خاوند دواړه شتمن وي نو نفقه د شتمنو به ورکوي او که دواړه نېستمن وو نو نفقه د نېستمنو به ورکوي او که ښځه شتمنه وه او خاوند يې نېستمن او بيوزله وو، نو نفقه به د نېستمنو او شتمنو ترمنځه وي او که خاوند شتمن و او ښځه نېستمنه وه نو هم نفقه به دواړه ترمنځ وي همدا رايه د ځينې حنفي علماوو هم ده او د احنافو په مذهب کې فتوي هم په همدي ويناده.[1]

امام شافعي(رح) وايي چې په نفقه کې به يوازي د خاوند حال ته کتلی شي.[2]

که خاوند نېستمن وي نو نفقه د نېستمنو به ورکوي که څه هم ښځه شتمنه وي او که خاوند شتمن وي نو نفقه د شتمنو به ورکوي که څه هم ښځه نېستمنه وي او له حنفي علماوو څخه امام کرخي(رح) هم همدا رايه غوره کړې ده.[3]

او هم دا رايه قوي او پياوړي هم ده. الله تعالی فرمايي:(لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ )... الطلاق: ۷

يعني: لګښت دې کوي ښتن د طاقت له طاقته خپل څخه او هغه څوک چې تنګه کړلی شوه په هغه روزي د هغه پس لګښت دې کوي له هغه څه چې ورکړي وي هغه لره الله(ج) تکليف نه کوي الله(ج) په هېڅ نفس مګر په هغه اندازه چې ورکړې يې دي ده لره.

---

[1] نيل الاوطار، حاشيه ابن عابدين، المهذب او بدائع الصنائع

[2] فتح القدير او رحمة الامة

[3] فتح القدير

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متعې په هکله فرمايي:او هغوی ته څه خرځ ورکړئ د وس او مال خاوند باندې د هغه موافق او تنګې والا (بې وسه او بې وزله) باندې د هغه مطابق.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نفقه او قاضي

کله چې خاوند ښځې ته نفقه نه ورکوي او یا غایب وي او ښځه یې بې نفقې پرېښې وي ،نو ښځه کولی شي ، چې قضاته مراجعه وکړي ،نو په همدې بناء دا فصل په دوه برخوو ېشو :یو هغه چې خاوند حاضر وي خو ښځې ته نفقه نه ورکوي او بل هغه چې خاوند غایب وي او ښځه یې بې نفقې پرېښې وي.

## ۳. ښځې ته د نفقې له ورکولو څخه انکار

که چېرې خاوند شتمن و،او ښځې ته یې نفقه نه ورکوله نو قاضي به یې دوه ځلې قضاته راوبولي او هر ځل به ورته په وېره تهدید اوګواښ سره خبر ورکړي او که بیا هم ونشو او ښځې غوښتل نو بندي کولی یې هم شي اوله ضروري سامان څخه پرته به د خاوند ټول سامان د ښځې د نفقې لپاره وپلوري[1]

او که خاوند بې وزله و،نو د امام ابو حنیفه(رح) په نزد به د فقر او بې وسۍ له کبله ښځه ورڅخه نه شي بېلولی.بلکې قاضي به ورته د نفقې اندازه وټاکي.او ښځې ته به امر وکړي ،چې ځان ته ټاکل شوې اندازه پوره کړي.[2]

او هر کله چې خاوند شتمن شو،نو ور څخه به یې واخلي او که چا پور نه ورکاوه ،نو قاضي به د ښځې هغه دوستان چې ددې نفقه پرې واجب ده

---

[1] رحمة الامه ،فتح القدیر.

[2] رحمة الامة ،فتح القدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړباسي ،چې دې ته پورورکړي اودانکارپه صورت کې يې بندي کولی هم شي.[۱]

(وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ) البقرة ۲۸۰.

يعنې اوکه خاوندنېستمن و ،نوپرتاسودی انتظارتروختـه دپراخۍ.

(لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ) الطلاق:۷.

يعنې تکليف نه ورکوي الله(ج) هېڅ نفس ته مګرپه هغه اندازه چې ورکړې يې وي ده لره ،ژر ده چې وبه ګرځوي الله(ج) پس له سختۍ څخه اساني.

اوهمداسې روايت لـه احمـد او شـافعي(رح) څخـه هـم دی ،اوامـام شافعي(رح) څخه بل روايت دی ،چې ښځه کولی شي چې په قضا کې د نکاح د فسخې غوښتنه وکړي اوکه سړی شتمن وي اوښځه دکورکارنه شي کو لی ،نوخدمتګاربه ورته ونيسي که خدمتګاريې مريې وي ،نونفقه يې پرخاوند لازمه ده اوکه اصيل و ،نونفقه يې پر خاوند نشته دی اوځينې علماءوايي ،چې دهرخادم نفقه اصيل وي که غلام پرخاوندلازمه ده.[۲]

## ۴. د غايب د ښځې نفقه

---

[۱] الاحوال الشخصية فى الشريعة الاسلامية :محمدمحي الدين عبدالحميدنقل له زيلعی اوشارح المختارڅخه.

[۲] المبسوط.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غایب هغه څوک دی چې قضاءته یې په اسانۍ سره حاضرول شونې نه وي ،نود احنافو په نزد که شتمني یې له ښځې سره وه نوقاضي به ورته د نفقې اندازه وټاکي اوکه شتمني یې له ښځې څخه پرته له بل چاسره وه لکه امانت ،پوریا......نوله چاسره چې داما‌ل دی،نوکه هغه دامنله چې دا ښځه د همدې غایب ښځه ده اوله ده سره یې شتمني هم شته ،نوقاضي دې ورته امر وکړي ،چې له همدې مال څخه یې ښځې ته نفقه ورکړي اوکه هغه سړي دانه منله چې دادهغه غایب ښځه ده اویایې له ده سره مال شته دی اوقاضي پرې خبر و ،چې دادغائب ښځه ده اومال یې هم له دې سړي سره شته دی ،نوبیا به هم ورته امر کوي اوکه دې سړي هم نه منله اوقاضي هم پرې خبر نه و ،نوامام زفر(رح) وایي چې په دې سړي به دښځې دعوه اورېدل کېږي.

امام ابوحنیفه اوصاحبان ابویوسف اومحمد(رح) وایي چې:قاضي به په دې سړي دښځې دعوه نه اوري ،ځکه چې دښځې دعوه خوله خپل مېړه سره ده اوکه دغایب سړي پتې ،بڼ یا...وي نوله اجارې څخه به یې د نفقې رقم اخلي،خو پلورلی یې نشي ،اوکه هېڅ یې نه وي پرېښي ،نوقاضي به ورته نفقه وټاکي اوورته به اجازه وکړي ،چې پور یې کړي.

اودامام شافعي(رح) په نزد که غایب خاوند شتمن و ،اوځای یې معلوم وي،نوقاضي به ښځې ته نفقه وټاکي اودهغه ښار قاضي ته به خبر ورکړي، چې خاوند دنفقې ورکولو ته اړباسي ،اوښځه په دې حالت کې بېلتون نه شي غوښتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکه شتمن وي اوځای يې معلوم نه وي نو ددې مذهب علماء دوه ډلې دي ،يوه ډله وايي چې ښځه د فسخې غوښتلو حق نه لري ،اوبله ډله وايي ،چې ښځه دا حق لري.[1]

اوکه خاوند نېستمن اونادار ه هم وي اوځای يې معلوم هم نه وي نو ددې مذهب د ټولو علماوو په اتفاق ښځه د فسخې حق لري[2] امام مالک وايي: که خاوند غايب شو اوشتمني يې هم په هغه ښارکې چې ښځه اوسېږي ،نه وه يا يې شتمني هم وه خو ښځې ته له زحمت او ستونزو پرته په لاس نه شو ورتللی، نوله قاضي څخه بېلتون غوښتلی شي ،اوکه شتمني يې هم وه اوپه لاس ته راتلو کې يې له څه ستونزه سره نه مخ کېدله ،نو طلاق نشي غوښتلی.

که خاوند غايب وا وکه حاضر، خوښځې ته يې نفقه نه ورکوله اوښځه پرته له دې چې قاضي ورته په نفقه پرېکړه وکړي ،اويا مخکې له دې چې له خاوند سره د نفقې په اندازه راضي شي او په خپل ځان يې مال ولګوه ،نو دانفقه د خاوند په ذمه پوره نه ده.[3]

اوکه له خاوند سره د نفقې په اندازه له راضي کېدلو يا دقاضي له پرېکړې پوره کولو امر وکړي ،نودانفقه په دې وخت کې په خاوند غير صحيح پوره ده اوله دې پنځوصورتونو څخه په يو ساقطېږي :

۱. چې خاوند يې ورته ورکړي.

۲. چې ښځه يې خاوند ته معاف کړي.

---

[1] مغني المحتاج ،نهاية المحتاج اوالمهذب للشيرازي.

[2] کتاب الام ،المهذب اوالاحوال الشخصيةنقل له کافي اوشرح الروض څخه.

[3] فتح القدير.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳**. دښځې او خاوند څخه دیوه پرمړینه.

**۴**. دښځې په بدګذرانی (بې موجبه دخاوند اطاعت نه کول).

**۵**د ښځې په طلاقولو کې چې سبب یې ښځه وي.

دځینو علماءوپه نزد په طلاق سره مطلق ساقطیږي او د ځینو په نزد مطلق نه ساقطیږي اوکه له خاوند سره د نفقې په اندازه راضي شوه اویا قاضي ورته فیصله وکړي اویوله دې دواړوڅه ورته په پورکولو اجازه وکړي اودې پوروکړ،نو دا پورپه خاوند صحیح پوردی او په دې دوه صورتونه ساقطیږي :

۱. چې خاوند یې ورته اداکړي.

۲. دا چې ښځه یې خاوندته معاف کړي.

له طلاق څخه وروسته یې غوښتلی شي اوکه خاوند مړشونو دخاوندله ورثه وڅخه یې هم غوښتلی شي اوکه ښځه مړه شوه نود ښځې ورثه یې هم غوښتلی شي.

امام مالک اوامام شافعي(رح) وایي چې که ښځې قاضي ته وویل چې خاوندبې نفقې پریښې یم ،سره له دې چې زما نفقه پرې واجب ده اوقاضي ته دا جوته شي ،نوښځې ته به د نفقې امر کوي اودپوررولو لپاره د قاضي یامېړه اجازه ضرورنه ده اوپه هغه دوه صورتونو ساقطیږي ،چې پورته موورته ګوته ونیوله اوله امام احمد څخه هم یوروایت همدادی.[1]

---

[1] رحمة الامة اوالمهذب للشیرازي.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام احمد (رح) وايي ،چې: کله خاوند غايب شو او شتمني يې هم نه وه پرېښې يا يې دهغه له شتمنۍ څخه اخستل سخت شول، او پورکول هم ورته سخت شول نو ښځه کولی شي ،چې له قاضي څخه فسخ وغواړي.[۱]

www.melitahrik.com
0777 400 116

[۱] زادالمستنع شرف الدين موسى ابن احمد المقدسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## مهر

## عمومي معلومات

### الف: پېژندنه

مهرهغه مال ته ویل کېږي ،چې د مېړه له خوا یې ښځې ته د نکاح د صحیح ترون اویاد وطې په سبب ورکول واجب دي (دوطې سبب لکه په فاسده نکاح کې له ښځې سره کوروالی اوکه په فاسده نکاح کې کوروالی نه وي شو نومهرنه واجبېږي).

مهریو ځانګړی امتیازدی چې ښځوته په نړیواله سطحه اسلام ورکړی دی ،که څه هم په یهودیت کې مهرشته دی.خو چې څومره ارزښت په اسلام کې ورکړل شوی دی ،په یهودیت کې یې نه لري ،یهودیان مهرد ښځې له وفات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه وروسته د هغې ورثه وو ته ورکوي اوپه یهودیت کې د کونډومهرد پېغلې په نیمه اندازه وي.[۱]

## ب: د مهر د فرض کېدلو حکمت

د مهر په لزوم کې د الله(ج) حکمت دی چې تر چا پټ نه دی مثلا :که بې مهره نکاح روا شوې وای نو دا به د ښځو له پاره سپکاوی اوپه عزت کې کمښت و ،په سپکه سترګه به ورته کتل کېدل له هغې سره به یې ښه ګذران نه کاوه ،اودا به د نکاح د رسۍ په سستولو کې لویه مرسته وه ځکه چې د هغې په لاس ته راوړلو کې یې کومه ستونزه نه ده ګاللې اودبېلولو واک هم لري نوځینو به ښځې کولې او بې له کوم سبب ښځه به یې پرېښودلی نو مهر یوداسې شعارشوچې ښیې د ښځې کول څه اسان کار ندی ،دا خوارۍ اوشتمنۍ ته اړه لري چې له واده ښځه وروسته هغې ته په درنه سترګه وکتل شي او دهغه بشپړ درناوی وشي.

## ج: د مهر دفرض کېدلو دلایل

مهرپه ایت،حدیث او اجماع ټولو ثابت دی الله(ج) فرمایي : (وَآتُوا النِّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً) النساء ۴.

یعنی :او ورکوئ ښځوته مهرونه ددوی په خوشحالۍ سره.

---

[۱] الاسلام بلامذاهب\دکتورمصطفی الشکعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً﴾ النساء۲۴.

یعني:اوحلالې دي تاسې لره ټولې ښځې له دې څخه پرته پدې شرط چې طلب کوئ دوی لره- دخپل مال په بدل کې په قید کې راوړولره نه مستي ویستولره اوبیا کومې ښځې چې فایده مووا خستله له دوی څخه نو دوی لره ورکړئ د دوی حق کوم چې مقرر شوی دی.

رسول الله(ص) یوه نکاح هم بې مهره نه ده کړې نوکه فرض نه وای نو رسول الله(ص) به حتماً یو ځل پرېښې و چې په نه فرضیت دلالت وکړي.

### د: هغه څه چې مهر کېدلای شي

هرڅه چې اسلام کې ارزښت ولري لکه سره اوسپین زر،ځمکه ،کور،جامه ،وربښم،جوار،غنم،وربشې ... ټول مهر کېدلای شي ځکه چې الله(ج) مسلمانان مخاطب کړل: (ان تبتغوا باموالکم) چې طلب کوئ دوی لره د خپل مال په بدله کې :یعنې چې هغوی ته خپل مالونه ورکړئ هغه چې تاسو سره ارزښت لري اوڅه چې په اسلام کې ارزښت نه لري لکه شراب،وینه او.......مهرکېدلی نشي اوکه دا په مهر کې یاد شول نودا سې شول لکه هېڅ چې یادشوي نه وي اود نکاح تړون صحیح اومهرفاسد دی.

مهر د نکاح له ارکانوڅخه ندی اویادول یې په تړون کې شرط ندی اوکه مهریادشي اوکه یاد نشي نکاح صحیح ده الله(ج) فرمايي : (لاَّ جُنَاحَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاء مَا لَمْ تَمَسُّوهُنُّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً) البقرة۲۳۶

یعنې :هېڅ ګناه نشته په تاسو که چېرې طلاق ورکړئ تاسو ښځوته هغه وخت پورې چې تاسې ورپورې لاس نه وي لګولی او نه موورته څه مهر ټاکلی وي.

د استدلال وجه داده چې الله(ج) هغه طلاق هم صحیح کړ چې خاوند ښځه د مهر له ټاکلو او مسه کولو څخه وړاندې طلاقه کړي او طلاق خوله نکاح څخه وړاندې نه صحیح کېږي نو معلومېږي چې یادول یې په تړون کې شرط نه دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هـ: د مهر لږه او ډېره اندازه

دمهر په اندازه کې فقهاء ځان ځانته نظر لري.

دامام ابوحنیفه(رح) په نزد له لس درهمو څخه چې اوه (۷) مثقاله کېږي لږمهر نه صحیح کېږي ،یودرهم درې نیم ګرامه چې لس درهمه (۳۵) ګرامه سپین زریا یې معادل کېږي.[۱]

رسول الله(ص) فرمايي: خبر اوسئ له ولي څخه پرته دې بل څوک ښځه په نکاح نه ورکوي اونه دی یې ورکوي مګرسیال ته اونشته مهر کم له لسو روپیو څخه.[۲]

له حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت شوی دی چې له لسو روپیو څخه کم مهرنشته دی.[۳]

رسول الله(ص) فرمايي چې نه دي شي پرېکولی لاس (په غلا) په کم له لسوروپیو اونه شي صحیح کېدلی مهر کم له لسوروپیو.[۴]

امام مالک وايي چې: سره زر ددینارله څلورمی برخې څخه اوسپین زرله درې درهمو څخه کم مهر صحیح ندی اودینارڅلورمه برخه باید خالصه سوچه سره وي اودرهم هم باید سوچه سپین زروي اوکه له له دې اندازې څخه لږ وي،کل شي نو خاوند له دخول څخه وړاندې دوه اختیاره لري.

۱. چې اندازه پوره کړي.

---

[۱] فتح القدير.
[۲] دارالقطني.
[۳] دارالقطني
[۴] دارالقطني اوسنن الكبرى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. چې نکاح په طلاق سره فسخه کړي.

امام شافعي(رح) او امام احمد(رح) وايي چې د مهر کمه اندازه نه شته او دليل يې هغه حديث دی چې جابر رضي الله عنه روايت کړی دی چې رسول الله(ص) فرمايي: چا چې په مهر کې ډک ورغوی ستوان يا خرما ورکړلې هغه ورته حلاله ده.[1]

له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول اکرم ص يو سړي ته يوه ښځه داوسپني ګوتې (هغه څه چې ښځه يې دزينت لپاره په ګوته کوي) په بدل کې په نکاح ورکړله.[2]

حنفي علماء ځواب ورکوي چې موږ داحديث منو مګردا خوزموږ له دلايلو سره تعارض (ټکر) نلري او دا جمع (غونډه دحديثو) په اسانه سره کېدلی شي هغه دا چې لس درهمه خو د مهر کمه اندازه په وړاندينيو حديثو کې وټاکل شوه اورسول الله(ص) چې په ګوته اوډک ورغوي ستوانو اوخرماو هغه حلاله معرفي کړله دادهغې معجل مهرشو اونوريې د خاوند په ذمه پاتې دی او هغه حديثونه چې داحنافو دلايل دي معجل اومؤجل مهر دواړه ښيي اودمهر وروستۍ اندازه په اتفاق د ټولوسره نده ټاکل شوی اوپه هره اندازه چې ښځه اوخاوند راضي(خوښ) شول نو صحيح ده.

حضرت عمر رضي الله عنه غوښتل چې خلک دمهر له هغې اندازې څخه له ډېر اخستلو څخه ايسار کړي چې رسول الله(ص) خپلې لورګانې په نکاح ورکړې وی اويا يې خپلو بيبيانو ته ورکړی ونود مسجد له وروستۍ برخې

---

[1] ابوداود.
[2] مسلم ،ابوداود اوالمستدرک للحاکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه یوه ښځه را پاڅېده او حضرت عمرؓ ته یې وویل : ته چې په څه مورږ ته امر کوې مورږ ته الله(ج) له هغې پرته نور څه هم روا کړي دي.

حضرت عمرؓ ورڅخه وپوښتل چې هغه څه دي ؟ هغې ځواب ورکړ چې الله(ج) فرمايي : (وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلاَ تَأْخُذُواْ مِنْهُ شَيْئًا ).

یعنې :او که اراده وکړئ تاسې بدل اخستل دیوې ښځې په ځای دبلې ښځې او ورکړی وي تاسو له دوی نه یوې ته مال ډېر پس مه اخلئ تاسو بېرته له هغې مال څخه هېڅ شی.

حضرت عمرؓ له خپلې ویناڅخه قصد څخه واوښت.[1]

هو سنت دادی چې په مهر کې ډېربنت ونکړل شي.رسول الله(ص) فرمايي: له ټولو څخه برکت په هغې نکاح کې دی چې اسانه وي.[2]

حضرت عمرؓ په اصرار کاوه چې ښځوته ډېرمال ورنکړل شي اودا جوته ده چې د رسول الله(ص) د بیبیانو مهر له پنځه سوه (۵۰۰) درهمو څخه ډېرنه و ،مګرد ام حبیبيؓ چې نجاشي رسول الله(ص) ته په نکاح کړله او څلورزره درهمه مهر یې ورته له ځانه ورکړ.[3]

په مهرکې ډېربنت له نکاح څخه خلک بې برخې کوي او اوس چې د ولورپه نامه د انجلۍ پلار ،ورور ،.....څه اخلي داد انسان پلورل او حرام

---

[1] نیل الاوطار او فقه السنه.

[2] مسند احمد

[3] ابوداود

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، او څوک چې اصيل اوازاد انسان پلوري هغه دالله(ج) دښمن دی اود الله(ج) دښمني څه کوچنۍ خبره نه ده.

سنت خودادي چې له ناوې سره د پلارکورچې څومره يې وس رسيږي کومک وکړي رسول الله(ص) زينب رضي الله عنه ته هار او فاطمي(رض) ته څادر، مشک (داوبوڅی) مېچن اونورسامان ورکړي و.

ام سلمه(رض) فرمايي چې رسول الله(ص) مورته وفرمايل چې عايشې(رض) ته جهېز برابرکړئ.[1]

مهرد ښځې خپل حق دی اوخاوند ته يې معافولی هم شي او هرجايزتصرف پکې کولی شي ،نه ولي نه دښځې خاوند اونه دبل چا څه کار غرض اواعتراض پرې شته دی اونه دهلک ولي اونه دانجلۍ ولي اونه يې بل څوک ساقطولی شي .څوکه مهرله مثل څخه کم و او انجلۍ دخپلې نکاح ترون پخپله کړی ونودانجلۍ ،ولي داعتراض حق لري .

## ګړندی (معجل) او ځنډينی (مؤجل) مهر :

دا رواده چې ښځې ته ټول مهر سمدستي ورکړلی شي اوداهم رواده چې ټول مهر وځنډول شي اوداهم رواده چې مهر په قسطونوورکړل شي اوکه يواځی مهر يې يادکړاو وخت يې ونه ټاکه نواعتبار دهغه ځای دوداورواج ته دی اوځينی علماء دا واجب ګڼي.[2]

## صحيح او فاسد مهر

[1] ابن ماجه
[2] بداية المجتهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهربه یا مال وي او یا ګټه اومنفعت نوکه مال ونوضرورده چې دا به په اسلام کې ارزښت ولري. اومعلوم به وي پداسې ډول سره چې بیا د دوارو جګړه راپیدانشي او که چېرې مهر ګټه اومنفعت ولکه مزدوري نوپکارده چې هغه داسې ګټه وي چې دهغې دکولوپه بدله کې اجوره لازمه وي ، لکه دشیخ کبیر(شعیب(ع)) او (موسی(ع))په قصه کې چې یاد شوي دي الله(ج) د(شعیب(ع)) له خولې څخه حکایت کوي فرمایي: (إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ) القصص۲۷

یعنې :وویل (شعیب(ع)) چې ښېشکه زه اراده لرم ددې چې په نکاح درکړم یوه ددوه لوڼوڅخه چې دادي پدې چې ته مزدوروداوسې زما سره اته کاله.

شپونتوب یا مېږی څرول شعیب(ع) دخپلې لورمهر وټاکه ځکه چې د شپونتوب په بدله کې مزدوري ورکول کېږي.

دا څلورځایه مهرفاسد دی درې ځایه په مال کې اویوې په ګټه اومنفعت کې.

## په مال کې

الف: داسې مال چې هېڅ ارزښت ونلري لکه څوداني غنم یا لږ اوبه یا.
ب: چې ارزښت ولري مګرپه اسلام کې نه لکه شراب ، خنزیر
ج:چې نا معلوم وي پدې ډول چې جګړه ترې جوړېږي لکه درې جوړه جامې ځکه په جامه کې خوورېښم ،کتان،مالوچ اوورئ ټول داخل دي یا لکه دوه حیوانات چې په حیواناتوکې خو اس ،خر، غوا ،پسه ټول شامل دي نود داسې شي مهرنومول فاسد دي.

## په ګټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګټه کې هغه صورت کې مهر فاسد دی چې داسې ګټه ورته وټاکي چې په بدل کې یې اجوره روانه وي لکه د قران یا یو سورت ښوونه او د امام شافعي(رح) په نزد د قران ښوونه مهر کېدلی شي ځکه چې د هغوی په نظر په قران ښوونه اجوره اخیستل روا دي.[1]

# د مهر ډولونه او حالتونه

په خاوند واجب مهر به لدې څو حالاتو څخه خالي نه وي.

## مهر مسمی یا ټاکل شوی مهر

مهر مسمی پر یو حالت کې واجبېږي چې خاوند لس شرعي روپۍ چې اوه مثقاله کېږي او یا له د پنه زیات وټاکي چې نامعلوم نه وي او ښځه او ولي یې پرې راضي وي او په صحیح تړون کې په دې درې صورتونو کې پوره مهر لازمېږي:

الف : چې خاوند له ښځې سره صحیح کوروالی وکړي، الله(ج) فرمایي :
(فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً) النساء ۲۴

یعنې : بیا کومې ښځې چې تاسې پکار راوستې (فایده موترې واخیستله) نو دوی له ورکړئ د دوی حق کوم چې مقررشوید ی.

ب : چې له هغې سره صحیح خلوت وکړي ځکه چې ښځې خپل ټول بدن خاوند ته سپارلی و اود یوځای والي هېڅ مانع نه وي.

ج : چې له خاوند او ښځې څخه یو مړ شي که څه هم دخول او صحیح خلوت نه وي شوی چې لړوروسته به صحیح خلوت وپېژنو.

[1] المهذ ب للشیرازی

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لږ مهر

الف: له مهرمثل او ټاکلي مهر څخه په یو حالت کې کم واجبیږي هغه داچې د نکاح تړون فاسد وي او ښځې ته صحیح مهر وټاکل شي او کوروالی ورسره وکړي نو که خاوند مهر سل روپۍ وټاکه او مهر مثل دوه سوه روپی وه نو سل روپی یې حق کیږي او که خاوند ورته سل روپۍ مهر وټاکه او مهر مثل پنځوس وو پنځوس روپۍ یې حق کیږي.

ب: د مهر کمه اندازه په یوه حالت کې واجبیږي هغه دا چې کله له لس روپیو څخه کم مهر وټاکل شي او یا یې ارزښت وټاکل شي نو د امام ابوحنیفه او صاحبانو په نزد لس روپی لازمیږي او د امام زفر(رح) په نزد مهرمثل لازمیږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

## مهر مثل

مهرمثل د نجلۍ د پلار له پلوه د دوستانو مهر دی لکه خورګاني، ترورګاني، د تره لورګاني پدې شرط چې له هغې سره په عمر ،ښکلا، اوښایست ،شتمني ،وخت ،عقل ،پوهه ،پاکي،علم ،پیغلتوب اویا کونډتوب کې برابره او مساوي وي او که د پلار په دوستانو کې ددې مثل نه وو د موریه دوستانو کې به یې مثل ته وګوري او دهغې مهر به ورته ټاکي.

مهر مثل په لاندې حالاتو کې واجبیږي.

الف: چې نه د ښځې خاوند اونه یې ولي دتړون په وخت کې مهر وټاکي لکه چې تړون مطلق وي او مهر یاد نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: چې د تړون په وخت کې مهر ونه ټاکل شي او ښځه له کوروالی څخه وړاندې وغواړي چې مهر ورته وټاکل شي او خاوند یې نه مني او ښځه قاضي ته ورشي او قاضي له خاوند څخه د مهر د ټاکلو غوښتنه وکړي او هغه انکار وکړي نو مهرمثل لازمېږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج: چې خاوند یا ولي مهر بالکل پرېږدي

چې مهر یاد کړي مګر فاسد مهر وي لکه هغه څلور صورتونه چې مخکې موو ویل.

د: چې ښځه عاقله او بالغه وي او د ولي له اجازې څخه پرته خپله نکاح وکړي او مهر یې له مثل څخه کم وي.

ه: چې خاوند ورته له لسو روپیو څخه کم مهر وټاکي نود امام زفر (رح) په نزد مهر مثل لازمېږي.

و: په شغار نکاح کې.[1]

## نیم مهر

کله چې خاوند له ښځې سره د نکاح صحیح تړون وکړي او مهر ورته وټاکي خو مخکې له دې چې له هغې سره کوروالی وکړي او یا صحیح خلوت واقع شي نو ښځه جدا کړي او د خاوند له خوا د نکاح رسۍ وشلېږي نو نیم مهر لازم دی الله (ج) فرمايي: (وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ) البقرة ۲۳۷.

یعنې: که چېرې مو طلاقې کړې دوی مخکې له لاس وررسولو څخه او ټاکلی مو وي هغوی ته مهر نو لازم شو نیم مهر د هغه کوم چې مو ټاکلی وي.

## متعه

[1] الاشباءوالنظائر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ښځه له خاوند سره له کوروالي اوصحیح خلوت څخه مخکې بېله شي نو په خاوند متعه واجب ده الله(ج) فرمايي: (لاَّ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاء مَا لَمْ تَمَسُّوهُنُّ أَوْ تَفْرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدْرُهُ) لبقرة ۲۳۶.

يعنې: هېڅ ګناه نشته پر تاسو که چېرې طلاق ورکړئ ښځو ته هغه وخت پورې چې تاسې ورسره لاس هم نه وي لګولی اونه مودوی ته څه مهرټاکلی وي اوهغوی ته څه خرچه ورکړئ ،د وسې خاوندان له خپل وسې سره سم اوبې وسه له خپل وسې سره سم .

دمتعې په اندازه کې دنظر اختلاف دی ځينې وايي چې دخاوند حالت (شتمني اونيستئ)ته اعتباردی اوځنې وايي چې دښځې حالت ته اعتبار دی اوځينې وايي چې ددواړوحالت ته به کتلی شي خو په هر حال د مهر مثل له نيم څخه به زيات نه وي او له پنځو درهموڅخه به کم نه وي امام شافعي(رح) طلاقې شوې ښځې ته متعه واجب ګڼي که ښځه عاقله اوبالغه وي نو خپل مهر به خپله قبضوي (تسليموي) اوکه صغيره ليونۍ ياپاګله وي نو مهر به يې ولي قبضوي.

## صحيح خلوت

کله که ښځه اونارينه پداسې ځای کې سره يوځای شي چې د بل له کتلواو د دوی له اجازې پرته ددوی په حال له خبرېدلوڅخه په امن وي اوله دوی څخه په يوه کې څه علت هم نه وي چې د وطې ممانعت وکړي نو دادحقيقي وطی معنی ورکوي.

## د وطې مانع په درې ډوله ده

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. طبعي مانع لکه چې مېړه کوچنی وي او په دوی کې يو د جماع قدرت ونلري او يا ښځه نفاسه او يا حايضه وي.
۲. جنسي مانع لکه چې خاوند يا ښځه ناروغه وي.
۳. شرعي مانع لکه چې له دوی څخه يو د حج په احرام کې وي يا يې فرض روژه نيولې وي او نفلي روژه مانع نده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

# طلاق او بېلتون

## حکم او پېژندنه

## پېژندنه او روا والی

### الف: پېژندنه

ځيني علماء وايي چې طلاق بېلتون ته وايي او ځينې وايي چې طلاق دقيد (ولکې)لرې کولو ته وايي، او په اصطلاح کې د سړي له خوا فی الحال ياوروسته د صحېحې نکاح له منځه وړلو ته طلاق وايي.

دطلاق روا والی په ايت حديث ،اجماع اوعقل ټولو ثابت دی الله(ج) فرمايي: (الطَّلاَقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ) البقرة ۲۲۹.

يعنې : طلاق (رجعي) دی دوه کرتو پورې له دې څخه پس ساتل دي د ستورپه طور (شريعت مطابق) يا پرېښودل دي په ښه ډول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(لاَّ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاء مَا لَمْ تَمَسُّوهُنُّ) البقرة ۲۳۲.

یعني: هیڅ ګناه نشته په تاسو کې که چیرې ورکړې تاسو ښځوته طلاق تر هغه وخته پورې چې تاسو لاورپورې لاس نه وي لګولی

(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ) لطلاق۱.

یعنې: ای پیغمبره په هغه وخت کې چې طلاقولې تاسو ښځې پس طلاقوی هغوی په وخت د عدت د هغوی کې.

له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله(ص) فرمایي ام الموئمنین بی بی حفص(رض) طلاقه کړله اوبېرته یې ورته رجوع وکړله ابوداود.[1]

له عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې زما یوه ښځه وه چې ماته ډېره ګرانه وه خو زما د پلار نه خوښېدله هغه ماته امروکړ چې طلاقه یې کړه خوما انکاروکړهغه دایادونه رسول الله(ص) ته وکړله هغه وفرمایل ای د عمر رضي الله عنه زویه طلاقه یې کړه.[2]

ټول فقها د طلاق په ورا والي متفق دي اوداسې واقعې ډېرې شوي هم دي مګرهېچامنع کړي نه دي،اوعقل هم دامني داسې چې خاوند د ښځې په اخلاقو کې داسې څه پیداکړي چې تحمل یې نلري ګوذاره ورته سخته شي اوژوند له ناخوالو سره مخ شي نو اخر څه وکړي؟

نو اسلام دا روا کړي چې په دغسې یو لړ حالاتو کې دو ی سره بېل شي خاوند ته یې د طلاق اجازه ورکړله اوښځې ته یې هم دا اجازه ورکړه چې له

[1] نسائی اوابن ماجه.
[2] بخاري ،مسلم ،ترمذی اوابن ماجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېږه ځخه طلاق وغواړي ان د ځان د جدايۍ په بدل کې خاوند ته خورا څه مال هم ورکړي ،اوکه خاند نو غوښتل نو ښځه موضوع قاضي ته وړاندې کولی شي تر څو هوسا اوسوکاله ژوند وکړي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج: د طلاق د رواوالي حکمت

له نکاح څخه عرض د خاوند اوښځې تر منځ دوستي ، مینه محبت اویوپر بل رحم دي ښځه اوخاوند باید یوپربل رحم وکړي اویود بل اسانتیا اوسهولیت اوخوښۍ لپاره خپل ټول کوښښونه وکړي اود دوستۍ فضا قایمه کړي مګرکله داسې هم کېږي چې دا مینه محبت په کرکه او نفرت او ناخوالوبدل شي د دوی اړیکې خرابي شي څکه د ژوندون د سفرلکه ببړۍ تل په یوحال کې نه وي کېدا شي چې هغوی ته یوپر بل بد ګوماني اوبد فهمي پیداشي د ژوند په تېرولوکې ستونزه رامنځ ته شي اوډېرسخت وي چې دا خړه فضا اوتاوتریخوالی ببرته سم کړلی شي اودواړه یوځای کړلی شي اوزوړونه یې ولګېږي اوپه اسانه یود بل حقوق ادا کړي اوڅه تدبیر هم کارونکړي نوپه دط وخت کې اسلام طلاق رواه کړی ترڅوهریوځان ته نوی ژوند پیل کړي کېداشي چې د تېر ژوند په انډول به یې ګانده(راتلونکې) په اطمنان اوسوکالۍ کې تېرشي اوطلاق ددې ناروغتیا لپاره ورستی علاج دی اسلام وایي چې انسان بایدپه طلاق کې بې صبري اوببړه ونه کړي اول باید په پاکوالي کې ته یوطلاق ورکړي څکه کېدلي شي چې د عدد په دې موده کې دمبړه په خاطروکې د ژوندون تېرې خوږې شپې رایادې شي په خپلوکړوپښېمان شي اوښځې ته رجوع وکړي اودا هم کېدای شي چې ښځه د خپل خاوند د وزړه د ساتلولپاره په خپل نظرکې تجد ید وکړي نوڅکه ببړه ښه ونه ګڼل شوه.

طلاق په یهودیت کې هم شته دی خوکله چې یهودي دطلاق قصدوکړي نوپه دې مذهب کې ښځه پرې حرامه شوله اودنیت تنفید پرې واجب دی.[1]

---

[1] حقوق المراة فی الاسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو که کله کومه بله ښکلې ښځه وګوري او دهغې دنکاح کولو په غرض یې طلاقوي نو دا دهغوی په نظرهم صحیح نه ده.

## د: په عام ډول د طلاق حکم

د طلاق د عام حکم په هکله علما دوه نظره لري.

اکثره فقها وایي چې طلاق بې له کوم شرعي سبب څخه رواه نه دی او اصل په طلاق کې منع ده الله(ج) فرمایي : (فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً) النساء ۳۴

یعنې: پس که فرمانبرداری وکړله دوی ستاسو پس مه لټوئ تا سو په دوی باندې څه لاره رسول الله(ص) فرمایي: (ابغض الحلال ال الله الطلاق)[۱].

یعنې ډیر ناخوښ په حلالو کې د الله(ج) په نزد طلاق دی.

همدا راز فرمایي طلاق مه ورکوئ ځکه هیبت د الله(ج) عرش خوزوي.
اوځینی فقها وایي چې اصل په طلاق کې اباحت دی که څه هم هیڅ اړتیا ورته نه وي ځکه چې الله(ج) فرمایي : (لاَّ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاء مَا لَمْ تَمَسُّوهُنُّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً) البقرة ۲۳۶

یعنې: هیڅ ګناه نشته په تاسو که چیری طلاق ورکړی تاسو ښځوته هغه وخت پورې چې تاسو ورپوری لاس هم نه وی لګولی. مګر که دنکاح اصلي

[۱] ابوداود ،ابن ماجه او المستدرک للحاکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حد ته ځير شونولومړی، وينا صحيح ښکاري اوپدې ايت کې ګناه نشتوالی په هغه چا دی چې طلاق يې د څه لامل لپاره وي.

حضرت ثوبانؓ روايت کوي چې رسول الله(ص) فرمايي هرې ښځې چې بې له کوم شرعي لامل څخه طلاق وغوښت نود جنت بوی پرې حرام دی.[1]

الف : دطلاق حکم دښځې او خاوند حالت ته په کتنې سره

۱. واجب طلاق: کله چې دښځې اوخاوند مشرانً حکمينً دانظريه ورکړي چې نور د دوی د يوځای ژوندون ناممکن دی يا دا چې ښځه ناپاکه (زناکاره)وي.

۲. مستحب طلاق : په هغه صورت کې چې ښځې د الله(ج) حکم نه پرځای کوي لکه لمونځ ،روژه ،اونوراوخاوند يې له اړيا سلو څخه عاجزشي.

۳. مباح طلاق :په هغه صورت کې چې ښځه بداخلاقه وي خو دومره نه چې خاوند حوصله تنګه کړي اونورصبر نکړلی شي.

۴. مکروه طلاق:چې دطلاق لپاره کوم پياوړی لامل نه وي اوښځه بداخلاقه وي خو دومره نه چې د خاوند حوصله تنګه کړي اوصبريې تمام شي.

۵. حرام طلاق: چې هيڅ شرعي سبب نه وي مثلا :دبلې ښځې ښکلا يې خوښه شي اوداورته طلاقه کړي الله(ج) فرمايي : (فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُواْ عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً ) النساء ۳۴.

يعنيً پس که فرمانبرداروي وکړله دوی ستاسو پشان مه لټوئ په دوی لاره.

---

[1] متفق عليه

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یهودیت کې د طلاق لپاره شپږ اسبابه دي :

۱. چې ښځه زنا کاره وي.

۲. چې ښځه شنډه وي.

۳. چې ښځه بداخلاقه وي.

۴. چې د هغه په خلقت یاغړو کې عیب وي.

۵. چې اوازه خپره شي چې دې ښځې زنا کړېده که څه هم دا جوته نشي.

اوکله چې څوک له یوې ښځې سره لس کاله تېر کړي او اولاد یې ونشي نو په دې حالت کې طلاق واجب ګڼي.

ب : طلاق د سړیو په واک کې دی

ټول فقها پدې متفق دي چې طلاق د سړي په اختیار کې دی اوښځه نشي کولی چې خاوند ته طلاق ورکړي ،داځکه چې نارینه په هرکار کې فکرکوي د هغه عواقب (پای) سنجوي پدې هکله مو په تېرو مخونو کې لنډه یادونه کړېده وګورئ شبهه به طلاق کې.

الله(ج) فرمایي : (یَا أَیُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ) الطلاق۱

یعنې: ای نبي کله چې طلاقې کړلې تاسې ښځې.

(لاَّ جُنَاحَ عَلَیْکُمْ إِن طَلَّقْتُمُ) البقرة۲۳۶.

یعنې:نشته په تاسې څه ګناه که طلاقې موکړې ښځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ) النساء ۲۰

يعني: او که اراده وکړله تاسې په بدل کې اخيستل د يوې ښځې په ځای د بلې ښځې،نو پدې اياتونو کې خطاب نارينه و ته دی.

ددې معنی دانده چې ښځه هېڅکله هم طلاق نشي غوښتلی ،که چېرې رښتيا هم د طلاق اړتياوي نو ښځه قاضي ته مراجعه کولی شي قاضي به حالات څېړي که چېري ضرورت و نو قاضي ښځه طلاقولی شي خو د خاوند ورکړې شتمني به بېرته ورکوي.

## ج: طلاق او قاضي

طلاق د قاضي په واک کې نده اوداځکه چې دخاوند اوښځې ډېر رازونه اواسرار دي چې له هغوې داوړو څخه پرته دبل چا خبرول پرې نامناسب دي اونه يې چاته ښکاروي اوکېدلی شي چې دخاوند اوښځې زړه بداوی هم په داسې يو څه پيداشوي وي چې دهغه ښکارول قاضي ته څه چې نژدې دوست حتی موراوپلارته هم پکارندي نو ځکه اختيارخاوند ته ورکړل شوترڅو قاضي دښځې اوخاوند له اسرارو څخه خبر نشي.

د: دطلاق شرطونه:دطلاق عمده اومهم شرط دادی چې ښځه اوخاوند د الله(ج) داينبودل شوي حدودو په ساتنې سره خپل يوځای ژوند تېرولو ته دوام ورنکړلی شي الله(ج) فرمايي: (فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ) البقرة:۲۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنېٍ:اوکه وېرېږئ تاسې چې وبه نشي ساتلي دادواړه احکام دخدای پس نشته هېڅ ګناه پدې دواړو په هغه ځيزکې چې فديه ورکړي دابنځه په هغه ځېزسره.

خوددې برسېره ځيني شرطونه په خاوند ځينې په ښځه اوځينې د طلاق په لفظ پورې اړه لري چې ددې هريولنډه يادونه به وکړو.

## الف: د طلاق ورکوونکي شرطونه

طلاق ورکوونکی بايد عاقل، بالغ وي بشپړ اهليت ولري پدې ډول سره چې دهغه طلاق ورکول دسوچ اوفکر ځخه وروسته وي اراده،اختيارارضاولري، خودابايد په ياد ولروچې يوانسان ښځې ته دطلاق لفظ استعمال کړي که، د طلاق قصدولري اوکه ټوکه يې مطلب ونو دده طلاق واقع کېږي ، الله(ج) فرمايي: (وَلاَ تَتَّخِذُوَاْ آيَاتِ اللّهِ هُزُواً ) البقرة ۲۳۱.

یعنېٍ : اومه نيسئ دالله(ج) ايتونه په ټوکوسره.

رسول الله(ص) فرمايي: (ثلاث جدهن جد وهزلهن جدالنکاح والطلاق والرجعة).

یعنېٍ: درې شيان دي چې رښتيا يې هم صحيح ده اوټوکه يې هم رښتيا ده (واقع کېږي) هغه نکاح،طلاق اورجعت دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جاهلیت کې به ځینو خلکو ښځې طلاقې کړلې یا به یې مرئیان ازاد کړل بیا به یې ویل چې ماټوکې کړیدي نو الله(ج) فرمایل چې دټوکو طلاق هم صحیح دی.[۱]

امام احمد وایي چې د ټوکه کوونکي طلاق صحیح دی.[۲]

دلته باید دمکروه اوبې هوښ طلاق ته هم اشاره وکړو.

www.melitahrik.com
0777 400 116

[۱] معارف القران.
[۲] نیل الاوطار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مکره طلاق

مکره یا اړوتی هغه دی چې څوک یې د ښځې طلاقولو ته اړباسي اودزوراندازه به داوي چې په وژلویا دکوم غړي په له منځه وړلو تهدید کړلې شي ،لدې څخه کم لکه څو څپېړې وهل ،بندي کول اکراه نه شمېرل کېږي.

نوکه چاڅوک دښځې طلاقولو ته اړباسه اوهغه هم دطلاق لفظ استعمال کړ نو ایادا طلاق صحیح دی ؟ د جمهور فقهاوولکه ابن عباس رضي الله عنه امام شافعي ،امام مالک ،امام احمد(رح) په نزد دا طلاق نه واقع کېږي.[1]

دلیل یې هغه حدیث دی چې ابن عباس روایت کړی دی (رفع عن امتی الخطاوالنسیان وما استکرهوا علیه).[2]

یعنې: پورته شوی دی زما له امت څخه خطا ،هېره،اوهغه څوک چې په دوی دبل په زور کېږي.

همدا راز رسول الله(ص) فرمایي: لا طلاق فی اغلاق.

یعنې : نشته طلاق په سخته کې.

امام شافعي(رح) دطلاق لپاره څوشرطونه ایښې چې په لاندې ډول خلاصه کېږي.

۱. چې په ده زور کوونکی قوت اوځواک ولری اودا دفاع ونشي کړلی.

---

[1] بدایه المجتهد ،المهذب اونیل االاوطار.

[2] ابن ماجه دارقطني ،طبرانی اونیل االاوطار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. چې ښه یقین ولري چې خپل هوډ عملي کوي یعنې پر ما دا ښځه طلاقوي.

۳. که ښځه طلاقه نکړي نووژني یې یا یې کوم غړي غوڅوي یا یې ډېره موده بندي کوي یا یې ډېر سخت وهي.

۴. چې د تلفظ په وخت کې په زړه کې د طلاق هوډ ونه کړي او که د طلاق هوډ او نیت یې هم وکړ نو پرې طلاقه ده.

۵. چې هماغه الفاظ استعمال کړي چې پرې مجبورېږي مثلا که هغه ورته وویل چې یوه طلاقه کړه او ده دواړه طلاقې کړلې او یا هغه ورته وویل چې خپل ښځه عایشه طلاقه کړه او ده فاطمه طلاقه کړه نو دا طلاق یې صحیح دی.

۶. چې زورکوونکی د طلاق صلاحیت ونلري مثلا: د یوې ښځې خاوند یو څوک خپل وکیل وټاکه چې دده ښځه دده له پلوه طلاقه کړي او هغه دا کارونه کړ او ده مجبوره کړه نو دا طلاق واقع کېږي.

نو که دا شرطونه پوره وو نو اکراه صحیح ده او که پوره نه و طلاق واقع کېږي د احنافو په نزد صحت او اختیار (روغتیا او واک) د طلاق لپاره شرط ندي د ناروغ، مکره، بېهوښ، او کم عقل، ټولو طلاق صحیح ده امام ابوحنیفه په (رح) وایي مکره په خپل اختیار د ښځې طلاق غوره کړ ځکه چې زورکوونکي ده ته د طلاق او عذاب ترمنځه واک ورکړ پدي ترتیب چې (یادي ښځه طلاقه کړه او یا دي وژنم) نو ده په خپله خوښه طلاق غوره کړ او بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالکه دټوکي که څه هم د طلاق اراده نه لري مګرپه خوله يې د طلاق لفظ استعمال کړ.[۱]

مګرپر ټوکي دده قياس کمزوری دی ځکه چې ټوکي لوبې کوي اوپه خپله خوښه اواراده غږېږي اوداخود طلاق هوډ نه ده ،بلکې له ځان څخه دضرر ددفاع هوډ لري ، بل دا چې که څوک په کفرمجبورشي اوچا پرې په زوردکفرکلمه وويله نوهغه نه کافر کېږي سره له دې چې ايمان اساس اوبنسټ دی الله(ج) فرمايي : (إِلاَّ مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالإِيمَانِ) النحل : ۱۰۶

يعنی مګرهغه څوک چې زورپری وکړلی شي حال داچې د ده زړه ارام نيوونکی وی په ايمان سره؛ نوطلاق به يې څنګه صحيح شي چې يوه فرعي خبره ده ؟

د : بېهوښ طلاق

علما پدې متفق دي چې که بېهوښ په مباح څيزبېهوښ شوی وي اوپه قصد يې ځان بېهوښ کړی نه وي (لکه په زوريا په هېره بېهوښ شوی وي) نود ده طلاق نه واقع کېږي خوڅوک چې په حرام څيز بېهوښ شي نودحنابله ووپه قوي روايت اوله حنفيانو څخه کرخي، طحاوي، زفربن هزيل اوليث بن سعد ، اسحاق بن راهويه ،محمد بن سلمه ،ابوثور(رح) له شافعي مذهب څخه او اکثره مالکيان وايي چې داطلاق نه صحيح کېږي ځکه چې داهوډاواراده نلري.[۲]

---

[۱] حاشيه فتح القدير .

[۲] فتح القدير ،شرح الهدايه.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام شافعي، اکثره حنفیان او ځینې مالکیان وایي چې طلاق یې واقع کېږي ځکه چې ده شراب پخپله خوښه څښلي او په دې هم پوهېږي چې ناوړه اغېزه لري.[۱]

امام مالک(رح) امام شافعي او داحنافو یوه ډله وایي چې هرڅوک په خطایې سره (نورې خبرې کوي ناڅاپه غیراختیاري د طلاق لفظ استعمال کړي) ښځې ته طلاق استعمال کړي نو طلاق یې نه صحیح کېږي.[۲]

www.melitahrik.com
0777 400 116

[۱] بدایه المجتهد نیل الاوطار
[۲] فتح القدیر اوالمهذب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب : شرطونه په ښځه کې :

مهم او عمده شرط دا دی چې دا ښځه د خاوند حقیقي یا حکمي ښځه وي داسې چې له خاوند سره یې د نکاح قید پوره شوی نه وي او په لاندې صورتونو کې ښځه د خاوند حکمي ښځه وي.

۱. د رجعي طلاق په عدت کې.

۲. چې خاوند دوه طلاقه ورکړې وي.

۳. هغه چې د فسخې د بېلتون له لامله په عدت کې وي.

## ج: د طلاق په لفظ کې شرطونه

هر لفظ چې د نکاح د صحیح تړون د قید په پورته کولو سمدستي وروسته دلالت کوي او له داسې چا څخه صادر شي چې د طلاق ورکولو حق ولري او ښځه یې حقیقي یا حکمي ښځه وي نو پدې لفظ سره ښځه طلاقېږي ، که په لفظ سره وي ، که په لیکنې سره او که په نغوتې سره .د طلاق په لفظ کې دا څو شرطونه حتمي دي.

۱. چې د طلاق په معنی او پردې پوه وي چې زه څه وایم او که په معنی یې نه پوهېده نو طلاق نه صحیح کېږي.

۲. چې طلاق د الله(ج) په رضا او خوښې پورې اړوند نه وي ځکه چې د الله(ج) خوښه په طلاق کې نشته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. طلاق به په داسې الفاظو سره وي چې ښځې ته يې حقيقي نسبت شوی وي لکه ته طلاقه يې، ښځه مې طلاقه ده يا حکمي نسبت لکه که دا کار مې وکړ ښځه مې دې طلاقه وي او که ښځې ته پکې نسبت نه وي شوی نو نه صحيح کيږي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طلاق ډولونه او وېش

### ۱. د طلاق د لفظ ډولونه

د طلاق لفظ به یا صریح وي یا به کنایه (غیرصریح)وي

### الف: صریح طلاق

هغه دی چې له طلاق څخه پر ته بل مفهوم په لغت اودوداودستورکې ونلري لکه ته طلاقه یې ته پرما حرامه یې داطلاق واقع کېږي اودطلاق ورکوونکي په نیت پورې هېڅ اړه نلري ځکه نیت ته په مبهمواونامعلومو مسائلوکې اعتبار دی اوپدې کې هېڅ ابهام نشته دی.

### ب: طلاق په کنایاتو

دا هغه لفظ دی چې ډاګیزه په طلاق دلالت نه کوي اودود او دستورهم دطلاق لپاره نه وي تاکلی خودطلاق احتمال لري، لکه ستاکار ستا په لاس کې شو، پلارکره لاړه شه، ورځې دې وشمېره نوپدې الفاظوکې علماء دنظراختلاف لري.

۱. حنفیان اوحنابله وایي که چېری خاوند دطلاق هوډ درلود اویاهغه وخت او حالاتوپه طلاق دلالت کاوه نوطلاق واقع کېږي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوافع اومالکیان وایي که خاوند دطلاق هوډ درلود نوطلاق واقع کېږي اوکه د طلاق نیت یې نه درلود نوطلاق نه واقع کېږي اودوخت اوحالاتو دلالت ته هېڅ اعتبارنشته دی.[۱]

www.melitahrik.com
0777 400 116

[۱] المهذب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طلاق وېش

## الف: د طلاق وېش د مودې له لحاظه

طلاق دزماني دوېش له لحاظه درې ډوله دی :

۱. طلاق په حاضر وخت کې :

هغه چې دطلاق لفظ له هر شرط او نېټې څخه خالي وي لکه ته طلاقه يې ،طلاقه مې کړلې نو دلفظ په استعمال سره سمدستي طلاق واقع شو.

۲ : چې دطلاق د الفاظو نسبت راتلونکي زماني ته وشي لکه ته سبا طلاقه يې يادراتلونکې مياشتې په لومړۍ ورځ طلاقه يې نود جمهورو فقهاوو (ابوحنيفه ،شافعي او احمد) په نزد دا طلاق هغه وخت واقع کېږي چې نسبت يې ورته شوی وي.

خوامام مالک(رح) وايي چې : دا طلاق سمدستي واقع کېږي.

۳معلق طلاق: هغه دی چې دطلاق الفاظ په يوراتلونکي کار پورې اړوندشي لکه که زه فلاني ځای ته لاړم نو ته طلاقه يې نوداطلاق يې دهمدې کار په حاصلېدلو سره واقع کېږي ،دصحابه وو په عصرکې هم داسې ډېر شوي دي ،يوسړي خپلې ښځې ته وويل که چېرې ته بهروو تلې نو طلاقه يې ،عبدالله ابن عمرؓ ورته وويل که بهروو تله نو طلاقه ده اوکه ونه وتله نو هېڅ نشته.

ظاهريان وايي چې دا طلاق لغوه دی اوهېڅ اغېزه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب : د طلاق وېش د شرعي صفت له لحاظه :

ددې لپاره چې دښځې دعدت موده اوږده نشي ځکه دادښځې لپاره لوی زیان دی اوددې لپاره چې خاوند اویاحمل ته زیان ونه رسېږي نوشارع امر وکړ چې که تاسې ښځې طلاقول غواړئ نو له حیض اونفاس څخه په پاکوالي کې یې طلاقې کړئ اوپه یوځل له یوڅخه ډېرطلاق مه ورکوئ اوپه داسې پاکئ کې طلاق ورکړئ چې کوروالی موورسره پکې نه وي کړي نو که دا احکام مراعات شول نو دیته سني یا دسنتومطابق طلاق وایي اوکه نه نو دادسنتو مخالف اویا "بدعی" طلاق دی الله(ج) فرمایي: (الطَّلاَقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ) البقرة ۲۲۹.

یعنې :رجعي طلاق دوه ځلې وري دی لدې څخه وروسته ساتل دي دد ستورمطابق(دشریعت موافق)یا پرېښودل دي په ښه شان سره.

مطلب داچې دطلاق ښه طریقه داده چې یو په بل پسې وي پداسې شان سره چې خاوند وکولای شي چې ښځې ته پکې رجوع وکړي اویا یې پرېږدي نو معلومېږي چې سني طلاق رجعي طلاق دی اوالله(ج) فرمایي: (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ) الطلاق۱

یعنې: ای پیغمبره هغه وخت چې طلاقوئ تاسې ښځې نو طلاقوئ یې په وخت دعدت د هغوی کې.

مطلب دا چې داسې وخت کې طلاق ورکړئ چې هغوی له طهر(پاکوالي)سره مخ کېږي ځکه چې که دحیض په وخت کې طلاق ورکړئ نو هغه همداسې پاتې کېږي تر هغه یې چې داحیض خلاص شي اودا طهر یې هم خلاص شي اوبیا حایضه شي اودنوي حیض له پیل څخه دهغې عدت پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي نو دا به ښځې تکلیف اوهغې ته زیان دی اوکه په طهرکې یې طلاقه کړي چې په همدې طهرکې یې ورسره جماع کړې وي نو انسان نه پوهېږي چې ایا دا حامله ده اوکه نه ؟کېدلی شي چې هغه حامله وي اوبیا انسان ته پښېمانی ورشي.

ابن اعباس رضی الله عنه ددې ایات په معنی کې فرمایي: (چې له کوروالي څخه پاکه وي).

## بدعي طلاق حکم

څلورواړه امامان متفق دي چې بدعي طلاق واقع کېږي مګرطلاق ورکوونکی ګناهګارشولکه دجمعې په ورځ له اذان وروسته پېرل اوپلورل.[1]

دلیل یې دادی چې یوکس خپلې ښځې ته په حیض کې درې طلاقه ورکړل عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ورته وویل :دالله(ج) نافرماني دې هم وکړله اوښځه دې هم جدا کړله.[2]

عبدالله ابن عمر رضی الله عنه خپلې ښځې ته په حیض کې طلاق ورکړحضرت عمر رضی الله عنه د رسول الله(ص) په حضورکې ددې یادونه وکړله، رسول الله(ص) ورته وفرمایل:هغه ته امر وکړه چې ښځې ته رجوع وکړي اوبیا دې یې په طهر کې طلاقه کړي.[3]

د استدلال وجه یې دا ده چې رسول الله(ص) هغه ته امر وکړ چې ښځې ته رجوع وکړي اورجوع خو له طلاق څخه وروسته وی نو جوته شوه چې

---

[1] فتح القدیراونیل الاوطار.
[2] مسلم
[3] بخاري.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا*بدعي *طلاق واقع کېږي. یوه ډله له شیعه معتزله وو ،ځینې فقها ،ابن حزم ظاهري،ابن تیمیه،اوابن قیم جوزي وایي چې داطلاق نه واقع کېږي.دلیل یې هغه حدیث دی چې رسول الله(ص) فرمایي : کُل عمل لیس علیه امرنا فهورد.[۱]

یعنې: هرکاراوعمل چې زموږ له وینا سره موافق نه وي هغه رد دی.

مګرداحدیث عام دی اودلومړۍ ډلې ددلایلو په وړاندې تاب نشي راوړلی.

## دري طلاقه

څوک چې دري طلاقه په یوه لفظ کې راجمع کړي لکه دري طلاقه مې درکړل یایې دري ځله یاد کړي چې تاکید یې ورڅخه غرض نه وي ،لکه ته طلاقه یې ، ته طلاقه یې، ته طلاقه یې،نوځلور واړه امامان(رح) سیدناعمر،ابن عمر،عایشه(رض)،علي رضي الله عنه اواکثره تابعین وایي چې دا دري طلاقه واقع کېږي ،اوحسن بصری ،عطاء طاوس،عبیدالله ابن جبیر(رح) وایي: که کوروالی ورسره شوی وي نو دري طلاقه واقع کېږي اوکه کوروالی ورسره نه وي شوی نویوواقع کېږي.[۲]

---

[۱] متفق علیه.

[۲] نیل الاوطاراوحاشیه ابن عابدین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳. د طلاق ډولونه

## الف:رجعي طلاق

هغه طلاق دی چې مېړه کولای شي ښځې ته پکې دهغې د عدت له تېریدلو څه د مخه رجوع وکړي.

کوم طلاق رجعي دی؟

د امام ابو حنیفه(رح) په نزد هر طلاق رجعي دی ،مګر له کوروالي څخه دمخه ،طلاق دمال په بدل کې (خلع) ،کنایه طلاق، هغه چې هدف ورڅخه تاکید وي ،بائن طلاق اوهغه چې دریم پوره کوي.

د امام مالک(رح) په نزد :هرطلاق رجعي دی مګر طلاق له کوروالي څخه دمخه ،طلاق دمال په بدل کې ،هغه چې دریم پوره کوي اوهغه چې خاوند ښځې ته د ځان واک ورکړی وي اوهغه ځان بېل کړي.

دامام شافعي(رح) او امام احمد په نزد :هرطلاق رجعې دی مګرطلاق له کوروالي څخه دمخه اوطلاق دمال په بدل کې اوهغه چې دریم بشپړوي.

## د رجعي طلاق اغېزې

۱. دنکاح رابطه (لړی) پرې نه غوڅېږي مګر دطلاق په شمېره کې حسابېږي یعنې خاوند له دې وروسته ددوه طلاقو واک لري.

۲. خاوند کولای شي چې دعدت له بشپړېدلو څخه دمخه ښځې ته رجوع وکړي.

۳. یوله بل څخه د مړینې په صورت کې میراث وړي.

۴. ترڅوېې چې عدت پوره نشي ښځه ځنډینی (مؤجل) مهر غوښتلای نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. نفقه يې پر خاوند واجبه ده.

۲. که چېرې عدت بشپړشو اوخاوند ښځې ته رجوع ونکړله نو دابائن طلاق ګرځي.

په رجوع کې د ښځې خوښه شرط نه ده اونه دګواهانو حاضرول ضرور دي اودرجعي طلاق په عدت کې ورته رجوع کولی شي الله(ج) فرمايي: (وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ) البقرة ۲۲۸.

يعني اودهغوی خاوندان حق لري دهغه په راګرځولو په دغه موده کې اودامام شافعي(رح) په نزد رجوع يوازې په وينا ده اودګواهانو حاضرولوکې له هغه څخه دوه روايته دي.[۱]

## د نکاح اورجعت توپير

۱. نکاح له ګواهانو څخه پرته نه صحيح کېږي اوپه رجوع کې د ګواهانو حاضرول ضرورندي.

۲. په نکاح کې دښځې خوښه اورضا ضرورده او په رجعت کې ضرورنده.

۳. په نکاح کې مهر حتمي دی اوپه رجعت کې نشته.

۴. نکاح هروخت روا ده اورجوع يوازې په عدت کې ده دعدت له تېرېدلو څخه وروسته رجوع صحيح نده.[۲]

## ب: دوه طلاقه يابينونه صغری

[۱] المهذب
[۲] الاشباه والنظائر\شيخ زين العابدين محمد بن ابراهيم بن نجيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه طلاق دی چې له نوي مهر او نوي تړون څخه پرته پکې خاوند ښځې ته رجوع نشي کولی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



احکام یې

۱. دښځې واک او اختیار په ښځه له منځه وړي خو پرې حرامه نده او په نوی تړون او مهر ورسره نکاح کولی شي.

۲. د طلاق په شمېره کې حسابېږي یعنې خاوند لدې څخه وروسته یوازې د یو طلاق واک لري.

۳. د طلاق په واقع کېدلو سره به خاوند ښځې ته ځنډنی یا مؤجل مهر ورسپاري.

۴. که د طلاق په عدت کې هر یو مړشونو بل میراث نشي وړلی.

ج: درې طلاقه یا بینونه کبری

پدې طلاق کې هم خاوند نه ښځې ته رجوع کولی شي او نه ورسره نکاح کولی شي مګر کله چې ښځه له بل کس سره نکاح وکړي او له سرې سره یې حقیقي دخول(کوروالی) صورت ومومي بیا یې پخپله طلاقه کړي او یا ورڅخه په فسخې جدا شي او یا خاوند مړشي.

کله چې خاوند ښځې ته درې طلاقه ورکړي او یاد بینونه صغری عدت پوره شي نو بینونه کبری واقع کېږي، پدې طلاق کې د خاوند اختیار پر ښځه له منځه ځي او بیا ترڅو یې چې له بل چا سره نکاح نه وي کړې نو ده ته روانه ده ځکه چې پدې کې مېړه ته لوی تهدید او رسوایي ده چې څوک بې ځایه داسې کار ونکړي.

د قاضي طلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول علماء پدې متفق دي چې مېړه ته روا ندي چې ښځه ، دردوونکې ووهي اونه به يې حقوق کموي اوکه داکار يې وکړ ظالم دی ، خوکه دا ظلم جاري وساتي نو ايا ښځې ته روا دي چې له قاضي څخه وغواړي چې له خاوند سره يې بېلتون راولي ؟

- احناف وايي ښځه کولی شي چې قاضي ته شکايت وکړي چې خاوند له ظلم څخه منع کړي ، نصيحت ورته وکړي ، تعزير ورکړي اوکه ظلم يې تکرار کړ بيا دې يې ورتې مګر بندي کول يې روا نه دي او نه ښځه طلاقولی شي.[1]

دامام شافعي(رح) په نزد رجوع يوازې په وينا ده او د ګواهانو په حاضرولو کې له هغه څخه دوه روايته دي.[2]

## د نکاح او رجعت توپير

۱. نکاح له ګواهانو څخه پرته نه صحيح کېږي او په رجوع کې دګواهانو حاضرول ضرور نه دي .

۲. په نکاح کې د ښځې خوښه او رضا ضرور ده او په رجوع کې ضرور نده.

۳. په نکاح کې مهر حتمي ده او په رجعت کې نشته.

۴. نکاح هر وخت روا ده او رجوع يوازې په عدت کې ده د عدت له تېرېدلو څخه وروسته رجوع صحيح نده.

---

[1] درالمختار اورسائل ابن عابدين.
[2] المهذب

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ب- دوه طلاقه یا بینونه صغری:

داهغه طلاق دی چې د نوي مهراو نوي تړون څخه پرته پکې خاوند ښځې ته رجوع نشي کولی

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



احکام یې :

۱- د ښځې واک او اختیار پر ښځه له منځه وړي خوپرې حرامه نده او په نوي تړون او مهر ورسره نکاح کولی شي.

۲- دطلاق په شمېره کې حسابېږي یعنې لدې څخه وروسته خاوند یوازې دیو طلاق واک لري.

۳- دطلاق په واقع کېدو سره به خاوند ښځې ته ځنډنی یامؤجل مهر ورسپاري

۴- که دطلاق په عدت کې هریو مړشو نوبل میراث نشي وړلی.

## ج:درې طلاقه یابینونه کبری

پدې طلاق کې هم خاوند نه ښځې ته رجوع کولی شي اونه ورسره نوې نکاح کولی شي مګرکله چې ښځه له بل کس سره نکاح وکړي اوله هغې سړي سره یې حقیقي دخول (کوروالی) صورت ومومي بیایې پخپله طلاقه کړي اویا ورځخه په فسخې جداشي اویاخاوند مړشي .

کله چې خاوند ښځې ته درې طلاقه ورکړي اویادبینونه صغری عدت پوره شي نوبینونه کبرې واقع کېږي ، په دې طلاق کې د خاوند واک اواختیارپر ښځه له منځه ځي اوبیاترڅوچې له بل چاسره نکاح وکړي نوده ته روا نه ده ځکه پدې کې مېړه ته لوی تهدید اورسوایي ده چې څوک داسې کارونکړي.

## د قاضي طلاق

ټول علما ء په دې متفق دي چې مېړه ته روا ندي چې ښځه ،دردوونکې ووهي اونه به یې حقوق کموي اوکه داکارېې وکړ ظلم دی ،خوکه داظلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاري وساتي نوايا ښځې ته روا دي چې له قاضي څخه وغواړي چې له خاوند سره يې بېلتون راولي ؟ احناف وايي ښځه کولی شي چې قاضي ته شکايت وکړي چې خاوند له ظلم څخه منع کړي، او نصيحت ورته وکړي، تعريز ورکړي او که ظلم يې تکرارکړ بيادې يې ورتې مګربندي کول يې روا نه دي او نه ښځه پرې طلاقولی شي.[1]

امام شافعي(رح) وايي که د ښځې او خاوند دبد حال دا لړۍ دښځې دبدګذرانۍ له امله وه نوخاوند د هغې دپه ادب کولوحق لري لومړی به ورته نصيحت وکړي که ونه شوه بيابه يې بستره ورته بېله کړي او که ونه شوه نو دتاديب لپاره به يې ووهي او که دابد حال دخاوند د بد ګذرانۍ له کبله و او ښځه قاضي ته شکايت وکړي قاضي به يې لومړی خاوندته نصيحت وکړي اوکه دا کاربيا تکرارشو او ښځې له قاضي څخه دمبره تعريز وغوښت خاوند ته به تعزير ورکړي ،اوکه دا بد حال د دواړوله پلوه وو اودا لړۍ اوږده شوله نوقاضي به له دواړوخواووڅخه مشران وټاکي چې دا هرمشربايد اصيل ،دعدالت اوپوهې خاوند وي چې دهريوغرض اوهدف وپېژني اود دواړوترمنځ صلحه راولي . الله(ج) فرمايي : (وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا ) النساء۳۵

يعني : اوکه تاسې وېرېدلئ چې دوی يوله بل سره ضد ساتي نو ودروئ يومنصف دسړي له پلوه اوبل منصف د ښځې له پلوه که دا دواړه وغواړي چې اصلاح وکړي نو الله ج به موفقيت پيدا کړي په دواړو کې.

www.mellitahrik.com 0777400116

[1] درالمختاراورسائل ابن عابدين

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مالک رحمة الله علیه وایي که خاوند ښځې ته زیان رساوه او یا یې حرام کار ته اړباسله نو ښځه دي له قاضي څخه دمېږه تادیب او تعزیر وغواړي او له قاضي څخه طلاق هم غوښتلی شي

او که مشرانو اصلاح راوستله نو فیصله یې نافذه ده او که بېلتون یې راووست نو جمهورفقها امام ابوحنیفه، امام شافعي او امام احمد (رح) وایي چې بېلتون شي راوستلی مګر ددوي په موافقه او امام مالک رحمة الله علیه وایي چې ددوی فیصله په هرحال نافذه ده.

## د بېلتون نور اړخونه

### الف: د نفقې دنه ورکولو په صورت کې

وړاندې موولوستل وګورئ (دښځې ته د نفقې له ورکولو څخه د خاوند انکار)

### ب: بېلتون د عیبونو له کبله

۱. ټول فقهاء پر دې متفق دي چې د عیبونو په سبب باید دخاوند او د ښځې بېلتون راشي مګر اختلاف د نظریې په دې کې دی چې ایا دا بېلتون دیو نفر حق دی او که دواړو، همدا راز اختلاف د نظریې په نوعیت د عیبونو کې دی

۲. امام ابوحنیفه (رح) وایي چې دا بېلتون یوازې د ښځې حق دی ځکه خاوند ښځه په طلاق هم بېلولی شي.[1]

---

[1] فتح القدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. نورفقها ،وايي چې دابېلتون د مېړه اوښځې دواړو حق دی ځکه په طلاق کې پر مېړه مهرلازمېږي دا په هغه صورت کې چې عيبونه له واده څخه دمخه پيداشي اوکه له واده څخه وروسته پيداشي نود احنافوپه نزد ښځه د بېلتون حق نلري ځکه چې هغې خپل حق(وطی) اخستی که څه هم يوځل وي.

۴. امام مالک(رح) وايي که عيب په نارينه کې پيداشونوښځه د بېلتون حق لري اوکه په ښځه کې پيدا شو نوخاوند يې جلاکولی شي

۵. امام احمد او امام شافعی(رح) وايي چې د عيب پيدا ايښت که له واده څخه وړاندې وي اوکه وروسته هېڅ توپيرنلري

عيبونه : امام ابوحنيفه اوامام ابويوسف(رح) وايي خصيتوب (چې هګۍ يې وېستل شوې وي) يا خنثی مشکل وي چې تناسلي غړی يې غوڅ وي اوبل هر سبب چې وي خوچې دکوروالي مانع ګرځي عيبونه ګڼل کېږي اولدې څخه پرته دنورو عيبونه له لامله بېلتون نشي غوښتلی.

دامام مالک اوامام شافعي(رح) (په نزد هرعيب چې کوروالی منع کوي او يا انسان ورڅخه کرکه اونفرت ولري بېلتون ثابتوي.

دامام شافعي(رح) په نزدمعتبرعيبونه دادي چې تناسلي غړي يې غوڅ وي اوهرسبب وي چې کوروالی منع کوي لکه ليونتوب ،پيس (داپه پوستکي کې سپينوالی دی چې لاندې وينه اوغوښه له منځه وړي) دفرج لويوالی اودفرج بدبويي له معتبروعيبونوڅخه دي.[1]

## ج: بېلتون دبد سلوک اوبد ګذرانۍ له لامله

[1] المهذب اونهايه المحتاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګورئ (دقاضي طلاق)

## د: ښځې د خاوند د غایبوالي له امله:

۱. امام ابوحنیفه او امام شافعي(رح) وايي ښځې ته روانه دي چې د خاوند د غایبوالي له کبله بېلتون وغواړي که څه هم د غایبوالي موده اوږده شي

۲. امام مالک(رح) وايي که چېرې د غایبوالي موده یو کال یا زیات شي نو ښځه ته بېلتون غوښتل روا دي که د خاوند ځای یې معلوم نه وي نو قاضي سمدستي په بېلتون امر کولی شي او که ځای یې معلوم وي نو هغه دې راوبولي او نېټه دې ورته وټاکي.

۳. حنابله وايي که د بېلتون موده شپږ میاشتې یا زیات وي او هېڅ عذر ونلري نو ښځې ته بېلتون غوښتل روا دي کله که ښځه داسې دعوه قاضي ته وړاندې کوي نو قاضي به سمدستي په بېلتون امر کوي.

## هـ: بېلتون د بندیتوب له لامله

پدې صورت کې لکه چې تېرشو یوازې د امام مالک(رح) په نزد د بېلتون حق لري او بس.

ب: د بېلتون بل اړخ

د: محکمې په واسطه

## و: بېلتون د ایلا له لامله

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف : پېژندنه : ایلا قسم یادول دي په الله(ج) سره او نذر منل (منښته) دي اویا طلاق اړوندول دي له ښځې سره دکوروالي په پرېښودلو باندې په ځانګړې موده کې.

ایلا په هر لفظ سره چې دا معنی ورکوي که صریح (ډاګیزه) وي لکه والله چې تا سره کوروالی ونکړم او که کنایه وي لکه والله چې تا ته نژدې شم یا لتا غسل ونکړم صحیح ده.

ب: دایلا ارکان داحنافو په نزد

قسم یادول دي له ښځې سره دکوروالي په پرېښودلو.

له دې پرته نورېې شرطونه دي.

شرطونه د جمهورو په نزد

۱. قسم کوونکی: قسم کوونکی د هغه په نزد هغه خاوند دی چې د طلاق اهلیت ولري.

دمالکیانو په نزد دا هر مسلمان خاوند دی.

دامام شافعي په نزد هغه خاوند چې د وطې ممانعت ورته نه وي که دا مانع ددې لخواوي او که دښځې له خوا.

اویا هغه خاوند چې طلاق یې صحیح کېږي.

د امام احمد په نزد: هغه خاوند چې د کوروالي ممانعت ورته نه وي.

۲. هغه څه چې قسم پرې یادوي: دټولو فقهاوو په اتفاق سره قسم پر الله(ج) او د هغه پر صفاتو صحیح کېږي او د امام احمد په نزد له دې څخه پرته

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هېڅ شي ایلا نه صحیح کېږي اود جمهوروعلما ووپه نزد ایلا په نذر (منخته) اواړوند طلاق صحیح کېږي.

۳. هغه څه چې قسم پرې یادوي :هغه کوروالی دی. صراحتاً وي اوکه کنایه

ج: د ایلاموده

داحنافوپه نزد کم ترکمه څلورمیاشتې ده اود نوروفقهاووپه نزد له څلورومیاشتوڅخه زیاته موده ده.

الله(ج) فرمايي: (لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَآؤُوا فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ {۲۲٦} وَإِنْ عَزَمُواْ الطَّلاَقَ فَإِنَّ اللّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ) البقرة ۲۲٦ ۲۲۷

یعنې :هغه کسانوله چې قسمونه کوي له خپلوښځوڅخه انتظاردی څلور میاشتې خو بیاکه رجوع وکړله دوی نو ښیشکه چې الله(ج) بخښونکی اومهربانه دی اوکه قصد یې وکړ دطلاق نو ښیشکه چې الله(ج) اورېدونکی اوپوه دی.

اوله رجوع څخه دټولوفقهاووپه نزد مراد کوروالی دی.

که چېرې چاقسم یاد کړچې زه به خپلې ښځې ته نږدې نه شم نوشریعت ددې لپاره چې دازیان پر ښځه اوړد نه شي هغه ته یې موده ټاکلې ده چې که په دې موده کې یې ښځې ته رجوع وکړله خو،ښه ده اوکه رجوع یې ونه کړله نوایلا واقع کېږي. دا ددې لپاره چې څوک ښځې ته په سپکه سترګه ونه ګوري هغه بې قدره ونه ګڼي ،درناوی یې وکړي نود احنافوپه نزد که د څلورومیاشتودننه موده کې یې ښځې ته رجوع وکړله نود قسم سزا پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازمېږي که قسم يې په الله ج ونو کفاره به ورکوي اوکه په نذر ونو نذربه پوره کوي اوکه په شرط پورې اړوندو نو شرط به پوره کوي اوکه په څلورو مياشتوکې يې دننه رجوع ونه کړله نو ښځه يې د قاضي له اجازې پرته په بائن طلاق بېله شوله، اوجمهورفقهاء وايي چې که په څلورومياشتوکې يې دننه رجوع وکړله نوحکم يې د احنافوپه څېردی خپله سزا به تېروي اوکه له دي مودي څخه يې وروسته رجوع وکړله نو ايلاختمه شوله اوهېڅ نه لازمېږي اوکه دامووده تېره شوله اورجوع يې ونه کړله اوقاضي ته خبر ورسېده نو قاضي به خاوند ته اختيارورکوي چې ياښځې ته رجوع وکړي اوياطلاق ورکړي اوکه رجوع يې ونکړله نورجعي طلاق واقع کېږي

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ز. ښېلتون دظهار له لامله

پېژندنه:

ظهارله ظهرنه اخستل شوی اوشاته یې وایي ظهارپه جاهلي پړکنوکې وګړوله ښځوسره د کوروالي د حراموالي په غرض استعمالوه اوورته ویل به یې : ته په مالکه زما دمورشاحرامه یې .

لکه څنګه چې ظهارد شاپه لفظ صحیح کېږي اولکه څنګه چې د مورپه یادولوصحیح کېږي دبدن د نورو برخواود نورو محارمولکه خور، ترور، اونور...په یادولوهم صحیح کېږي ظهاربه د سړي له خواوي دښځې ظهار نه صحیح کېږي اود امام احمد (رحمة الله علیه)څخه په روایت د قسم کفاره پرې لازمېږي.

د: اظهار اثرات (اغېزې)

که چېرې چا ظهار وکړ نوپه اتفاق سره دکفارې له ورکولوڅخه د مخه ورته له همدې ښځې سره کوروالی حرام دی اوښځه یې کولی شي چې له ده څخه د کوروالي غوښتنه وکړي ځکه دا د ښځې حق دی خوخاوند به ترهغه چې کفاره ورنکړي ځان ته نه را پرېږدي اوکه کفاره یې نه ورکوله نو قاضي به یې کفاره ورکولو ته اړباسي اوکه بیایې هم د کفارې له ورکولوځنې انکارکاوه نوقاضي به یې ښځه طلاقه کړي.

الله(ج) فرمایي: (الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَائِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ {۲} وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِمْ ثُمَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا ذَلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ {۳} فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِن قَبْلِ أَن يَتَمَاسَّا فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ) المجادله۲-۴

یعنې : هغه کسان چې ظهارکوي له تاسې ښځه له خپلو ښځو ښځه نه دي هغوی میندې د دوی ،نه دي میندې ددوی مګرهغوی چې زیږولي یې دي دوی اوبېشکه چې دوی خامخا ناآشنا خبرې او دروغ وايي اویقینا الله(ج) تېربدونکی اوبخښونکی دی اوهغه کسان چې ظهارکوي له خپلو ښځو ښځه بیا ګرځي هغه ته چې ویلي یې وي نو ازادول دمریي دي مخکې له دې ښځه چې یو په بل باندې لاس ووهي ،پردې تاسو ته وعظ (امر) کېږي او الله(ج) پر هغه چې تاسو یې کوئ خبر او اګاه دی خو هغه کس چې پیدا یې نکړ(مریی )نو په هغه روژه نیول دي پرلپسې دوه میاشتې. مخکې له دې چې یو پر بل لاس ووهي اوهغه څوک چې داوس (هم)نلري نوپرده شپېتو مسکینانو ته خواړه ورکول دي.

## ح: ښځو د خلعې په واسطه

الف پېژندنه

خلع په لغت کې وېستلو ته وايي.[1]

اوپه اصطلاح کې د نکاح د تړون له منځه وړل دي د خلعې یالدې لفظ اومفهوم سره موفق لفظ باندې د هغه عوض به پدل کې چې ښځه یې

[1] حاشیه ابن عابدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندته ورکوي .لکه چې ښځه خاوند ته وایي :ما د زر روپۍ وپه بدل کې پرېږده اوخاوندیې ومني کله چې ښځه اوخاوند یوبل ته د لباس بڼه لري لکه چې فرمايي: (هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ) البقره ۱۷۸

ىعنې: هغوى ستاسې جامه ده اوتاسې د هغوى جامه يئ. نوشريعت د دوى دابېلتون دجامو وېستلوپه څېرتعبيرکړي.

په خلع کې دا درې مسئلې حتمي دي.

۱. چې د خلعې یاابراء اویالدې مفهوم سره برابرلفظ باندې وي.

۲. دبدل ذکرضروري دي.

۳. دښځې موافقه ( مننه) ضروري ده اوکه ښځه يې ونه مني اویاچپه پاتې شي نوداخلع صحيح نده.

## ب: د خلعې حکم

څرنګه چې شريعت نارينه ته حق ورکړى دى چې که کومه ښځه يې نه خوښېږي نوهغې ته طلاق ورکړي همداډول يې ښځې ته هم حق ورکړى چې که مېړه يې نه خوښېږي ،ژوندیې له تاوتريخوالي اوستونزو سره مخ وي اود الله(ج) ټاکل شوي حدود نشي مرعاتولی له هغه څخه بېلتون و غواړي، ځکه کله چې ښځه اوخاوند یوله بل سره هېڅ ګډ ژوند کول نه غواړي ،نه يې ترمنځ جسمي او اروايي توافق وي اوژونديې هم پر دوزخ بدل شوى وي اومېړه چمتو نه وي چې ښځې ته طلاق ورکړي نو ښځه حق لري چې له هغه څخه بېلتون غواړي ،همداراز کله چې ښځه اوخاوندیوله بل سره هېڅ

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګذاره نه کوي ، يوځايي ژوند يې ناممکن وي اويودبل په نسبت کرکه اونفرت لري اوکېدلی شي چې هر پلو دخپلې جنسي غريزې داشباع لپاره نامشروعې لارې ولټوي اوهره شبېه ېوبل ته ددښمن په څېر په کمېن کې ناست وي نو په داسې حالت کې يو له بل څخه جدايي اوبېلتون پکار دی.مګرپه عام ډول څرنګه چې خلع دطلاق يو ځانګړې ډول دی داهم لکه طلاق مکروه اوښه نه ګڼل کېږي.خوکله چې شرايط انسان دې ته اړباسي نو بيا روا ده الله(ج) فرمايي: (وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلاَّ أَن يَخَافَا أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ) البقرة: ۲۲۹

يعنې :اوتاسې ته روا نه ده چې واخلئ خپل ورکړل شوی(څيز) ښځوته مګر کله چې ښځه اوخاوند دواړه وېرېدل په دې خبرې چې دا دواړه به ټينګ ونه شي ساتلی حدود(حکم) دالله (ج) نو که وېرېدلئ چې دالله (ج) لخوا اېښودل شوې پولې به ونه شئ ساتلی نو څه ګناه نشته پر دواړو چې ښځه بدله ورکړي.

ګڼو رواياتو کې راغلي دي چې جميله بنت سهيل[1]

دثابت بن قيس بن شماس ښځې رسول الله(ص) ته وويل چې : دهغه مال په بدل کې ورته له ثابت څخه طلاق واخلي چې خاوند يې ورکړی دی. رسول الله(ج) ثابت ته وفرمايل: چې باغچه دې واخله اوښځه طلاقه کړه.[2]

---

[1] په ځينو رواياتو کې دثابت بن قيس بن شماس دښځې نوم جميله بنت سهل اوځينو کی حبيبه بنت سهل اوپه ځينو کې جميله بنت عبدالله ابن ابی راغلی دی.

[2] بخاري،نسايي.ابن ماجه اومشکوة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله که سړي ښځې ته وویل چې د دومره مال په بدل کې دې پرېږم نو هغه ته روانده چې بیا له خپلې وینا څخه واوړي نه دښځې له منلو څخه وړاندې اونه وروسته.[۱] اونه خپله ښځه د دې له منلو څخه ایسارولای شي اونه څه اختیار لري او نه په ښځه واجب دي چې په همدې مجلس کې ځواب ورکړي.اوکه ښځه مېړه ته ووایي چې ماته ددومره مال په بدل کې طلاق راکړه نو ترڅو چې خاوند منلې نه وي ښځه له خپلې وینا څخه درجوع حق لري اوکه هر پلو له منلو څخه د مخه پاڅېدنو داخلع باطله ده.

www.melitahrik.com
0777 400 116

---

[۱] حاشیه ابن عابدین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خلعې بدله

هر هغه څه چې مهر کېدلای شي د خلعی بدل کېدلی هم شي او څه چې مهر کېدلای نه شي د خلعې بدل کېدلی هم نشي اوله مهرسره يې توپير دادی چې دمهر لږه اندازه د امام ابو حنيفه(رح) په نزد لس روپۍ ده او دخلعې کمه اندازه ټاکل شوې نده اوخلع په دې هم صحيح ده لکه څوک ښځې ته ووايي چې زه تا پرېږدم خو په دې شرط چې ته زما کوچني ته ترشپږ کلنۍ نفقه ورکړې اوښځه يې ومني.

خلع په شرابو ،خنزير،وينې او.....صحيح نده اوکه داکار وشو اوښځې ومنله نو پر ښځې دخلعې بدل نشته اوبائن طلاق واقع شو مګر بايد په ياد مووي چې دياتتًادا حرامه ده چې څوک ښځه طلاقول غواړي اودهغې هېڅ ګناه هم نه وي.اوبيا ترې عوض اوبدل هم غواړي لږوي اوکه ډېرغوره داده چې له مال څخه يې پرته طلاقه کړي.الله(ج) فرمايي: (وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا )النساء ۲۰

يعنې: اوکه بدلول غواړئ ديوې ښځې په ځای د بلې ښځې او ورکړی وي تاسويوې ته ډېر مال نو مه اخلئ له هغه څخه هېڅ شی.

سړي ته پکار دي چې که له ښځې سره خلع کوي نو لومړی خو دې له هغې څخه ببخي مال نه اخلي اوکه هرو مرو يې اخلي نو په هغه اندازه دې يې ورځنې واخلي چې ورکړی يې وي اولدېنه زيات اخستل مکروه دي رسول الله(ص) دثابت بن قيس ښځې ته وفرمايل چې:ايا دهغه باغچه ورکوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



؟ هغې ورته ویل هو او ډېر هم ورکوم رسول الله(ص) ورته وفرمایل چې زیات مه ورکوه خو باغچه یې ورکړه.[۱]

www.melitahrik.com
0777 400 116

[۱] بخاري،نسايي،ابن ماجه او مشکوة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خلعې اغېزې

۱. ددې لپاره چې خلع دمال په بدل کې طلاق ده نو بائن طلاق واقع کېږي.

۲. ښځه به هغه مال چې خاوند ته يې ورکړه پر ځان منلې خاوند ته سپاري

۳. ټول هغه حقوق چې خاوند اوښځه يې يوپه بل لري ساقطېږي لکه دامام ابوحنيفه(رح) په نزد دښځې پاتې مهر اوکومه نفقه يې چې خاوند ښځې ته مخکې ترمخکې ورکړېده اووخت يې لاپاتې وي اوکوم حقوق چې په زوجيت اونکاح پورې اړه نلري لکه يوپه بل پور، پلورل شوی مال او....... دانه ساقطېږي اوکه لدې واده وړاندې هم دواړو واده کړی واودهغه څه حقوق يوپر بل پاتې وي لکه وروستی مهرمثلا:دوی دواړو واده کړی و اوپنځوس روپۍ يې مهرتاکلی وچې شل يې معجل اودېرش مؤ جل واوطلاقه يې کړله اوبيا يې په نکاح کړله بيا يې دخلعې په سبب پرېښودله نو ددې خلعې له کبله هغه مخکنۍ دېرش (۳۰) روپۍ نه ساقطېږي مګرکله يې چې په خلع کې شرط کړي.

## د ښځې شرطونه

۱. چې بالغه وي

۲. چې عاقله وي.

۳. چې د مرګ په رنځ رنځوره نه وي.

۴. چې پخپل مال کې له تصرف څخه منع نه وي.

اودصغيرې غير مميزې خلع نه صحيح کېږي.اونه طلاق واقع کېږي اوکه مميزه وي اودخلعې الفاظ دطلاق الفاظ وي نو رجعي طلاق واقع شواوپه

www.melirahlik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې عوض نشته او که لفظ د خلعې و نو بائن طلاق واقع شو او په ښځې عوض نشته او که د مرګ په رنځ (مرض الموت) رنځوره وه نو خلع صحیح او بائن طلاق واقع شو پدې شرط چې د هغې د خلعې عوض د هغې د پاتې مال له دریمې برخې څخه ډېر نه وي او که په خپل مال کې له تصرف (لاسوهنې) څخه منع وي لکه صغیراو . . . او خلع وکړي نو عوض پرې نشته که د خلعې الفاظ د طلاق الفاظ ورجعي طلاق واقع کېږي او که الفاظ د خلعې و نو بائن طلاق واقع کېږي ،حاشیه ابن عابدین ،امام مالک(رح) وایي چې خلعه بې عوضه هم روا ده.[۱]

## ط: بېلتون د نکاح د فسخې له امله

الف – پېژندنه

د نکاح د تړون د قید له منځه تلل دي د داسې یو سبب له امله چې په تړون کې رامنځته شوی وي. داسبب به یاد تړون په وخت کې موجود وي لکه د تړون په وخت کې د نکاح د صحت له شرطونو څخه د یو کموالی مثلا: ښځه د خاوند محرمه وي او یا د بل چا د طلاق په عدت کې وي یا ولي کومه کوچنۍ انجلۍ په نکاح ورکړي او یا کوچني هلک ته نکاح وکړي او له بالغېدلو څخه وروسته د نکاح فسخ وغواړي او یا بالغه ښځه خپله نکاح پخپله وکړي خومهریې له امثالو څخه کم وي او ولي د نکاح فسخه وغواړي کله چې خاوند پوره مهرمثل نه ورکوي ،یابالغه ښځه د ولي له اجازې څخه پرته له کم سیاله سره نکاح وکړي او ولي راضي نه وي او فسخ وغواړي او یا به دا سبب د نکاح له تړون څخه وروسته راپیداشي یعنې د نکاح تړون به صحیح وي خو وروسته به داسې یو علت راپیداشي چې د نکاح د قید د له

---

[۱] زاد المستنفع شرف الدین موسی بن احمد المقدسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځـه وړلـو لامـل وګرځـي لکـه دخاونـداو ښـځې ځخـه (العیاذبـاالله) دیومرتدوالي یا دا چې خاوند اسلام ومني او ښځه یې داسماني کتاب منونکې (اهل کتاب) نه وي او اسلام اوبل کوم اسماني دین ته یې راوبولي خوهغه انکاروکړي. یاخاونداویاښځه دبل له اصولویافروعوسره داسې څه وکړي چې حرمت مصاهرت ثابتوي لکه ، زنانو په داسې صورتونوکې نکاح له منځه ځي نوښځې اوخاوندته پکاردي چې خپله بېل شي اوکه جدا نه شول نوهر څوک چې پرې خبرشول نوقضاء ته دې خبر ورکړي چې دوی جداکړي که څه هم په زور وي.

## ب: د فسخې اوطلاق توپیر

۱. طلاق به دنکاح تړون یاسمدستي له منځه وړي لکه درې طلاقه اویابه یې د عدت له تېرولوڅخه وروسته له منځه وړي لکه رجعي طلاق ، مګرفسخ دنکاح تړون سمدستي له منځه وړي.

۲. دطلاق شمېر په سړي حسابېږي ، یعنې که یوطلاق یې ورکړنودوه نور هم واک کې لري اوکه دوه یې ورکړل یوطلاق واک کې لري ځکه چې هر اصیل اوازادمېړه درې طلاقه اختیارکې لري خوفسخ دطلاق شمېره کې نه حسابېږي یعنې که له دې فسخې څخه وروسته یې نکاح وکړله (لکه فسخ چې له مثل څخه دمهر دکموالي له لامله وي) او بیایې په نکاح کړله نوخاوندد درې طلاقونو واکمن دی.

## ج: هغه فسخه چې قاضي پورې اړه لري

هره فسخه چې هغې کې سوچ ، فکرکولو ، تدبیراوکتنې ته اړتیاوي لکه فسخه دخاوندد کم سیالۍ په سبب یادمهرله مثل څخه دکمښت په سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادا چې ښځه نه ایمان راوړي او نه کوم بل دین منې یادبالغېدلوداختیار په صورت کې نوداتول سوچ کتنې اوفکر کولوته اړه لري نوپه قاضي پورې اړوند شوه اوکومه فسخه چې سوچ اوفکر ته اړه نلري لکه چې ښځه دخاوندمحرمه وخېژي یا ښځه ددی جوګه نه وي چې نکاح ورسره وشي اویاښځه اویا خاوندبل له اصولویافروعوسره څه داسې کار وکړي چې حرمت مصاهرت ثابتوي ، نودافسخه قاضي پورې اړه نلري حتمي ده چې خپله سره بېل شي .

## د : بېلتون وېش دمودې له لحاظه

د مودې له لحاظه دښځې او مېړه بېلتون په دوه ډوله دی.یوهغه بېلتون چې دتل لپاره وي اوبل هغه چې لنډمهالی (موقتي) وي اوکوم بېلتون چې دتل لپاره وي هغه هم په دوه ډوله دی : یوهغه چې مطلق دتل لپاره وي لکه چې ښځه دسړي محرمه وخېژي اویاښځه اویاخاوند دبل له اصولو اویافروعوسره دحرمت مصاهرت سبب یوکار وکړي نوداښځې دتل لپاره حرامې دي بل هغه بېلتون چې دتل لپاره وي مګر کله چې دخاوند اوښځې په صفت کې تغیراوبدلون راشي بیا یې نکاح ورسره روا ده لکه چې بېلتون دلعان په سبب وي نو ترڅوچې ښځه اومېړه پخپل دریځ ولاړوي نو یوپربل حرام دي خوکله که له دې دواړو څخه یوځان دروغژن کړي اوقاضي دقذف سزا ورکړي نو بیا ورته یو له بل سره نکاح روا ده.

یاورڅخه دګواهۍ اهلیت حذف شواو یا یې له بل چاسره زنا وکړله اوقاضي د زناحد پرې تطبیق کړاویا بل چا باندی تور ولګوي اوقاضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقذف حد پرې تطبيق کړي نو بياهم داحنافو په نزد يو له بل سره ورته نکاح روا ده.[۱]

اوکله چې سړی ښځې ته درې طلاقه ورکړي نو داپرې د تل لپاره حرامه ده ترڅو چې لده څخه عدت تېر کړي اوبل چاسره نکاح وکړي اوهغه مړشي اويايې طلاقه کړي اوله دوهم مېړه څخه عدت هم تېرکړي نو بيا ورته له لومړي مېړه سره نکاح روا ده.

خوهغه بېلتون چې دنکاح ولکه (قيد) په لنډمهاله (موقتي) ډول له منځه وړي اوبياورسره نکاح روا وي دوه ډوله دي يو فسخه اوبل طلاق اودواړه تشرېح شول.

## څو مسئلې

۱. ديوسړي څوښځې وي يوې ته يې وويل چې ته پرماپرڅلورکانو طلاقه يې هغې ورته ويل چې ماته درې بس دي مېړه ورته وويل چې نور دې دفلانۍ وي پر هغې بلې هيڅ اثر نه پرېوزي.

۲. که چېرې ديوکس يوه خپله ښځه اوبله پردۍ ښځه ولاړه وي اوورته يې وويل چې يوه له تاسو څخه طلاقه يې نو خپله ښځه يې طلاقېږي.

۳. که چېرې په کومې يوې ښځې کې حلالوالی اوحراموالی دواړه ګډشي نو حرمت غالب دی اوفکر اوسوچ کول (تحری) ورته پکې روانده مثلا يوکس څو وينځې لري اويوه يې ورڅخه ازاده کړله خو بيا يې هېره کړله چې کومه يوه يې ازاده کړې ده نو هغه ته روانده چې فکر وکړي چې ايا ما به کومه ازاده کړې وي.؟اوله فکر کولو وروسته ترې يوه وټاکي ،په دې

[۱] فتح القدير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې له نوروسره کوروالی ورته ترهغې رواندی تر څو چې ازاده شوې له نورو ښځه په یقیني ډول بېله نکړي

۴. که چېرې یې په څلورو ښځو کې یوه په بائن طلاق طلاقه کړله بیا یې هېره کړله نو تر څو چې جوته نه شي چې فلانۍ ده په وطې کولو کې ورته سوچ او فکر روا ندی.

۵. که د چا ښځه له نورو ښځو سره ګډه شوله او نه پېژندل کېدله نو له فکر کولو او سنجش څخه وروسته ورته د یوې تاکنه او د هغې وطی روا نده ترڅو چې یقیني نشي.

۶. د یو کس څو ښځې وي په مبهم ډول یې له دوی څخه یوه طلاقه کړله (خوی‌وه یې هم ونه ټاکله) نو دیوې له ټاکلو څخه وړاندې ورته دیوې وطې هم روانده او له یوې سره کوروالی د بلې ټاکل دي.[1]

## ولیمه

په ولیمه کې سنت داده چې له واده څخه وروسته درې ورځې وي او نېکان راوبولي که غنیان وي او که بې وسه او د دنیاله هر ګوډ څخه د دوستانو راغوښتل ضرورندي ،رسول الله(ص) فرمايي: (لاتصاحب الامؤمن ولاياكل طعامک الاتقی).[2]

یعنې: ملګرتوب مه کوه مګر له مومن سره او ودې نه خوري طعام ستا مګر نېک.

همدا راز فرمايي:(شرالطعام طعام الوليمة يدعى لها الاغنياويترک الفقراء).[3].

---

[1] الاشباه والنظائر ۱شیخ زید العابدین محمدبن ابراهیم بن نجیم.

[2] ابوداوداوترمذي.

[3] بخاری.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې: ډېرناوړه مېلمستيا دوليمې هغه مېلمستيا ده چې غنيان اوشتمن ورته راوبلل شي اونېستمن پرېښودل شي.

عايشه(رض) فرمايي: رسول الله(ص) به چې دچانکاح وکړله يا به يې خپله نکاح وکړله نو خرما به يې وېشلې[1]

بل داچې که يې وس رسېده نو دوليمې په ډوډۍ کې خو دې کم ترکمه يوپسه پوخ کړل شي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

[1] بيهقي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

## عدت

### پېژندنه او ډولونه

پېژندنه :عدت په لغت کې دیوشي شمېرلو ته وایي او په اصطلاح کې د ښځې او خاوند لـه بېلتـون څخـه وروسـته د نکـاح د پـاتې اثارولـه منځـه وړلـو لپـاره د شریعت له پلوه د انتظار ټاکل شوې موده ده .کـه دا جدایي د مـرګ پـه سبب وي که د طلاق او که دفسخې دا انتظار به کله پر سړي وي او کله پر ښځې.

### الف: پر سړي انتظار

په لاندې صورتونو کې پر سړي انتظار واجب دی.

۱ . کله چې څوک یوه ښځه ببله کړي او بیا دهغې لـه خـور یـاترور ،خالـه یـا وربرې یا خورزې سره واده کول غواړي نو ترڅو چې دهغې عـدت پـوره نشـي له دی سره واده نشي کولای.

۲ . که کوم خاوند ښځه ببلـه کـړي اودرې نـورې ولـري نـو ترڅـو چـې د جـدا شوې ښځې عـدت پـوره شـوی نـه وي لـه بلـې سره نکـاح روا نـده.کـه چېـرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طلاقه شوې ښځه په رجعي طلاق سره بېله شوې وي نو دټولو فقهاوو په اتفاق سر ورته څلورمه ښځه روانده او که په بائن طلاق يې بېله کړې وي نو دځينو صحابه و ،احنافو او امام احمد (رح) په نزد څلورمه ورته روا ده.

او کله چې اصيله ښځه بېله کړي او بيا له وينځې سره واده کول غواړي نو داحنافو په نزد تر څو چې داصيلې ښځې عدت پوره شوی نه وي نو له وينځې سره واده ورته روا نه دی.[1]

## ب: عدت (انتظار)پر ښځو

عدت پر څلورښځوفرض دی

۱ . چې له صحيح تړون څخه وروسته يې خاوند مړشي که څه هم کوروالی ورسره نه وي شوي الله(ج) فرمايي: (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا)البقرة۲۳۴.

يعني:او کوم کسان چې مړه شي لتاسې څنې او پرېږدي خپلې ښځې نوپکارده چې هغه ښځې په انتظار کې وساتي خپل ځانونه څلورمياشتې اولس ورځې .

دې انتظارته په فقهي اصطلاح عدت وفی هم ويلی شي.[2]

۲ . کومه ښځه چې مېړه يې مړشي او د دوی د نکاح تړون غېر صحيح وي لکه فاسده نکاح مګرکوروالی يې ورسره شوی وي نو له حمل څخه د پاکۍ په غرض به عدت تېروي او پر داسې ښځو وفی عدت نشته دی.

[1] درالمختاراوحاشيه ابن عابدين.

[2] بدائع الصنائع.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. هره ښځه چې مېړه یې ببله کړي او حقیقي دخول ورسره شوی وي که څه هم د نکاح تړون صحیح نه وي.

۴. هره ښځه چې مېړه یې طلاقه کړي اویا نکاح فسخه کړي مګر چې حقیقي یا حکمي کوروالی (لکه صحیح خلوت) شوی وي.

ج: عدت په دري وښځو نشته دی

۱. کومه ښځه چې مېړه یې مړشي اودنکاح تړون یې هم صحیح نه وي او وطي هم ورسره نه وي شوي.

۲. هره ښځه چې مېړه یې له مرګ څخه پرته په بل سبب ببله کړي او دنکاح تړون صحیح وي خو حقیقي یا حکمي کوروالی نه وي شوي الله(ج) فرمايي: (یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا نَکَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَکُمْ عَلَیْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا ) الاحزاب ۴۹

یعنې: ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی هر کله چې په نکاح واخلئ مومنې ښځې بیا طلاقې کړلې تاسودوی مخکې له دی چې مسه کړئ دوی پس نشته تاسولره په دوی باندی شمارد ورځو چې پوره کوئ تاسو هغه.

۳. هره ښځه چې مېړه یې له حقیقي کوروالی څخه دمخه ببله کړي کله چې د نکاح تړون صحیح نه وي که څه هم صحیح خلوت شوی وي.[1]

## د عدت ډولونه

[1] بداية المجتهد اوالمغني

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښځې او خاوند بېلتون به یا د خاوند د مېړنې له لامله وي او یا به له کوم لامله یا به ښځه د بېلتون په وخت کې حامله وي ، او یا به نه وي یا به پرې حیض راځي او ی‌ابه نه راځي نو د دې ټکو په نظر کې نیولو سره عدت په درې ډوله وېشو.

## ۱: عدت په حیض

په هره ښځه کې چې دا څلور صفته پیدا شي نو د هغې عدت په حیض حسابېږي.

الف: چې فی الحال پرې حیض راځي یعنې چې کوچنۍ نه وي او یا یې عمر د حیض له مودې (پنځه پنځوس کلو) څخه اوښتی نه وي او د اسې هم نه چې ځوانه وي خو حیض پرې نه راځي.

ب: چې د بېلتون په وخت کې حامله نه وي.

ج: چې د بېلتون سبب د خاوند مرګ نه وي.

د: چې بېلتون له حقیقي یا حکمي دخول څخه وروسته په صحیح تړون کې واقع شوی وي. او که ښځه یې په حیض کې جدا کړله نو دا حیض (روان حیض) یې نه حسابېږي نو کله چې له دې حیض څخه پاکه شي او بیا پرې حیض راشي نو دا یې لومړی حیض حسابېږي او دوه به نور تېروي چې درې پوره شي او کله چې له دریم حیض څخه پاکه شي او د حیض وروستۍ موده پوره نه وي (له لسو ورځو څخه وړاندې پاکه شي) نو بیا به یا غسل کوي چې له حیض څخه پاکه شي او عدت یې پوره شي او یا به د یو لمانځه پوره وخت پرې پاک تېر شي ، نو کله چې ښه جوته شوه چې له حیض څخه پاکه شوه نو بیا ورته له بل چا سره نکاح رواه ده ، الله(ج) فرمایي: (وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ وَلاَ يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ)البقرة ۲۲۸

يعنې: اوطلاقي شوي ښځې دې انتظار کوي په ځانونوخپلوسره تر درې حيضوپورې او رواندي دي ښځو لره چې پټوي دوی هغه څه چې پيدا کړي دي خدای(ج) په رحمونو ددوی کې.

يعنې ښځوته حرام دي چې دهغه څخه خلاف دعوه وکړي چې اوس پکې ده لکه چې ووايي. زه حايضه يم اوحايضه نه وي يا ددی سر چپه اويا حمل پټ کړي.

## ۲. عدت په مياشتو

ددوه ښځوعدت په مياشتو شمېرل کېږي.

الف: هره ښځه چې دادرې صفته ولري :

۱. چې في الحال پرې حيض نه راځي.

۲. چې دبېلتون سبب دخاوندمړينه نه وي.

۳. چې دبېلتون په وخت کې حامله نه وي.

نوددې ښځوعدت درې مياشتې دی الله(ج) فرمايي : (وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ)الطلاق ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې: او هغه ښځې چې نا هیلې (نا امیدې) شي له حیض څخه له ستاسو څخه که په شک کې یې تاسې پس عدت دهغوی درې میاشتې دی اوهمداراز هغه ښځې چې نه حائضه کېږي.

ب: هره ښځه چې دادوه صفته ولري

۱. چې دېبلتون په وخت کې حامله نه وي برابره خبره ده چې که حیض پرې راځي اوکه نه.

۲. چې له خاوند سره یې دبېلتون لامل دخاوند مرګ وي خو چې دنکاح تړون یې صحیح وي اود داسې ښځودعدت دمیاشتوشمېرڅلورمیاشتې او لس ورځې دی الله(ج) فرمایي : (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا )البقرة ۲۳۴

یعنې: او کوم کسان چې مړه شي ، له تاسوځنې او پرېږدي خپلې ښځې نو په کارده چې هغه ښځې په انتظار وساتي خپل ځانونه ، څلورمیاشتې اولس ورځې .

۳. عدت د حمل په زېږېدلو

هره ښځه چې دبېلتون په وخت کې حامله وي، نودهغې عدت دحمل زېږول دي، که څه هم حمل په کمه موده کې (لکه څوشپې) اویاډېره موده کې (لکه څومیاشتې) وزېږوي ، نوکله یې چې حمل وزېږاوه ، نودهغې عدت بشپړشو ، که بېلتون د خاوند دمرګ له لامله وي ، که دطلاق ، که دفسخې اوکه دنکاح تړون صحیح وي اوکه نه الله(ج) فرمایي : (وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ) الطلاق : ۴.

یعنې. او حاملې ښځې نېټه دهغوی داده چې وزېږوي خپل حمل.)

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که لړه تړوته یا لړه غوښه تري ولوېده او شکل یې نه معلومېده نو په دې عدت نه بشپړېږي ، ترڅو چې ښه جوته شي حمل یې زېږولی دی

۴. اوښتون د عدت له یو ډول څخه بل ډول ته

۱. که چېرې له چا څخه ښځه بېله شوله او دا ښځه د هغو ښځو له ډلې څخه وه چې درې میاشتې عدت به یې تېراوه او بیا د هغو ښځو له جملې څخه وګرځېده چې درې حیضه عدت به تېروي ،یعنې د عدت په منځ کې پرې حیض راغی ، نو عدت دا څه موده چې پرې تېره شوې ده ، هغه به لغوه شي او په عدت کې نه شمېرل کېږي ، او د دې عدت به په حیض پیل شي ، او پوره درې حیضه به تېروي ځکه اصل د دې په عدت کې حیض دی او میاشتې دهغه په نشتوالي کې وي.

۲. که د کومې ښځې عدت په حیض شمېرل کېږي او حیض هم پرې راځي او بیا وینه پرې بنده شوله نو د احنافو په نزد به دا درې حیضه تېروي یعنې ترهغې به په عدت کې وي ،چې درې حیضه یې پوره راشي او عدت یې میاشتو ته نه اوړي، خو کله چې پنځه پنځوس کلنه شي ، چې دا له حیضه څخه د نهیلۍ (نا امیدۍ) نېټه ده.

یعنې که فرض کړو که ،چې یوه ښځه یې خاوند په شل کلنۍ کې طلاقه کړي او په هغې د حیض وینه راتله ،خو بیا دا وینه بنده شوله ،نو دا به پنځه د برش کاله په عدت کې وي ،ترهغه چې له حیض څخه ناهیلې شي او پنځه پنځوس کالو ته ورسېږي ،بیا به یې عدت له درې میاشتو څخه شمېرل کېږي.

۳. که د کومې ښځې عدت په درې حیضو یا په درې میاشتو ،او بیا یې مېړه مړ شو او دا لا په عدت کې وه ،نو که چېرې طلاق رجعي و نو د عدت تېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو ته اعتبارنشته دی ،او عدت به یې دمېره د وفات له لومړۍ ورځې څخه پیل کېږي اوڅلورمیاشتې اولس ورځې به تېروي ځکه چې د رجعي طلاق په اثر د زوجیت لړۍ نه غوځېږي.

که چېرې طلاق بائن و اومېره یې د طلاق په وخت کې په مرګنۍ ناروغۍ (مرض الموت) اخته و ،نوعدت یې له هماغې ورځې څخه صحیح اوپیل کېږي ،کله یې چې مېره طلاقه کړې ده (د طلاق عدت به تېروي.اودوفات عدت پرې نشته دی) اوکه چېرې یې مېره د مرګ په رنځ اخته او دا یې طلاقه کړله په دې ډول چې میراث یې حق کېده. نو دې طلاق ته فار(له میراث څخه د تېښتې طلاق) وایي.نو امام ابویوسف(رح) وایي چې :دابه دطلاق عدت تېروي اود امام ابوحنیفه(رح) په مذهب کې فتوی به دې قول ده ،چې دابه هغه عدت تېروي چې موده یې لرې وي ،یعنې که طلاق دعدت موده لږه وي نو دوفات عدت به تېروي.

**۵**. له رجوع څخه وروسته بیا طلاق ورکول: که چېرې چا درجعي طلاق په عدت کې ښځې ته رجوع وکړله اوبیا یې دویم ځل طلاقه کړله ،نودابه له دویم طلاق څخه وروسته بیا عدت تکراروي،که څه هم کوروالې ورسره نه وي شوی اوکه چېرې یې د بائن طلاق په عدت کې ورته (په مهر اونوي تړون)رجوع وکړله ،اوبیا یې په دوهم ځل طلاقه کړله ،نوکه کوروالې یې ورسره کړې وي نوعدت به له سره تکراروي اوټول هغه مهر یې حق دی ،چې په دویمه نکاح کې ورته ټاکل شوی دی ،اوکه چېرې یې له کوروالي څخه د مخه په دویم ځل طلاقه کړله ،نودامام ابویوسف اومام ابوحنیفه(رح) په نزد به دا عدت تکراروي اوپوره مهریې هم حق دی اوامام محمد(رح) وایي:چې خپل پخوانې عدت به بشپړوي اودامام زفر(رح) په نزد په دې هېڅ عدت نشته دی (نه پخوانی اونه نوی).ځکه چې د دویمې نکاح څخه وروسته طلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کوروالی څخه مخکې طلاق دی او دا عدت نلري ،اولومړی عدت خویې له دویمې نکاح سره له منځه ولاړ او نیم مهریې حق دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عدت په اړوند څو مسئلې

هغه وخت چې عدت ترې پیل کېږي:

الف: که د بېلتون لامل دمېړه مرګ وي نو له مړینې څخه وروسته سمدستي عدت پیل کېږي که نکاح صحېحه وي او که فاسده.

ب: که د بېلتون لامل مرګ نه وي نو نکاح که چېرې صحېحه وي نو د عدت وخت دمېړه او ښځې له جدایي څخه سمدستي وروسته پیل کېږي او که نکاح فاسده وی اویاد بېلتون لامل د نکاح فسخه وي نو دعدت نېټه له هغه وخت څخه پیل کېږي چې خپله یې د نکاح په پرېښودلو اتفاق کړي وي یا کله چې دوی قاضي بېل کړي.

ج: د عدت پیل دښځې په خبرېدلو پورې هېڅ اړه نلري. ،مثلا: که کومه ښځه له مېړه څخه بېله شي اوهغه خبره نه وي اودعدت موده یې تېره شوله.نوله خبرېدلو څخه وروسته پرې د عدت تکرار نشته دی ،هو دهغې ښځې چې مېړه یې په رجعي طلاق طلاقه کړې وي خبرول ځکه ښه دي چې د عدت دمودې په اوږدوکې له داسې حکمت څخه کار واخلي چې دخاوند مینه اوپام ځان ته را واړوي اوپه زړه راښکون کې یې مرسته وکړي.

## ۲. کومه ښځه چې په عدت کې وي

کومه ښځه چې په عدت کې وي نو عدت به دخاوند په کورکې تېروي الله(ج) فرمايي: (لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ)الطلاق : ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې: مه باسی ء هغوی له کورونو د هغوی ښځه اونه دی په خپله وځي مګرچې وکړي یو ناوړه کارښکاره.

هرچېرته یې چې خاوند اوسېږي هملته به ورسره اوسېږي که مېړه یې بل کلي ته لاړشي نودابه هم ورسره ځي،مګردڅه عذرله کبله لکه دکور ورانېدل یا چې دلوېدلو خطره یې وي یاله همسایه ګانوڅخه لرې وي یا چې هلته امن نه وي اوکه بې له عذره له مېړه سره نه اوسېدله نودابدګذرانه ده که نفقه یې حق وي ساقطېږي.[1]

اوکه خاوندیې وفات شي اویا دبائن طلاق په عدت کې وي نو زینت به نه کوي،خوشبویې به نه لګوي ،ګانه به نه اچوي.دوربښمو جامې به نه استعمالوي سترګې به نه توروي مګردڅه عذر له کبله اونه به وېښته غوړوي ،اودمېړه په مرګ به دخفګان اظهارکوي اوکه چېرې د رجعي طلاق په عدت کې وي نو د مېړه د زړه راښکون لپاره به هر کوښښ کوي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

## ۲. په عدت کې نفقه

الف: هغه ښځې چې نفقه یې حق نده

۱. هره ښځه چې مېړه یې مړشي نو دمېړه په وارث یې نفقه نشته ده ځکه چې دا حق د ښځې پخپل مېړه دی.

۲.چې له خاوند څخه د بېلتون لامل ښځه وي لکه دخاوند له پلاریازوی سره داسې کړنه چې حرمت مصاحرت ثابتوي.

---

[1] درالمختاراوحاشیه ابن عابدین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳**. هره ښځه چې له مېړه څخه بېله شي خو ددی د نکاح تړون صحېح ن وي لکه فاسده نکاح یا هغه چې په شبهه کې ورسره وطې شوې وي.[۱]

**ب** :**هغه ښځې چې نفقه یې حق ده**

**۱** . ټولې ښځې چې له خاوند څخه بېلې شي خودبېلتون لامل دخاوند مرګ نه وي اودنکاح تړون صحېح وي که دبېلتون لامل فسخه وي او که طلاق اوبرابرخبره ده چې دفسخې سبب روا وي لکه له بلوغ څخه وروسته دځان جلاکول اوکه ناروا وي لکه مرتد والی یادښځې له موریالورسره داسې څه کول چې حرمت مصاهرت ثابتوي.

**۲**. هره ښځه چې له مېړه څخه یې دبېلتون لامل همدا وي مګردالامل شرعا منع نه وي، لکه دنکاح فسخه له دی لامله چې مهریې له امثالوڅخه کم وي[۲].

**۳**. هره ښځه چې قاضي یې دهمدې ښځې په غوښتنه په مېړه طلاقه کړي؛ خوکله چې له دې پنځوعیبونو څخه یو پیدا شي :

**۱**. چې تناسلي غړی یې غوڅ وي.

**۲**. چې خصي وي.

**۳**. خنثی مشکل (ایزک یا هجړا) وي.

**۴**. چې ساحرانو اوجادوګرانو له ښځې سره له کوروالی څخه منع کړی وي.

**۵**. هرسبب چې وي خوخاوند له ښځې سره کوروالی ونشي کولی.

---

[۱] درلمختاراوحاشیه ابن عابدین.

[۲] حاشیه ابن عابدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو امام ابو حنيفه(رح) او د هغه د ملګرو په نزد يې په دې صورت کې نفقه نه شته ده ځکه چې دې خپل ځان په خپله جدا کړی دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳. دعدت درواوالي حکمت

الف : هغه عدت چې له مړ خاوند سره د وفا لپاره وي ، دهغه په مرګ باندې دغم، اندېښنې اوخفګان ښکارول دي ځکه چې داله داسې چاڅخه یوازې پاتې شوله چې دژوند خوشېې اوورځې یې سره خوږې اوپه مینه تېرې کړې وې ، دژوند خواږه او ترخه یې څکلي وو ځکه خویې په هره ښځه چې کوروالی ورسره شوی وي اوکه نه واجب کړ. ځکه که کوروالی ورسره شوی هم نه وي نوخپل همېشنی ملګری خویې له لاسه ورکړ، اوپر غیرشرعي تړون دراېوځای شویوښځې اوخاوندپر مرګ دعدت نه واجبولوڅخه ښکاري چې شریعت اصلا دې ډول تړونونوته کوم اعتبار نه ورکوي .

ب: دعدت له وجوب څخه بل حکمت د رحم پاکوالی دی، د دې لپاره چې له چاڅخه ښځه بېله شوېده اولادېې بل چا ته منسوب نشي ، اوبل داچې کوم کسان له دې ښځوسره واده کول غواړي د دوی اولادبل چاته منسوب نشي، نوالله(ج) ددې قضیې دحل لپاره ښځوته څه ټاکلی موده وخت ورکړ،او شریعت دلته دصحیح تړون او غیرشرعي تړون توپیر ځکه ونکړچې که څه هم غیرصحیح تړون اوتړون کوونکوته څه احترام نشته دی اوله دوی څخه سترګې پټې کړونوله هغه چاڅخه خویې نشوپټولای چې لدې وروسته ورسره واده کول غواړي .

ج : دعدت له رواوالي څخه بل حکمت دادی چې خاوندته دافرصت (چانس)وي چې که ښځې ته رجوع کول غواړي نورجوع کولی شي کېدای شي چې د داسې یوعلت له کبله یې بېله کړې وي چې ده یې په هغه وخت کې تحمل نشوکولی یا څه غلط ګومان ورته پیداشوی وي اوبیایې دا ګومان هم رفع شي اوپښېمان شي اویاخپل نفس اویاشیطان ته ماته ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښځې ته رجوع وکړي اوددې لپاره چې دا تولې لارې بندې نه شي نو شریعت په ښځې عدت فرض کړچې که خاوند ښځې ته رجوع کول غواړي نووخت شته دی الله(ج) فرمایي : (يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ لَا تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذَلِكَ أَمْرًا ) الطلاق

ای پیغمبره هغه وخت کې چې طلاقوئ تاسې ښځې نو طلاقوئ يې په پاکۍ کې اوشمېرئ دعدت ورځې،او ووېرېږئ له خپل رب څخه ،مه وباسئ هغوی له کوره دهغوی څخه اونه دي په خپله وځي مګرکله چې ووتلې له حدودو دالله ج څخه او دادالله ج حدود دي اوهرڅوچې دالله ج له حدودو تېری وکړېس په تحقیق سره ظلم يې وکړ.په خپل ځان ،نه پوهېږي ته چې ښايي خدای ج له دې وروسته کومه چاره پيداکړي.

اوبيا د الله(ج) دې قول ته ځيرشي (وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَلِكَ إِنْ أَرَادُواْ إِصْلاَحًا).

یعنې : اود هغوی خاوندان حق لري دهغوی د راګرځولو په دې موده کې که چېرې وغواړي په ښه ډول استوګنه .

نو مطلب اوغرض دواړه په ډاګ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم څپرکی

# د نسب ثبوت

داولادنسب پلارته له دې درې اسبابوڅخه په یوسبب ثابتېږي

۱. بستر
۲. اقرار
۳. بینات یانښې نښانې

## بستر

### الف: له بسترې څخه مراد

له بسترې څخه مراد چې دنسب نسبت پلارته ثابتوي دحمل په پیل کې دښځې اوسړي ترمنځ د نکاح وجود دی یعنې هره ښځه چې د چا په نکاح کې وه اود هغه د نکاح په موده کې حامله شوله په دې شرط چې له هغه څخه حمل اخستل کېده نو دهغه چا نسب چې داښځه یې زېږوي دې مېړه ته کېږي اودې ته اړتیانه شته چې ښځه په دې ګواهان راولي اونه د خاونداقرار اوبیناتو ته اړتیاشته ده.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام ددې حمل نسبت خاوندته کوي سره لدې چې عقل په پوره اوبشپړيقين سره داپرېکړه نه شي کولی چې داطفل به حتمي له همدې خاوندڅخه وي ځکه چې اسلام کوم تړون جايزکړی دی دهغه غوښتنه داده چې ښځه بايديوازې په خپل خاونداکتفا(بسوالی) وکړي اوله بل چاڅخه دې د خوند اومزو اخستلوناوړه هيله ونه ساتي اونه بل چاته روادي چې دې ښځه ته په دې غرض ور ورانـدې شي اواصل دادی چې وګړي دا سلام پر احکامو اودشريعت پرحدودو ولاړ دي نوځکه ،ګومان ،وهم او احتمالاتوته اهميت ورنه کړل شو .

## ب: پر بستر د نسب د ثبوت اساس

پر بستره دحمل د ثبوت لپاره علماو و درې اصله په نظر کې نيولي دي :

۱. دا چې له خاوند څخه دحمل امکان وي.

۲. د حمل کمه موده دشريعت په نظرکې.

۳. د حمل وروستۍ موده دشريعت په نظرکې.

۱. که چېرې مېړه کوچنی و اوحمل ورڅخه نه اخستل کېده نود علماووپه اتفاق سره لده څخه حمل نه ثابتېږي اوکه چېرې خاوندبالغ اودحمل امکان ورڅخه و مګرظاهراً دوی له يوبل سره هېڅ نه ويوځای شوي اود خاونداوښځې د اوسېدلوترمنځ ډېر واټن و لکه چې خاوند په لوېديځ اوښځه يې په ختيځ کې اوسېږي اوځانته وکيل وټاکي چې ماته فلانۍ ،د فلاني لورپه نکاح کړه اوهغه داکاروکړ اوظاهرا ددوی ملاقات اويوځای والي هېڅ نه و شوی اوبيابښځه له دې نکاح څخه وروسته په ممکنه موده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې حمل وزیږوي نوایاداکوچنی هغه خاوند ته منسوبیږي چې په لویدیځ کې اوسیږي؟

امام ابوحنیفه(رح) وایي چې داماشوم دې خاوندته منسوبیږي ځکه چې رسول الله(ص) دحجة الوداع په موقع وفرمایل : (الولدللفراش)

یعنې : دکوچني نسبت بسترې ته دی.[1]

امام شافعي اوامام مالک(رح) وایي که دومره نژدې وچې مباشرت یې ممکن ونوددې کوچني نسبت ورته صحیح دی اوکه لرې و نونه ثابتیږي.[2]

مګرپه موجوده عصرکې چې دساینس اوتکنالوجۍ دپرمختګ پیردی او له شرق څخه غرب یاله غرب څخه شرق ته تلل دمیاشتوپر ځای پر ساعتونو بدل شوي دي او دنسب ثبوت لپاره ډول ډول تخنیکي وسایط هم جوړ شوي دنسب ثبوت کومه سخته چاره نه ده.

## د حمل کمه موده د شریعت په نظر کې

دحمل کمه موده دعلماوو په اتفاق سره شپږمیاشتې ده ، دلیل یې (وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا )الاحقاف : ۱۵

یعنی : اوحمل د ده او بیلتون د ده ( له تي څخه) دېرش میاشتې دی.

(وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ) لقمان : ۱۴

یعنی : اوبېلول د دې (له تي څخه په پوره کېدلو) د دوه کلونوکې دي .

---

[1] ابن ماجه ،درالمختاراوحاشیه ابن عابدین ،

[2] المهذب

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ) البقرة : ۲۳۳

يعنی : اوميندې دې تی ورکوي خپلو کوچنيانو ته دوه کاله پوره.

په لومړي ايت کې الله(ج) د حمل او له تي څخه دبېلتون دواړه موده د يرش مياشتې وټاکله او په دی بل ايت کې الله(ج) له تي څخه دبېلولو موده يوازې دوه کاله وټاکله او دا څلېرويشت (۲۴) مياشتې وې نو دا ټول دلالت کوي چې د حمل کمه موده شپږ مياشتې ده .

او س خو طب ثابته کړېده. چې حمل په شپږو مياشتو کې بشپړ انسان جوړېږی او که لدی څخه کمه موده کې يې په غړو بشپړاو برابر انسان وزېږاوه او خاوندتری انکار وکړنو نسبت يې دی خاوند ته نه کېږی ، خو کله که مېړه داومني چې زما ورسره پخوانی اړیکه وه واو يامې ورسره په شبهې کورالی کړی دی نو نسبت يې ورته کېږی.

# د حمل وروستۍ موده د شريعت په نظر کې

د حمل په وروستۍ موده کې د علماء دنظر اختلاف لری :

د امام ابوحنيفه(رح) په نزد دحمل وروستۍ موده دوه کاله ده دليل يې دا حديث دی چې عايشه(رض) روايت کوي ، ( . ښځه په ګېډه کې حمل له دوو کالو څخه دڅرخې دستنې دسیوري دګرځېدلو په اندازه هم نه ځنډوي ) دارقطني.

(پخوا به ښځوله مالوچو ، وړيو او سونډو څخه تارونه ، سنې اومزي اوبدل يولږکی به يې چې له يوفټ څخه به اوږدنه وو په څرخه کې ورکاوه دلته مراد همدا نډلږکی او دهغه سيوري دی) يعنې حمل په ګېډه کې له دوه کالو څخه ډېروخت بالکل نه تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د جمهورفقهاوو (امام شافعي، امام مالک ، امام احمد (رح) په نزد دحمل وروستۍ موده څلور کاله ده دلیل یې دمالک بن انس (رح) روایت دی چې: زموږ دګاونډي محمدبن عجلان ښځه یوه پاکه دابرو خاونده ښځه وه اوخاوندیې هم یورښتونی سړی واو دادرې خېټې په دولسو کالوکې حامله شوله هره خېټه په څلورو کالوکې.[۱]

دوی وایي چې داسې شوي دي اوخلکو عملاً پخپلو سترګولیدلي هم دي نو همدا باید دحمل دزېږېدلو وروستۍ نېټه وټاکل شي؛ نوکه دحمل له کمې مودې څخه دمخه اویاله وروستۍ مودې څخه وروسته ښځې کوچني وزېږاوه نو دحمل نسبت خاوند ته نه کېږی مګرکله چې خاوند ښکاره یادلالتاً (لکه چې خلک دطفل مبارکي ورکړي اودایې قبوله کړي یا دزېږېښت په وخت کې په نسب اعتراف وکړي یاهغه څه تیارکړي چې دنفاسې ښځې اړتیا ورته وي)، داومني اوکه لدې وروسته یې له نسب څخه انکار وکړ نودا انکارصحیح ندی.

اوبل داچې لعان وکړي نونسب نه ثابتېږي.

## کوروالی په شبهې سره

په شبهې سره دخول درې ډوله صورت نیسي.

### ۱. شبهه په ملک کې

---

[۱] دارالقطنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه داسې چې شرعي دليل څوک په شبهه کې ورغورځوي لکه چې فکروکړي، چې لدې سره نکاح ماته روا ده اوهغه ورته روانه وي لکه دزوى له وينځې سره کوروالى پدې ګومان وکړي چې دا ورته رواده ځکه چې رسول الله(ص) فرمايي: (انت ومالک لابيک).

يعنې: ته اوستا مال دواړه ستاد پلاريې.

اوياله ښځې سره په بائن طلاق کې پدې ګومان کوروالى وکړي چې دا ماته رواده اودادې ښځې ته صحيح رجوع ده .

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شبهه په تړون کې

لکه چې څوک له چا سره پدې فکر کورو الي اونکاح وکړي چې داورته حلاله ده او هغه ورته حلاله نه، بلکې حرامه وي لکه رضاعي خور.

## شبهه په فعل کې

لکه چې له چا سره پدې ګومان کوروالی وشي چې دايې ښځه ده او هغه يې ښځه نه وي ، نوپدې ټولوصورتونوکې نسب نه ثابتېږي مګرکله چې سړی پدې دخول اعتراف وکړي .

دنسب ثبوت په اقرار او نښو سره

دنسب ثبوت په اقرارسره

هغه اقرار چې دنسب (مثلاً زوی توب ، پلارتوب ، مورتوب ، لورتوب) غوښتنه کوي نودادې شرطونه پکې لازم اوضرور دي :

۱. ددې ماشوم نسب (پلار) به معلوم نه وي اوکه پلار يې معلوم ونودا اقرار نه صحيح کېږي .

۲. داچې عادتاً لدې مدعی څخه دعمر له پلوه د دومره اولادامکان وي نوکه شل (۲۰) کلن زلمی په يوه پنځلس (۱۵) کلن هلک دعوه وکړي چې دازما زوی دی نودادعوه صحيح نده.

۳. داچې پرچا دعوه کېږي چې دازما اولاددی نوکه هغه دتصديق اهل وي نوچې مدعي رښتونی وګڼي که چېرې مميز و (دتميز اهليت ولري) چې ووايي دا زما پلاردی اوکه هغه مميزيابالغ واو مدعي يې دروغژن کړنودانسب نه ثابتېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکه هغه دتصدیق اهل نه وي لکه غیر ممیزکوچنی نو دهغه اقرار ضرور ندی ، اوکه چېرې کومې ښځې دکوم کوچني په مورتوب اعتراف کاوه اوهغې خاونددرلود اودطلاق په عدت کې وه نوکه چېرې یې مېړه داښځه رښتوني وګڼله نود ده داتصدیق اعتراف په پلارتوب د دې کوچنی دی او که چېرې یې داښځه دروغجنه کړله خودایې منله چې زما ښځې کوچنی زېږولی دی نودادوه صورتونه لري.

۱. داچې ښځې څوک زېږولی دی دایې له پلار توب څخه بالکل منکر شي لکه چې ووایي زما ښځې چې څوک زېږولی دی نوزما څخه ندی نودا انکار له اولاد دبسترې څخه دی نوداحکم وړاندې تېرشواوچاره یې داده چې لعان وکړي.

۲. چې ووایي زماښځې هلک زېږولی دی اودا انجلۍ ده یا د دې سرچپه یاد ښځې دحمل له زېږولو څخه بالکل منکرو،نودلته دیوی ښځې ګواهي هم چې دزېږښت په وخت کې یې له ښځې سره مرسته کړې وي کفایت کوي چې داسې ګواهي ورکړي چې همدا کوچنی دې ښځې زېږولی دی نونسب ثابتېږي.

## د نسب ثبوت پر ګواهانو،دلایلواونوروننبوسره

که چېرې دعوه په پلارتوب اوزوی توب وه اودښځې اوخاوندپرې موافقه وه نو که مدعي علیه ژوندی وي نو دا دعوه اورېدلی شي مثلاً: یو هلک دعوه وکړله چې فلانی زما پلار دی یاچا دعوه وکړله چې فلانی زما زوی دی اوپه لومړي صورت کې پلار اودوهم صورت کې زوی ژوندی وي اودښځې اومېړه هم پرې موافقه وه نو دادعوه صحیح ده اونسب ثابتېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خودهغوی دری شرطونه ترنظرلاندې نیول ضروري دي کوم چې لرې وړاندې تېر شول.

اوکه چېرې مدعي علیه مړ وي لکه چې څوک وايي،دا فلانی چې مړشودا زما پلار و نو دا دعوه یوازی نشي اورېدلی مګر کله چې ورسره د حق غوښتنه ملګرې وي لکه میراث څکه چې دمدعي اصل مقصد دحق غوښتل دي اودنسب دعوه ورسره ضمني ده.

اوکه چېرې دښځې اوخاوندا ختلاف ونودا اختلاف به یادنکاح دشتوالي په صورت کې وي اویابه له بېلتون څخه وروسته وي نوکه چېرې دنکاح دوجودپه صورت کې وي اوخاوند دامنله چې ښځې یې حمل زېږولی دی مګرځانته یې د نسب له نسبت څخه انکار کاوه نو دلته هم له لعان څخه پرته بله چاره نشته ده اوکه چېرې یې دانه منله چې ښځې یې حمل زېږولی دی اویایې دامنله خو ویل یې چې هغه دا ندی هغه هلک و اودا نجلۍ ده اویا ددې سرچپه اویا هغه ژوندی واودې مړ دی نوښځه دا ثابتولی شي اودلته دیوې مسلمانې په عدالت مشهورې ښځې ګواهي یوازې هم منل کېږي.

اوکه چېرې داجګړه له بېلتون څخه وروسته وه نو که چېرې یې حمل د دوه و کالو څخه کمه موده کې وزېږېد یعني د بېلتون دوه کاله تېر نه و چې حمل وزېږېدنو که داحمل ښکاره و اوکه ښکاره نه وخو خاوند دا منل چې دا زما څخه دی نو دامام ابوحنیفة(رح) په نزد دا نسب ثابتیږي اوګواهانوته اړتیا نشته ده اوامام ابویوسف اوامام احمد(رح) وايي چې دلته دیوې ښځې ګواهي هم بسوالی کوي

# څوک په زوی توب نیول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچا چې نسب معلوم وي اوڅوک دهغه نسبت ځانته وکړي يعني په زوی توب (تبنيت) يې ونيسي.

په جاهليت کې داسې وچې څوک به چاپه زوې توب ونيوه نو هغه به دده دسکه زوی په څېر و ،هغه ته به ټول هغه حقوق ورپه برخه و کوم چې خپل سکه زوی ته په برخه وي دهغه ښځه سکه نګور ګڼل کېدله ،نکاح به يې ورسره حرامه ګڼله رسول الله(ص) هم زيدبن حارثﷺ ته زوی ويلې واوکله چې زيد خپله ښځه زينب بي بي(رض) طلاقه کړله ،نورسول الله(ص) وغوښتل چې دغه جاهلانه عنعنه اودودله منځه يوسي اودغه دود دکلونو راهيسې دخلکوپه عقيده اوذهن کې ځاې نيولی وهرچابه ورته په درنه سترګه کتل دا ورته ډېره غټه خبره ښکارېدله.نوددې لوی جهل دله منځه وړلو لپاره لوی اقدام اولوی جرئت ته اړتيا وه هماغه وچې رسول الله(ص) داسماني حکم په اساس له زينب(رض) سره نکاح وکړله.اوکله چې رسول الله(ص) دا کار وکړ نومنافقينوته موقع په لاس ورغلله اوله وخت څخه په استفادې يې په حضور(ص) باندې د تهمتونو ،سيل اوباران جوړکړ- ټولوکفاروبه ويل چې داځنګه رسول الله(ص) دی چې دخپل زوی ښځه يې په نکاح کړله- ،نودرسول الله(ص) ددې نيک اوپرځای اقدام دستاينې په غرض الله(ج) وفرمايل: (وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءكُمْ أَبْنَاءكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ {۴} ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ)الاحزاب:۳-۴.

يعنې:ندي ګرځولي( الله ج ) په زامنوبللي ستاسې زامن ستاسې دا ويل ستاسې دي په خولوستاسې اوالله(ج) وايي حق اودی ښيي سمه لاره،وبولئ تاسو دوی پلرونو خپلوته چې داکاربنه غوره دی په نزد د الله(ج).

(c) ketabton.com: The Digital Library



:( فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا ) الاحزاب :۳۷.

يعني : نو هر کله چې پوره کړ زيد له هغې څخه حاجت خپل نو په نکاح درکړله، مونږ هغه تاله.

( مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ) الاحزاب: ۴۰.

يعني نه دی محمد (ص) پلار د هېڅ يوتن له سړيو ستاسې مګر رسول د الله(ج) او مهر د انبياوو دی.)

همداسې يو جاهليت زمونږ په ټولنه کې هم وجود لري ،هغه دا چې کومه نجلۍ څوک د نکاح په وخت کې د خپلې نکاح د تړون لپاره وکيل وټاکي نو بيا دې وکيل ته (نکاح پلار) ويلې شي چې بيا د خپل سکه پلار حيثيت لري ،خپل وي او که پردی له هغه څخه پرده نه کوي ازادې خبرې ،ازادناسته پاڅه يې ورسره وي او هېڅ د ګناه فکر هم ورسره نه وي ان چې ځينې خو نکاح هم ورسره حرامه ګڼي ،همدا راز وکيل (نکاح پلار) هم هغې ته د خپلې لور په سترګه ګوري او د ډېرو هغه حقوقو څخه يې برخمنه ګڼي چې خپله سکه لور يې پرې لري.

دا کار په اسلام کې کوم ځای نلري او په وکالت څوک د چا پلار کېدلای نشي او ترڅو يې چې شرعي محرم نه وي په وکالت يې محرم کېدلای نشي او د ناسته پاڅه.ازادې خبرې او. . .هر څه ناروا دي او دوی يو بل ته له لومړۍ مېره څخه د بيلتون په صورت کې حلال دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نسل مخه نیول

په تېرو بحثونو کې مو ولوستل چې له نکاح څخه مهم او عمده غرض د نسل بقا یا پایښت دی او د نسل په ډېرښت مو د رسول الله(ص) حرص ولیده.

په جاهلیت کې به وګړیو د فقر، نېستۍ او لوږې له وېرې خپل اولاد وژل، الله(ج) نه تنها دا چې له دې څخه منع وکړله بلکې دا یې حرام سخته او لویه ګناه وګڼله. ویې فرمایل: (وَلاَ تَقْتُلُوا ْ أَوْلاَدكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُم إنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْءًا كَبِيرًا )الاسرا : ۳۱.

یعنې: او تاسو خپل اولاد د خوارۍ له وېرې مه وژنئ ، موږ هغوی او تاسو ته روزي ورکوو بېشکه د دوی وژنه لویه ګناه ده.

(وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ) الاسراء: ۳۳.

یعنې: او مه وژنئ تاسو هغه نفس چې حرام کړی دی خدای (جل جلاله) مګر په حق سره.

(قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُواْ أَوْلاَدَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ) الانعام: ۱۴۰.

یعنې: په تحقیق سره زیانمن شویدي هغه کسان چې وژلي یې دي خپل اولاد له جهته د ناپوهۍ (حماقت نه)

(وَكَذَلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلاَدِهِمْ) الانعام: ۱۳۷.

یعنې او همدا سې- چې دوی ته دی- ښایسته کړل شویدی ډېرو مشرکانو ته وژل د اولاد دوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ) سورة الممتحنة۱۲.

يعنې:اې پیغمبره په هغه وخت کې چې راشي تاسو لره مؤمني ښځې چې ژمنه کوي له تاسوسره پدې خبرچې شریک به نه پیداکوي له الله(ج)سره هېڅ شی اونه به غلاکوي اونه به زنا کوي،اونه به خپل اولاد وژني.

(وَإِذَا الْمَوْؤُودَةُ سُئِلَتْ {} بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ) التکویر:۸-۹

يعنې: اوپه هغه وخت کې چې له ژوندۍ ښخ کړل شوې نجلۍ وپوښتل شي چې په کومه ګناه وژل شویده.

(وَلاَ يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ) البقرة:۲۲۸.

يعنې : او روا ندي ښځولره دا چې پټوي به دوی هغه څه چې پیداکړیدي خدای(ج) په رحمونود دوی کې.

نو پدې ټولو ایتونوکې الله(ج) دانسان له منځه وړل حرام ګرځولي دي که هغه دنفقې له وېرې وي اوکه دکوم بل جاهلي خوی له کبله.

علامه اقبال وایي چې پر مریمې ،فاطمه له دې کبله غوره ده چې د مریم دژوند سیرت مورته روښانه نه دی اودفاطمې د ژوند سیرت ټول روښانه دی، مریمې یوزوی زېږولی اودفاطمې اولاد ډېروو ،فاطمه دیولورپه صفت پېژنو ،دیوې خورپه صفت یې پېژنو ،دیومورپه صفت یې پېژنو ،دیومېرمنې په صفت یې پېژنو.[1]

---

[1] خواتین مجله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودا اوس چې ښکېلاکي ځواکونو دنسل بندۍ کومي چیغي جوړې کړې دي، دا د نفقې یاخوراکي موادودکمښت له کبله نه (که څه هم په دي خاطرهم حرام دي) بلکې دخپلو ښکېلاکوا هدافو دتحقیق لپاره دي غواړي چې اسلامي هېوادونه دنفوس له لحاظه کمزوري وي (

که دخوراکي موادودکمښت له وېري دا کار وای نو- دااحصایې کم ترکمه ۲۳ کاله پخوانۍ دي -- نوپه مصرکې چې (۳۷) میلیونه نفوس لري خلک د نسل بندۍ لپاره تشویقوي ، ولي یې په شوروي اوبرېتانیه کې نه تشویقوي په مصرکې په هرکیلومترکې (۱۱)کسه ژوندکوي اوپه شوروي کې په هرکیلومترمربع کې (۳۵) کسه ژوند کوي، دامریکاپه متحده ایالاتو کې په هرکیلومتر کې (۲۵) کسه ژوندکوي.

په هسپانیه کـه جنرال فرانکویودهقـان تـه چې (۱۰۷) کالـه عمـر او۲۱بچیان لري د اولاد دډېروالي له کبله انعام ورکوي .

په یونان کې حکومت موراوپلارته ددریم کوچني د زیږولو په سرهرمیاشت انعام ورکوي.

دفرانسي حکومت (۵۲) میلیونه وګړي نابسیاکني؟.

اسرائیل له هرڅه ډېردخپلووګړیود ډېروالي لپاره لاس اوپښي وهي اوپه اسلامي ټاټوبي کې د نسل بندۍ لپاره چیغې وهي !!

دا کارپه اسلام کې حرام اود څلورواړو مذهبونوپه اتفاق سره اسقاط حمل(د حمل غورزول) له ضرورته پرته حرام دي.نه یوازې په اسلام کې بلکې په مسیحیت کې هم حرام دي اوپه یهودیت کې شنډوالي لعنت ګڼل شوی دي.په ۱۹۷۷\۱۰\۱۷م په قاهره کې په اتم کنفرانس کې چې دټولي نړۍ علماوو په کې ګډون کړی واودزېږد بدلودمخنیوي یا کوچنۍ کورنۍ په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې خبرې کولې ،ټولو په يوه اتفاق دا عمل حرام اوداېې د ښکېلاک چال ،فريب دسيسه اودمسلمانانو د له منځه وړلو يوه پلمه وګڼله.په دې کنفرانس کې دکتوريوسف قرضاوي(مصري)له قطرڅخه ،امام موسى صدر د شيعه ګانو مشر له لبنان اوسوريې څخه ،دکتور عمرعبدالله السلام له لبنان څخه مولنا شيخ حاجي حسنين مخلوف اودکتور عبدالودود شلبي له مصر څخه ،مولنامفتي محمود له پاکستان څخه ،مولنا محمدهاشم مجددي له افغانستان څخه ،شيخ محمودصبحى له ليبيا څخه ګډون کړی وو.[1]

خوکله که څه شرعي عذروي لکه دمور ناروغتيا... خودفقرخوارئ وېره نه وي ،نوبيا دحمل مخنيوی روا دی.الله(ج) عيال داره شخص خوښوي ،رسول الله(ص) فرمايي:[ان الله يحب الفقيرالعفيف اب العيال].[2]

يقيناً الله(ج) خوښوي فقير(نيستمن)پاک اوډېرعيال (اولاد)پلار.

نوهيله ده چې نړيوال به ددوی په دسيسو اوپلمو و نه غولېږي اوددې دسيسوپه شنډولو کې ګام پورته کړي.

دا مبحث په دې ځای کې نيمګړې دی ،دنسل دمخنيوي دموضوع شرعي حيثيت مانبه په تفصيل سره څېړلې ،چې په شريعت اوونېزه کې په پرله پسې ډول خپور شوی دی او انشاء الله چې زما بل کې کتاب کورنۍ فقه کې به هم خپورشي.

---

[1] قضيه تحديد النسل ام کلثوم يحيى مصطفى خطيب.

[2] ابن ماجه اوامام غزالى په احياء علوم الدين کی نقل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښځېنه ناروغتیاوې

## الف: حیض

## تعریف

په هدایه کې وایي چې حیض په لغت کې وتلی وینې ته وایي او په بریقه کې لیکي چې حیض په لغت کې بهېدلو ته وایي ځکه چې په دې وخت کې وینه بهېږي او پیاوړی همدا نظر دی.

په هدایه کې دحیض پېژندنه داسې کوي:

حیض هغه وینه ده چې دیوې روغې او سالمې ښځې رحم یې شیندي.

د حیض کمه موده درې شپې درې ورځې او درې شپې یعنې پوره دوه اویا ساعته ده که لدې څخه لږ هم څه کم وي حیض ندی.

په رسائل ابن عابدین کې لیکي چې مثلاً: که چېرې د یکشنبې په ورځ سحر دلمرختلو په و خت کې په ښځه وینه راغلله او د چهارشنبې په ورځ د صبح صادق په وخت کې وینه بنده شوله نو دا حیض ندی.

د حیض په موده کې دښځو ستونزو ته مو په تېرو مخونو کې ګوته ونیوله. د اسلام څخه وړاندې به عربوله حایضې ښځې څخه نفرت کاوه، او دهغې دبسترې او کاسې برسېره به یې هغوی هم له ځانه جدا کولې او په بده سترګه یې ورته کتلې. په فارس کې به په حیض کې ښځه ګندګې او ناولې ګڼلی شوه لېرې دښتې ته به یې وشړله هلته به یوازې او سبدله هېچا ته اجازه نه وه چې

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه سره کښېني يا خبرې ورسره وکړي مرئيانو به ډوډۍ ورورله حتی دوی (مرئيانو) به هم پوزې لاسونو او غوږونو ته نېږدې نه نيول له دې وېرې چې هسې نه په ناڅاپي او ناپامئ کې د حايضې له خيمې سره ولګېږي.

د مرګ او ژوند مطلق واک يې د خاوند په لاس کې وو.[1]

مګر اسلام دا ناوړه دودونه يو مخيزه له منځه ويوړل او د هغې بايللې حيثيت يې بېرته راژوندی او له هغې سره يې له کوروالي څخه پرته هره لوبه يوځای کېدل، خوراک، څښاک، کښېناستل او پاڅېدل رواکړل. پخپله رسول الله (ص) به د خپلو بيبيانو سره په حيض کې ويده کېده، د پرتوګ له پاسه به يې هره لوبه ورسره کوله او اعلان يې وکړچې: (اصنعوا کل شي ء الا النکاح).[2]

يعني: هرڅه کوئ مګر کوروالی.

او په حيض کې کوروالی چې دواړو خواوو ته کوم زيان رسوي هغه خواوس طب په ډاګه کړېده. د حيض کمه موده لکه چې ومووېل درې شپې او درې ورځې ده رسول الله فرمايي: (اقل الحيض للجارية البکر والثيب ثلاثة ايام ولياليها).[3]

يعني: د حيض کمه موده پېغلې او کونډې ته درې شپې او درې ورځې ده.

او وروستۍ موده يې لس ورځې او لس شپې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

[1] المراة فی الاسلام استاد محمود العقاد، الاسلام بلامذاهب \ دکتور مصطفی الشکعه نقل له : (the spirit of islam)

[2] صحاح سته مګر بخاری، نيل الاوطار او مشکوة

[3] دارالقطني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحیض په موده کې چې ښځه هرڅه سوروالی، ژېړوالی یاخړوالی وینې هغه ټول حیض دی. حیض په وړې نابالغې انجلۍ اوشنډې ځوانې اوپه زړې ښځې چې داولاد د له زېږېدلوڅخه ناامیده وي چې تقریباً د (**۵۵**) پنځه پنځوس کالوپه شاوخواکې وي ) نه راځي.

حایضه ښځه به لمونځ نه کوي ،روژه به نه نیسي دلمانځه ګرځونه یې پرې نشته خو د روژې قضابه راوړي او روژه نیول ورته روانديد مسافرو په څېرهم نده چې نیول یې عظمت اوخوړل یې رخصت وګڼل شي. نه به جومات ته ننوزي ،نه به دبیت الله طواف کوي، نه به دقران کریم تلاوت کوي اونه به مصحف پورته یامسحه کوي ،مګر له پوخ سره. کومه ښځه چې ټاکلی عادت ونلري کله که له لس ورځوڅخه وړاندې له وینې ځنې پاکه شوله نوترڅوچې غسل ونکړي کوروالی ورسره روانديد.اوکه په یوولسمه ورځ هم غسل ونکړي بیاورته بې له غسله هم کوروالی روا دی ،خوښه نه ده.

اوکله کې وینه له لسو ورځو څخه زیاته شوه نو غسل دې وکړي اولمونځ به کوي.خو د هرلمانځه لپاره به بېل اودس کوي، ځکه داناروغتیا ده ،روژه به هم نیسي د قران تلاوت هم کولای شي اوکوروالی هم ورته روا دی.[۱]

## ب: نفاس

تعریف نفاس له تنفس یا دنفس له وتلو څخه اخیستل شوی دی.او داهغه وینه ده چې د ولادت (زېږولو) څخه وروسته یې د ښځې رحم شیندي.[۲]

[۱] درالمختاراوحاشیه ابن عابدین
[۲] الهدایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنفاس کمه موده شریعت ټاکلې نده او وروستۍ موده یې څلوېښت (۴۰) شپې اوورځې ده ،اوکه له دینه ډېره شوه نو بیا ناروغتیا ده بیا ورته لمونځ، روژه،کوروالي هرڅه روادي.[1] نفاسه ښځه په ټولو احکامو کې د حایضې په څېر ده.

[1] الهدایه.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم څپرکی

## د دین په زده کړه کې شرم پکار نه دی

ددین د احکامو زده کړه په هرمسلمان نارینه وی او که ښځینه یوشان فرض ده. الله(ج) دواړه ډلې مکلفې کړې دي چې د دین هغه ضروري احکام چې په ورځني ژوند کې ورته اړتیا پېښېږي یاد او زده کړي کوم ایتونه او احادیث چې د علم په فرضیت دلالت کوي ټول ددې خبرې دلیل او ددې دعوې ثبوت دی او هرڅوک چې په کوم دیني حکم نه پوهېږي او بیا هم پرې ځان نه پوهوي یا په دې هکله ځانته شرم او ننګ دروي دا ګناهګار دی . الله(ج) خپلو بندګانو ته امر کوي چې **فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون**).

یعنې :د پوهې له خاوندانو نه وپوښتئ که چېرې تاسې نه پوهېږئ .

نو د الله(ج) ددې حکم اودا ډول نورو اوامرو په اساس د دیني مسایلو زده کړه پر هر نارینه او ښځینه فرض ده او په هرمسلمان لازم دي چې په دې هکله هېڅ شرم او ننګ ونه کړي ی‌عنې ددیني مسئلو په زده کړه کې شرم او عارهېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته دی او که هرڅوک په اسلام کې لږ مطالعه هم ولري او په ځانګړي ډول که چا احادیث او فقه لوستې وي نو هغه په دې پوهېږي چې د دین په زده کړه کې شرم نه شته دفقهي او حدیثو معتبرو کتابونو نه له داسې مسایلو ډک دي او داسې مسایل په کې په خورا مفصل ډول تشریح شوي دي چې ښايي ځینې به يې ځانته شرم بولي که د داسې مسایلو یادول شرم وي او یاد داسې مسایلو لیکل یا روښانول له اخلاقو سره سمون ونه لري نو زموږ د دین ائمه وو به هېڅکله هم نه لیکل او نه به يې لوستل که د داسې مسایلو یادول یا رانقلول د شرم او ننګ خبره وي نو نارینه وو صحابه وو او ښځینه صحابه وو او په ځانګړي ډول امهات المؤمنین(رض) او په خپله رسول اکرم(ص) به نه بیانول او نه به يې په مفصل ډول د دې مسایلو روایت کاوه .په خپله د رسول الله(ص) او د هغه(ص) د مبارکو صحابه و د حیاد بېلګې له راوړلو نه انساني تاریخ بالکل عاجز دی نوآیا ددې مسایلو په یادولو او بیانولو نعوذ باالله من ذالک القول بې حیا وو؟

ایا زموږ د حیا قوه له هغوی نه ډېره ده؟ نه هېڅکله هم نه نو بیا دې زموږ مسلمان ورونه او خویندې میندې د رسول الله(ص) ،امهات المؤمنین ،نورو جلیل القدره صحابه وو او تابعینو په پل ،پل کېږدي او دد يني مسایلو په زده کړه کې دې هېڅ شرم نه محسوسوي ،اسلام پوښتنه کول عیب نه بولي خو ناپوهي عیب بولي او د اسلامي شریعت په تطبیق کې هم په اسلامي ټولنه کې د ناپوهۍ عذر ته اعتبار نه ورکول کېږي.زموږ ډېري دیندار ه خویندې، میندې او ورونه همدي غلط احساس له دین نه پردي کړیدي اود جهالت او ناپوهۍ په زولنو کې يې ګیرې کړې دي.له بده مرغه چې د بې سوادۍ او ناپوهۍ د بلا وزرې خوزموږ په ټولنه تر بلې هرې ټولنې زیاتې خپرې دي او په ځانګړي ډول په اوسني وخت کې خو زموږ د ټولنې با سواده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولوستوالي ښځې په فيصدۍ کې هم نه راځي اوبياکه دشرم اوخجالت احساس له دې بدمرغۍ سره يوځای شي نو خبره بالکل خرابه اوله بدهم بدتره شي.

الله(ج) چې يو انسان د يوعمل په ترسره کولومکلف کړی دی يايې دکوم کار دکولو نه منع کړی دی نو ددې مسئلې د شرعي حيثيت زده کول يې هم پرې فرض کړي دي او ددې مسئلې بيانول اويادول بيا نه تنها دا چې شرم اوحيا نه ده بلکې فرض اولازم دي ځکه چې موږه مسلمانان يو د ژوند دهرې برخې اوهر کار لپاره موحدود اوچوکاټ اسلام تعينوي.اوهمدارنګه د هغو مسايلو حدود اوچوکاټ هم اسلام ږدي چې بيانول يې لازم نه دي يا په بل عبارت دابه هم راته اسلام وايي چې په فلانۍ مسئله کې لدې زيات تفصيل اوبيان پکارندی که څوک په کې بيا هم تفصيل کول يا اوږدودل غواړي نو هغه سړی بې شرمه اوګناهګار دی.

اسلام په خپله د شرم اوحيا دين دی ،حيا دايمان نيمه برخه اوبې حيا انسان له نيم ايمان نه بې برخې اومحروم بولي.

رسول الله(ص) فرمايي: کله چې حيا نه لرې نو څه دې چې زړه غواړي کوه يې پخپله رسول لله(ص) ډېر حياناک شخصيت وه خو لکه چې د مخه مو وويل د دين زده کړه يا بل چاته يې ورښودل (هغه چې اسلام يې دزده کړې اوبل ته د ښودلو اجازه کړې وي) لکه جنسي مسايل.حيض،نفاس،... دا که هر څومره چاته د شرم خبره ښکاري خو يادول يې بې حيايي نده بلکې په خپل ذات کې عبادت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره چې د اطمينان او تسکين ډيوه مو لاروښانه شوي وي نوښه به داوي چې دغومسايلو او رواياتو ځونمونې دلته راياد کړو چې په اصطلاح کې د شرم او حيامسايل ګڼل کېږي.

پخپله رسول الله(ص) چې کوم احکام خپل امت ته بيانوي نو هدف يې دادی چې امت يې دا مسايل زده کړي او عمل پرې وکړي.

صحابه وو او حتی امهات المؤمنين(رض) چې په محمدي سپېڅلې مدرسه کې څه زده کړې دي نوپرته له دې چې له ځان نه په کې څه کمښت او ډېرښت راولي په ډېره امانتدارۍ سره يې امت ته بيان کړي چې نه يې په کې د شرم احساس کړيدی او نه يې په کې تنګ کړيدی او ددې مسايلو له بيان څخه د دوی اساسي هدف دادی چې هغه فرضيت يا وجوب چې نوروته ددې مسايلو ښودلو په هکله د دوی پر غاړه پروت دی ساقط شي او هم نورمسلمانان دا ديني مسايل چې دوی په خپله د اسلام له يواځيني شارح(ص) څخه زده کړيدي نوروته وښيي او که خدای مه کړه دوی ددې احکامو په روايت کې شرم محسوس کړی وای نو نن به موږ ددې مسايلو له احکامو څخه څه خبرېدلو؟

که حضرت عايشې(رض) يا د رسول الله(ص) د مبارک حريم نورو بيبيانو د رسول الله(ص) د غسل طريقه موږ ته نه وای بيان کړې او ځان ته يې شرم ګڼلی وای نو نن به موږ د شرعي غسل طريقه له چا څخه ياده کړې وه ؟

ام سلمه(رض) روايت کوي چې سليمه(رض) د رسول الله(ص) حضور ته راغلله او عرض يې وکړه چې :(يا رسول الله ان الله لا يستحي من الحق ...)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني :ای د خدای رسوله! الله دحق په ویلو کې شرم نه کوي نوایا په ښځه کله چې احتلام ورته پېښ شي (شیطان یې وغولوي)غسل شته ؟ رسول الله(ص) ورته وفرمایل چې هوکله چې اوبه (مني) ووینې.[۱]

په پورتنیو الفاظو کې په محمدي مدرسه کې روزل شوي صحابیه په زغرده رسول الله(ص) ته وایي چې د دین په یادولو او په حق وینا کې شرم نشته اورسول الله(ص) هم ددې موضوع په پوښتنې سره ونه رټله اونه یې پرې د بې حیا نوم کېښود.

حضرت عایشه(رض) روایت کوي چې ما او رسول الله(ص) به په یو تشناب کې یوځای غسل کاوه اوله یوه لوښي مو اوبه کارولې تردې چې رسول الله(ص) به داوبو په لګولو کې په ماچالاکي کوله نوما به ورته وویل چې: (دع لی. . . ) ماته اوبه پرېږده ماته اوبه پرېږده.

ددې مسئلې د بیان په وخت کې چې په روژه کې په ښکلولو او په غېږکې نیولو روژه ماتېږي اوکه نه؟ ام سلمه روایت کوي چې زه به رسول الله(ص) ښکلولم او هغه به روژه و.[۲]

حضرت عایشه(رض) روایت کوي چې درفاعه ښځه راغلله اورسول الله(ص) ته یې عرض وکړچې زه رفاعه طلاقه کړم اوله هغه نه وروسته مې له عبدالرحمن ابن زبیرقرضی سره واده وکړ اوله هغه سره د تهوتې د څنډې په څېرشی دی (تناسلي اله یې دتهوتې په څېر نرمه اومړاوې ده) رسول الله(ص) ورته وفرمایل: چې شاید بېرته رفاعه غواړې؟ نه تر دې چې: (یذوقی عسیلتک وتذوقی عسیلته).

---

[۱] بخاري کتاب الادب ،فتح الباري ،اوکشف لحقایق

[۲] متفق علیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې: (هغه ستا عسل وڅکي او ته دهغې عسل وڅکې) یعنې تر دې چې عبدالرحمن ستا له خوږونه خوند وانخلي او ته د هغه له خوږونه خوند وانخلې نو ته بېرته رفاعه ته تللی نشې.

په موطا کې وايي چې ددې ښځې نوم تميمه وو اودوهب لور وه.[۱]

حضرت ميمونه(رض) د رسول الله(ص) د غسل جريان حکايت کوي اوداحديث امام زيلعي اوټولوصحابه وو روايت کړيدی.

حضرت انس بن مالکؓ روايت کوي چې: (ان النبی(ص) کان يطوف علی نسائه).

یعنې: رسول الله(ص) به په يوه شپه کې پر ټولوښيبيانوګرځېده (له ټولوسره به يې جماع کوله)اوده په دې وخت کې نهه ښځې درلودلې.[۲] اوبخاري کې وايي چې بيا به يې له دې ټولونه يوغسل کاوه.

حضرت عايشه(رض) روايت کوي چې کله رسول الله(ص) وفات کېده نوسريې زما دسينې اوغاړې ترمنځ ايښی وتر دې چې دخولې لاړې (توکانړې) به يې زمادخولې له لاړوسره يوځای شوې.[۳]

رسول الله(ص) په زغرده اعلان کوي چې : (ان الله لايستحی من الحق ....).

یعنې: الله(ج) له حق ويلوڅخه شرم نه کوي تاسوله ښځوسره دشاه له لارې(په دبرکې)جماع مه کوئ.[۴]

---

[۱] بخاري کتاب الطلاق، سبل السلام ج ۳ موطاامام مالک.
[۲] بخاری.
[۳] بخاري کتاب النکاح.
[۴] نسايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام قاضي شهاب الدين احمد ابن حجرعسقلاني په فتح الباري کې تر دې عنوان لاندې چې د دين په زده کړه کې شرم او حيا په کارنده د (باب مالايستحى من الحق لتفقه فى الدين) تر عنوان لاندې مستقل باب رانقل کړيدى او په دې باب کې يې ډېر داسې روايتونه د نمونې په ډول رانقل کړيدى. کوم چې اوس ځنې خلک د حيا او شرم خبره ګڼي او صحابه وو روايت کړيدى.

د يوه حديث مفهوم دى چې له رسول الله(ص) څخه يې دهغه يوه مېرمن روايت کوي چې په التقا دختانينو (د نارينه او ښځې د عورت په يوځاى کېدلو او دحشفې په ډوبېدلو غسل و اجب کېږي دا بي بي وايي چې (فعلته انا و رسول الله(ص) فاغتسلنا) يعني ما او رسول الله(ص) همدا کار وکړ. او بيا مو غسل وکړ.

پدې حديث کې دې مبارکې بي بي يوه لويه فقهې مسئله روښانه کړې او که خداى مکړه د خپلې بسترې خبره يې پټه ساتلې واى او ستر ګې يې پرې پټې کړې يا يې ځان ته دا شرم بللى واى چې څرنګه زه د خپلې بسترې خبرې بهر ته وباسم او هغه هم بيا داسې چې د قيامت تر ورځې به زما او رسول ا الله(ص) د بستر کېسې د خلکو په خولو کې اوړي اوړا اوړي او هغه هم په خپله زما دخولې حکايت نو نن به دا مسئله هم د امت لپاره دومره روښانه نه وه.

ډېر مفسرين، محدثين او ددين ائمه په دې نظر دي چې د رسول الله(ص) لخوا ځانته د ښځو په ډېروالي (تعدد دازواجو) کې د هغوى ستر هدف او حکمت دا و چې د دين په رسولو کې ورسره مرسته وکړي .د رسول الله(ص) د سيرت هغه برخه خوبه چې نورو صحابه وو ليدله يا اورېدله او دهغوى هغه اعمال او کړنې چې هغوى پرې خبرېدل نو دا خوبه صحابه وو ﷺ روايت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وومګر هغه مسایل به څنګه شوي وو چې د دوی له نظرنه پناه وواودرسول الله(ص) له خپلې سکه بي بي پرته دبل چاپوهېدل یا خبرول پرې ممکن نه و او اکثره په کورنیو احکامو یاپه بله اصطلاح کورنۍ فقهې پورې اړه نیسي نورسول الله(ص) د همدې مسایلو دخورا ښه تشریح کولولپاره ډېر ودونه وکړل اوډېرې مېرمنې یې په دې اړه دځان ملګرې کړلې. په بخاري اومسلم کې له حضرت عایشي(رض) نه روایت دی چې رسول الله(ص) فرمایي:(( عشر من الفطرة...))

یعنې لس فطري سنت دي چې حضرت عایشه(رض) په کې دنارینه لپاره حلق العانه (دنامه لاندې دمخصوص غړی خریېل) هم یادوي.[1]

---

[1] بخاری مسلم اوفتح الباري ص ۲۲۰.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کوروالي اسلامي طريقه

## الف: د مطلب لنډيز

اسلام بشپړنظام ،شامل اوکامل دين دی.هېڅ يې پټ نه دي پرېښي.دژوند په هر اړخ تطبيقېږي اولازمه ده چې موږ هم د ژوند په هره برخه کې اسلامي قانون عملي کړو ،هرمسلمان بايدد ښووني په ډګر کې ښوونکې ،دزده کړې په ډګر کې زده کوونکی ،دکار اوخوارۍ په ډګرکې تر هر چا ډېرزيارکښ ،دجهاد سنګر کې باتورا ومجاهد ،دتواضع اوعاجزۍ په ډګرکې تر هر چا متواضع ،دسرشارۍ په ډګر کې (د دښمن په مقابل کې) تر هر چاسرشاره اودسياست په ډګرکې ترهرچالوی اوپوه سياستمدار وي.

فطرت د نورو ژويو په څېر انسان هم له جنسي غرايزو برخمن کړی دی اوانسان هغه په هره طريقه چې وي،پوره کوي،خوددې لپاره چې ددې حاجت په پوره کولو کې دانسان توپيرله نورو ژويو سره وشي. نو اسلام ددې لپاره هم ښکلي اوسپېڅلې لاره وټاکله ترڅوددې عمليې د اجرا په وخت کې په همدې لاره تلل وشي اوخورا ښه نتيجه ورکړي.

اسلام دا حکم په خورا ښه توګه تشريح کړی دی اوله مطالعې څخه يې جوتېږي ،چې دا احکام مطالعه کول يا زده کول څه د ننګ اوشرم خبره نه ده، د خجالت ځای خو دادی چې انسان له خپل دين اومذهب څخه بې خبره واوسي،اوخپلې غوښتنې په غير شرعي ډول پوره کوي په دې اړوند خوډېر څه کښل شوي هم دي اوډېرو مشورې هم ورکړې دي،چې په بازارونو کې مختلفې لکچرې (بيانونه) د رسالو اوکتابونو په شکل موندل اوپلورل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي مګر دا په اسلامي طريقه نه دي ليکل شوي په دوی کې د غير اسلامي تدابيرو اوحرامو شيانو د پکار اچولو مشورې ورکړل شوېدي.

که ددې غوښتنو په پوره کولو کې د اسلام تاکل شوي حدود مراعات نکړل شي نو انسان په مختلفو ناروغيو اخته کېږي د ښځينه ناروغيو اوپوستکي مشهور ډاکټر افتاب احمد شاه وايي: کله چې ماته ناروغان راشي نو زه له هغوی څخه مختلفې پوښتنې کوم نوداراته جوته شي چې په دوی کې له ځينو سره د حيض په حالت کې کوروالی شوی وي چې د هغوی تناسلي غړي ته يې پوره زيان رسولی وي او د هغه له امله يې ټول بدن ته د پوستکي ناروغي پيدا شوې وي او ځينو بيا له ښځو سره په غلطه لاره (د شاه لارې) خپل شهوت رفع کړی وي نو هر کله چې ما له دوی څخه وپوښتل چې تاسې نه پوهېږئ چې په اسلام کې په حيض، نفاس کې او شاله پلوه جماع حرامه ده؟نو هغوی به د ناپوهۍ څرګندونې کولې.[1]

همدا اوس چې دا يډزنوم بدې اووژونکې ناروغۍ په کروړونو وګړي له ژوندون څخه لاس په سر کړل دا ټول په اسلامي تعليماتو د نه عمل نتيجه ده.

نو په همدې خاطر د کوروالي (جماع) په هکله اسلامي تعليماتو ته يو لنډه شان کتنه کوو تر څو د دنيا او اخرت ګټه ترې واخلو.

## ب: د واده اوله شپه

حضرت اسماء(رض) روايت کوي چې ما د عايشې(رض) ناوې جوړه کړله (ښايست او ښکلا يې ماورته برابره کړله) بيا رسول الله(ص) ته راغللم او د

[1] اداب\ مباشرت، يعنې ميان بيوی کې درميان جنسي تعلقات کاصحيح طريقه ډاکټر افتاب احمد شاه هوميوپېتهـ ماهر امراض جلد و امراض نسوان انډيا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې د کتنې او له هغې سره د ملاقات له پاره مې راوغوښت هغوی(ص) یې خواته راغلل او یوجام شیدې یې راوړلې هغوی(ص) پخپله هم ورڅخه وڅښلې بیا یې عایشې(ص) ته وړاندې کړلې، عایشې(ص) د حیا له کبله مخ وګرځاوه ما (اسماء وایي) عایشه(رض) ورټله او ورته ومې ویل چې د رسول الله(ص) له لاس څخه یې واخله عایشې(رض) شیدې واخستلې اولږې یې ورڅخه وڅښلې بیا رسول الله(ص) ورته وفرمایل: چې ملګرې ته دې یې ورکړه.

په دې حدیث کې ځوانانو ته درس دی چې دواده په لومړۍ شپه د بې صبرۍ ،بې ځایه تصرف اوبد اخلاقۍ څخه ځان وژغوري. په لومړۍ شپه ځینې ناوې یو څه شرمېږي نو په کار دی چې له هغې سره نرمه وضعه ،ښه ،اخلاق ،له مینې او محبت څخه ډکې خبرې وشي ترڅو دهغې خجالت لېرې کړلی شي اوله یو داسې مقدماتي حکمت څخه کار واخستل شي چې ناوې هم څه جرئت پیدا کړي.

د واده لومړۍ شپه د ښځې اوخاوند ترمنځ د مینې اومحبت یا بغض، حسد ،کینې اونفرت د پیدا کېدلو سریزه ده ځکه چې دا د نوي ژوند پیلامه (د پیل لومړۍ شپه) ده نو پکار ده چې خاوند له ښځې سره ښې اړیکې ټینګې کړي ،ځان ورته په قهر اوغصه کې ونه نیسي لکه نن سبا چې زموږ د ټولنې د وګړوخوی اوعادت دی ،اوښځه هم باید پدې شپه دمېړه د زړه د راښکون اوتوجه د راجلبولو لپاره خپل ټول کوښښونه ترسره کړي ،خپله ټوله ښکلا ،زینت اوسینګاربرابر کړي. ,خاوند دې له ځان څخه نه ایسارووي ،نازنخرې د خاوندپه مینه اومحبت کې ډېرښت راولي خاوند نور هم حریصوي ،خودا نازونه اواداګانې بایدله اندازې څخه ډېرې نه شي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېره طبیعت پرېشان کړي باید په یاد مو وي چې د واده داعلان په خاطردهل اودارېا وهل روا دي.[۱]

همدا راز د ناوې په واسطه د مېره اودمېره په واسطه دناوې په ګوتوکې دګوتې ورکول،دنصاراووپېښې دي ،هغوی هم په ودونوکې داسې کول ،دا د هغوی مذهبي دستور دی اونصاراوو په دستورعمل شرعاً ښه نه اومخالفت یې لازم دی.[۲]

اوکله چې ناوې کور ته راوستل شي نو دناوې لاس اویا دتندي وېښته به نیسي او دا دعا به ووایي: (اللهم اني اسئلک من خیرها و خیرما جبلتها علیها واعوذبک من شرهاوشرماجبلتها علیه).[۳]

یعنې :ای خدایه زه له تاخخه ددې اوددې خویونودخیرسوال کوم اوپناه درورم تاته له شرددې څخه اوشردناوړه خویونوددې څخه.

اوکله چې ښځې سره کوروالی کول غواړي ،نوځان دې نه لوڅوي اونه دې په ناڅاپه ډول په ښځه حمله کوي ،ځکه ښځه لا له دې کار سره اموخته نه وي.

## ج: له خپلې مېرمن سره د کوروالي حکم

فقها په دې هکله بېل بېل نظریات لري ،یوشمېرعلماء وایي چې له خپلې ښځې سره یوځل جماع (کوروالی) واجب ده .

[۱] بخاري،مسنداحمد ،اوسنن الکبری للامام البیهقی.
[۲] اداب الزفاف في السنة المطهرة شیخ محمدناصرالدین الباني.
[۳] بخاري ،ابوداوداوابن ماجه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوځينې نور بيا وايي چې :کوروالی هم د نفقې اوجامې په څېرپرخاوند دخپل توان اوقدرت په اندازه واجب دی. ځکه چې دا دنکاح اصلي مقصد ته د رسېدلو يوا ځينۍ ذريعه ده.[۱]

امام ابن تيميه(رح) وايي پر مېړه دښځې له نفقې څخه هم لوی حق دا دی چې په خورا ښه توګه ورسره يوځای شي.[۲]

په الفقه الاسلامي واد لته کې ليکي چې که چېرې سړی کوم صحي يافني عذر ونه لري لکه ناروغي يا مسا فري نوله خپلې مېرمنې سره کوروالی پرې واجب دي.

بايـد وويـل شـي چـې لــه احنـافو څخــه پرتــه نــور مذهبونــه دفرضواوواجبوترمنځ توپير نه کوي اوفرضوته هم واجب وايي اوداچې په کومه اندازه واجب ده نوليکي له خپلې مېرمن سره کم ترکمه په دومره اندازه کوروالی واجب دی چې له حراموڅخه پرې وژغورل شي . امام طحاوي وايي چې په هروڅلوروشپوکې يوځل کوروالی دښځې رسمي حق اوپر مېړه لا زم دی اوله دې څخه پرته بيا دا ديانتاً پر مېړه دښځې شرعي حق دی چې په کوروالي يې سېرابه او مړه کړي او په حراموکې له لوېدلوڅخه يې وژغوري

.

امام جعفرصادق وايي چې څوک له يوې څخه ډېرې ښځې ولري اوپه کوروالي يې مړ ولای ونه شي اوهغوی حرام کارته لاس ورواچوي نو ګناه يې دهمدې (بې وسه) مېړه پر غاړه ده .

---

[۱] تحفة العروس نقل له روضة المحبين څخه.

[۲] فتاوی ابن تيميه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدعلي صفري هم وايي چې: هره ښځه په څلورو شپو کې يوځل دکوروالی حق لري.[۱]

ځينی نور علماء بيا وايي چې کوروالی دښځې اومېړه حال ته په کتلواو د دواړو دجنسي توان په نظرکې نيولوسره واجب ده .دکتور وهبه زحيلي همدا اندمعقول اوغوره بللی دی .

ځينې خلک داسې انګيري چې ګويا اسلام د شهوت اوميني مخالف دی ددوی دا دعوه نه يوازې دا چې په اسلام پسې يوه افترا ده ،بلکې معقوله هم نده او اسلام يې په کلکه ردوي.شهوت په انسان کې يوه الهي وديعه ده چې اسلام يې په رفع کولو اوپوره کولو سخت تاکيد کوي د شهوت موضوع ته اسلام په ډېره جدي سترګه ګوري حتی د هغومقدماتو ،دواعيو او تحريکوونکيو عواملوپه ترسره کولو هم تاکېد کوي چې شهوت راپاروي ،زينت ،نظافت، ښکلا او ارايش د شهوت د راپارولوعوامل دي اودا ټول په اسلام کې جدي مطلوب دي حضرت عليﷺ فرمايي: زه هغه ښځه نه خوښوم چې دمېړه لپاره رانجه اونکريزي ونه کړي.په قران کريم کې هم کله چې الله(ج) د شهوت درفع کولوموضوع بيانوي نو خطاب د آمرپه صېغه کوي لکه: (نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ) البقرة۲۲۳.

يعنې: ښځې ستاسې ځای د کرلو ستاسې دی نو راځئ کروندو خپلو ته په هرډول چې خوښ مو وي.

(فَالآنَ بَاشِرُوهُنَّ) البقرة ۱۸۷.

يعنې پس اوس کوروالی کوئ له دوی سره.

---

[۱] زن وشوهر دوهم ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



(فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ) البقرة ۲۲۲.

یعنې: نو هرکله چې پاکې شي دوی نو راځئ دوی ته ( کوروالی ورسره وکړئ) له هغه پلوه چې خدای تاسې ته امر کړیدی.

## د: کوروالی محل

الله(ج) انسان ته رواکړیدي چې :له خپلې مېرمن سر په جایزه اوسپېڅلې طریقه خپله شهواني غریزه اشباع اوپوره کړي.نارینه کولی شي چې له خپل میل اوخوښې سره سم له خپلې ښځې څخه استفاده وکړي.اوهرخوند اومزه ورڅخه واخلي،خو چې دنکاح کولو اصلي غرض پکې له پامه ونه غورځول شي ،چې هغه د نسل پایښت اوډېربښت دی ،اودامقصد ترلاسه کېدل هغه وخت ممکن کېدلای شي چې دجماع محل فرج وي ،نو اسلامي شریعت له ښځې سره جماع کول په فرج کې حتمي وګرځول ،نارینه کولای شي چې دا معامله په خپل محل (فرج) کې له هرپلوه (په ملاسته ،ناسته ،اړخ ،له مخې ،له وروسته ،له پاسه ،له لاندې ،حتی په ولاړه هم اجراکړي ،مفسرین ددې ایت :(نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ)البقرة ۲۲۳.

یعنې :ستاسو ښځې ستاسود کروندې ځای دی ،نوراځئ خپل پټي ته څنګه مو چې خوښه شي.

وایي چې :قریشوبه په مکه کې له ښځوڅخه په هر رنګ خوند اخست اوکله چې د مکې خلک مدینې ته مهاجر شول نو له دې کبله چې په مدینه کې یهودیان ډېر وو اویهودیانودا کار یواځې په اړخ باندې کاوه اودمدینې عام اوسېدونکي یې هم تر اغېز لاندې راغلي وونو یومهاجرله یوې انصاریې انجلۍ سره واده وکړ اوله هغې انجلۍ سره یې له خپل دستور سر

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم له هره پلوه کوروالی کول غوښتل، دې انجلۍ دا کار بد وګاڼه و يې ويل چې :موږ يې يوازې په اړخ باندې کووته يې هم کوه اويا له ما څخه لېرې اوسه. د دوی خبره غټه شوله تر دې چې دا پورتنی ایت نازل شو.رسول الله(ص) د[انی شئتم]په تفسیرکې وفرمایل: د مخې لخوا ،دشاه له خوا ،په اړخ باندې،خوچې په فرج کې وي.[1]

همدا راز روایت دی چې یوځل حضرت عمرﷺ له خپلې مېرمن سره دشاله له پلوه په فرج کې کوروالې وکړاو وروسته ورته دشرعي ممانعت احساس وشو نو رسول(ص) ته راغی اوداحال يې ورته بیان کړ هغه (ص) هېڅ ځواب ورنکړتر دې چې دا پورتنی ایت نازل شواوکوروالی له هره پلوه روا شو،خو د کروندې په پام کې نیول ضرور وګڼل شول.

## هـ: د کوروالی ځو ادبونه

کله چې ښځه اوخاوند یوله بل سره مباشرت کول غواړي نومستحب دي چې:

١ . لمړی دوه رکعته لمونځ وکړي.

٢ . له نهایت سکون او اطمنان څخه به کاراخلي ،بې صبري به نه کوي.

٣ . دشهواتوجذبه به په ځان نه پیاوړې کوي.

[1] ابوداود ،مسنداحمداوالمستدرک للحاکم

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. درې ځله به سورت اخلاص اومعوذتين وايي بيا به لکه څنګه چې ابن عباس رضي الله عنه روايت کوي دا دعا ووايي: [بسم الله اللهم جنبنا الشيطان وجنب الشيطان ما رزقتنا].[1]

يعني: په نامه دخدای ای خدايه په امن مو وساته له شيطان څخه او په امن کې وساته له شيطان څخه هغه څه چې ته يې موږ ته روزي راکوې.

او د انزال په وخت کې به په زړه کې دا دعا وايي: [اللهم لاتجعل للشيطن فيما رزقتنى نصيبا]

يعني: ای خدايه مه ګرځوې شيطان لره په هغه څه کې چې ته يې ماته روزي راکوې څه برخه.

علماء وايي که دا دعاګانې ونه لوستل شي نو اولاد مفسد اوتباه کوونکی راځي.[2]

۵. کله چې دخول وشي هلته لږ څه ځنډ پکار دی ترهغې چې دښځې انزال هم وشي د دواړو يوځای انزال په خوند کې ډېربښت راولي اوکه دا کار يې (انزال يې ژر)وکړنو په ښځه به يې سخته تمامه شي.[3]

۶. کله چې څوک مباشرت کول غواړي نو خپله مېرمن دې دمخه خبره کړي چې هغه خپل زينت او ارايش برابر کړي.

۷. که د مباشرت په وخت کې د حاجت سخته اړتيا نه وي نو حاجت ته تلل ښه نه دي ځکه چې دا دذکر انتشار له منځه وړي.

---

[1] بخاري.
[2] رفاه المسلمين حضرت مولانا شاه اسحاق دهلوي.
[3] احياء العلوم امام غزالي.

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. که ښځه له پیل څخه د مخه خپل فرج په ښخو اوبولوند کړي نو شهوت به یې ژر راوپارېږي او په فرج کې یوڅه تنګوالی هم راځي چې په لذت کې ډېرښت راولي.

۹. که د نارینه انزال ژر کېده نو دی دې هم خپل ذکرپه یخواوبولوند کړي چې انزال وځنډېږي.

۱۰. د تبې اوناروغتیا په وخت کې کوروالی روغتیا ته لوی تاوان رسوي.

۱۱. له کوروالی څخه وروسته ښه خوراک ډېر ګټور دی.

۱۲. په کوم ځای کې چې دچا دراتللو یا بله وېره وي نو مباشرت ښه ندی ځکه دلته خوند نه حاصلېږي.

۱۳. د مباشرت په وخت کې خوشبویي لګول د رسول الله(ص) سنت ده.

۱۴. لـــه هررنګـــه بـــد بـــویۍ څخـــه بـــه ځـــان ساتي،تمباکو ،سګرټ،نسواراونورې هرراز نشې شهوت له منځه وړي اورغبت په نفرت بدلوي.

۱۵. د مباشرت په وخت کې به مخ قبلې ته نه کوي.

۱۶. ډاکټران وايي چې له کوروالي څخه سمدستي وروسته اوبه څښل ښه ندي ځکه دا دتنفس ناروغتیاوې پیداکوي.

۱۷. په ډېره مړه خېټه هم دا کار ښه ندی.

۱۸. په ولاړه باندې کوروالی بدن کمزوری اوناتوانه کوي.

۱۹. له فارغېدلوڅخه وروسته به دواړه بېل بېل ځانونه وچ کړي.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت مولنا شاه اسحق دهلوي(رح) وايي چې: په يوه کپړه د دواړو ځان وچول د بېلتون لامل ګرځي.[۱]

۲۰. له کوروالی څخه وروسته به دواړه تش حاجت پوره کړي ځکه چې ډېر وخت دمنيوڅاڅکي په تناسلي غړي کې پاتې کېږي اودهغوی بهر وېستل پدې طريقه پکار دي د طب کتابونه ليکي چې دامنې بياسوزيدل اوتېپ پيداکوي.

حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: که چا له مباشرت څخه وروسته تش حاجت پوره نکړنو په سخت رنځ به اخته شي.

۲۱. له مباشرت څخه وروسته د فرج وينځل ضرور دي فقيه ابوليث سمرقندي(رح) وايي چې: له مباشرت څخه وروسته به دواړه په معتدلو اوبوخپل غړي ووينځي اوپه يخواوبوو وينځل دبخار خطره پيدا کوي اوکه په يخو اوبويې وينځل غواړي نولږدې انتظار وکړي چې بدن خپل عادي حالت ته راشي او دا وينځل بدن تندرست کوي.

لکه وړاندې مو چې وويل دا ټول مستحبات اوطبي مشورې دي شرعي واجبات نه دي اوپرېښودل يې هم روا دي.

---

[۱] رفاه المسلمين حضرت مولاناشاه اسحاق دهلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## و: هم خرما هم ثواب

اسلام د موجوده مسیحیت په څېر منحرف دین ندی چې جنت د مال په بدل کې د پاپانو په واسطه وپلورل شي، شتمن جنت واخلي او نېستمن او بېوزله دې محروم او بې برخې ګرځي. په اسلام کې جنت بې پیسو لاس ته راځي، دژوند په هره برخه کې د اسلامي تعلیماتو عملي کول د جنت دلاس ته راوړلو وسیله ده، حتی چې دخپلو شهواتو په رفع کولو کې (چې فطري غوښتنه ده او انسان یې پوره کولو ته بې حده لېواله دی) هم ورته اجر دی لکه رسول الله(ص) چې فرمایي: ستا په کوروالي کې هم تاته اجراوثواب دی ،یو سړي وپوښتل یا رسول الله(ص) یو سړی به له موږ څخه خپل شهوت پوره کوي او ورته به اجرهم لیکل کیږي؟هغه ځواب ورکړچې (ایا که په حراموکې یې استعمال کړي نو په هغه څه وبال نشته ؟هغه ځواب ورکړ،هو شته دی،هغه (ص) ورته و فرمایل(همداسې که په حلالولاروکې استعمال شي نوده ته په کې اجر دی.[1]

همدا راز ر سول الله(ص) فرمایي: چا چې د جمعې په ورځ غسل وکړ اوبل یې غسل ته اړکړ(د جمعې په ورځ یې له ښځې سره کوروالی وکړ)او دلمانځه لومړي وخت کې مسجد ته ولاړاوخطبه یې واورېدله ،مسجد ته پلی لاړ شي ،امام ته نژدې شي ،خطبه واوري،لغوه بېهوده اوبې فایدې خبرې ونکړي اوله ناوړه کارو څخه ځان وساتي نوپه هرقدم ورته د یوکال د لمانځه اوروژې د عمل ثواب دی.

همدا راز فرمایي:هر څه چې د الله(ج) ذکر نه وي لهولعب اوبې ګټې دی مګر . . . او له ښځوسره لوبې.

---

[1] مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوداسې نور ډېر روایتونه شته دي چې ښيي له ښځې سره کوروالی اومستي ډېراجراوثواب لري.

فقهاء وايي چې : له ښځوسره لوبې اوله دوی سره مشغولېدل له نفل لمانځه څخه ډېرثواب لري.

## د: جماع څو ناوړه ډولونه

۱. په حيض اونفاس کې له کوروالي څخه ممانعت

حيض اونفاس مو مخکې صفحوکې وپېژندل پدې دواړو ناروغيوکې له ښځوسره کوروالی حرام دی،اوکه څوک يې حلال ګڼي کافر دی اوله کوروالي څخه پرته هر څه کول ورسره روا دي الله(ج) د حيض په ورځوکې له ښځوڅخه په لېريوالي امر کړی دی فرمايي: (فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيضِ) البقرة ۲۲۲.

يعنې:په څنګ شئ له ښځوڅخه په حال دحيض کې.

رسول الله(ص) فرمايي: (من اتی حائضاًاوامراة فی دبرهااو کاهنافتصدقه بمايقول فقد کفربمانزل علی محمد).

يعنې: چاچې له حايضې ښځې اويا ښځې سره د شاه له لارې کوروالی وکړ اويا کاهن ته ورغی اودهغه وينا يې رښتيا وګڼله نو کافرشوپه هغه څه چې نازل شوي پر محمد(ص) .

او په دې کې هېڅ شک نشته چې که دا کار يې روا وګاڼه نو کافر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



.اوسني طب د الله(ج) ددې وینا په هکله: (وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءِ فِي الْمَحِيضِ) البقره۲۲۲

۱. یعنې: اوپوښتنه کوي لتا څخه له حاله د حیض، ووایه چې (حیض)ضرر دی پس په څنګ شئ له ښځوڅخه په حال د حیض کې.

ډېرانکشافات کړیدي اودا ضرر يې جوت اوروښانه کړیدی وايي چې: دحیض په وخت کې په خارجېدونکې وینه کې يوډول زهرناکه ماده ده چې که هغه جسم ته ننوتله نو د انسان روغتیا ته ډېرزیان رسوي،د ښځوپه دماغواغېزه کوي اوانسان ته دپوستکي ناروغي (خارښ، اتشک، ایډز او . . .) پیدا کوي ،اولاد د جذام په رنځ اخته کېږي ،دښځوتناسلي غړي ډېرسخت درد کوي اوشاید پړسوب اوشنډوالی پیدا کړي.

په حیض کې له ښځې سره دکوروالي د دنیوي سزا په هکله امام ابوحنیفه ،امام احمداوامام شافعي(رح) وايي چې :په ده کفاره نشته ده، او د امام مالک(رح) په نزد یودینارکفاره به ورکوي اوکه یودینار نه وي نو نیم دینار به ورکوي ځکه چې رسول الله(ص) فرمايي: چا چې په حیض کې له ښځې سره کوروالی وکړنو نیم دیناربه صدقه ورکوي.[1]

## ۲. له ښځو سره په غیر فطري ډول (په دبرکې) عملیه

د ټولوفقهاوو په اتفاق سره د ښځې په دبرکې د تناسلي غړي ننوېستل حرام دي. بلکې کلک حرام.

[1] ابوداود ،ترمذي،نسايي،ابن ماجه،دارمي اومشکوة.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله(ج) لدې کارڅخه صراحتاً منع کړېده اوهېڅ له حرام څخه پرته حتی مکروه هم ورته ندي ويلي.الله(ج) فرمايي: (نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ) البقرة ۲۲۳.

يعني: ستاسو ښځې ستاسو دکروندې ځای دی.

له ښځوسره د نکاح غرض اوهدف دنسل پاينښت دی اوپه دې ډول دنسل بقا ممکنه نده رسول الله(ص) فرمايي: من اتی حائضا او امراة فی دبرها فقد كفربما انزل علی محمد.[1]

يعني: : چاچې له حايضې ښځې اويا ښځې سره د شاه له لارې کوروالی وکړ اويا کاهن ته ورغی اودهغه وينا يې رښتيا وګڼله نو په هغه څه چې پر محمد نازل شوي کافرشو (ص).

همدا راز فرمايي:ان ا لله لا يستحی من الحق فلا تاتواالنساء فی ادبارهن.[2]

يعني: الله(ج) دحق له بيانولو څخه حيا نه کوي ښځوته دشاه له لورې مه راځئ.

له حضرت خزيمه بن ثابت ﷺ څخه يواوږد حديث روايت شويدی چې په وروسته برخه کې يې وايي: له ښځوسره دشاه له پلوه کوروالی مکوئ.

همدا راز فرمايي:لاينظرالله الی رجل يأ تی امراته فی دبرها.[3]

[1] ابوداود ،نسايي ،ترمذی، بيهقی اومشکوة.
[2] نسايي.
[3] ترمذی اونسايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې: نه ګوري خدای(ج)ـ د رحمت په سترګه ـ هغه سړي ته چې راتګ کوي خپلې ښځې ته دشاه له لوري.

(( ملعون من يأتی امراة فی دبرها)).[1]

یعنې: لعنت شوی پر هغه چا ،چې له ښځوسره دشاه له لارې کوروالی کوي .

همدا رازفرمايي: ((ملعون من يأتی النساء فی محاشهن)).[2]

یعنې: لعنت شوی پر هغه چا چې له ښځوسره دشاه له لارې کوروالی کوي.

امام غزالي(رح) وايي چې : ښځوته دشاه له لارې راتګ سخت حرام دی. دا ځکه چې پدې کې دښځولپاره همېشه تکليف دی.[3]

په دبرکې له ښځې سره پر وطې کوونکي د زنا حدنه تطبيقېږي ځکه دلته شبهه ده او حد په شبهې سره ساقطېږي.[4]

مګرپه اوسني يهودي منحرف شريعت کې يې له ښځوسره دشاه له لارې کوروالی روا کړيدی ځکه چې دهغوی په نزدښځه له قصاب څخه پېرل شوې غوښه ده اوله خپل رغبت اوغوښتنې سره سم يې هر ډول استعمالولی شئ.

## ۳. د امیندواری اوتي ورکولو پرمهال د کوروالي حکم

---

[1] ابوداود ،نسائی.اومسنداحمد

[2] ابوداوداومسنداحمد.

[3] احیاءالعلوم امام غزالی.

[4] الجنايات في الشريعة الاسلاميه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دواړه وختونو کې کوروالی د اسلام له نظره بې له کوم اکراهه روا دی مګر د ډاکټرانو په نظر د کوروالي نه کول غوره دي ځکه چې د حمل اوتې ورکولو په وخت کې ښځې ته تکلیف دی ځکه چې له کوروالي څخه نوی حمل پیدا کېږي او له حمل څخه وروسته د ښځې شیدې خرابېږي او د دې شیدو په څښلو د کوچني روغتیا زیانمنه کېږي. رسول الله(ج) به هغه کار چې دامت ګټه به یې پکې وه ډېر خوښاوه، فرمايي: خپل اولاد په پټه مه وژنئ لکه چې د تې رودونکي کوچني په شتوالي کې د هغه له مورسره جماع وکړئ او هغه ته زیان وکړي.

مګر دا کار یې حرام نه کړ ځکه چې دا خاوند ته هم زیان دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴. له ډېر کوروالي څخه طبي ممانعت

فقيه ابوليث له حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت کوي چې فرمايي: څوک چې غواړي ښه تندرست واوسي نو ډېر کوروالی دې نه کوي.

اسلام اعتدال (منځومانه) لاره په هره معامله کې خوښوي اوپکار دي چې کوروالی هم په اندازه وشي. حکيمان وايي: هغه غوښتنه چې څه عارضي سبب ونلري (لکه د ښکلو ښځو ليدل ، فحش ، خبرې، دلو خوښځو ليدل او . . .) بلکې په رښتيا سره د کوروالی غوښتنه او اشتهاوي او دوهم پلو هم خوښ وي نو دا کوروالی د سکون ، نشاط اوخوښۍ سبب دی.

دکوروالي اندازه هر چاته تربل توپير لري د غښتلي اوکمزوري جسم خاوندان پدې هکله مساوي ندي. حضرت مولنا شاه اسحاق دهلوي (رح) وايي چې: دعادي خلکو (چې دجسم روغتيايي حالت يې په اوسطه توګه برابروي) لپاره په څلورو ورځو کې يو ځل کوروالي مناسب دی اوکه ښځه خوښه وي ډېرښت هم پروانلري اود کمزورولپاره په يوه اونۍ يا دوه اونيو کې حتی په درې اونيو کې يو ځل کوروالي مناسب دی اوپه کار ده چې له شپېته کلنۍ څخه وروسته داکار کم کړلی شي.

ډېر کوروالی بدن ته زيان رسوي. دماغ کمزوري کوي، د انسان ورځنۍ چارې ځنډوي. اوځوانانو اوهغه چاته چې صحت يې ښه وي له خپلې مناسبې اندازې څخه کم کوروالی هم روغتيا ته زيان رسوي ، شهوت ويده کوي اوتېتوي يې کورنی نظام يې خرابوي ځکه چې ښځه هم ميل لري

داهر څه طبي مشورې دي شرعاً ددې څه ممانعت نشته دی چې کم يې کوئ که ډېر او هر وخت کې يې کولای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو ضروري یادونې

## له ښځو سره لوبې او مستي

له ښځو سره لووبې اومستي نارینه اوښځو دواړو ته ډېرې ګټې لري.رسول الله(ص) به تل له خپلو بی‌بیانوسره لوبې کولې دهغوی نازاونخری به یې منلې اوویل به یې:هر څه چې دالله(ج) ذکر نه وي لهوه اولعب اوبېهوده دي مګر . . اوله ښځوسره لوبې او مستي.

حضرت عایشه(رض) فرمایي چې: (یوې ډلې ښځوژمنه وکړله چې دخپلومېړونو رازونه اوحالات به یوه له بلې څخه نه پټوي ،په دوی کې چې ډېروله څه شي شکایت کاوه هغه داوه.دنفقې کموالی

،دمېړه ناوړه اخلاق،دکوروالي کموالی ،اودا چې مېړه یې ورسره لوبې اومستي نه کوي)(۱)

(۱)تحفة العروس محمود مهدي اسانبولي

له ښځو سره لوبې اومستي له نفل لمانځه څخه ډېراجرلري.رسول الله(ص) به حتی دحیض په ورځوکې له ښځوسره لوبې کولې،کله به یې چې له خپلې کومې حائضې بي بي سر لوبې کول غوښتل نو دهغې په تناسلي عضوه به یې ټوټه واچوله بیا به یې چې څه غوښتل هغه به یې کول.[1]

[1] ابوداود اوبیهقي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عايشه(رض) فرمايي: زه حائضه وم او ما به له لوښي څخه وڅکل بيا به همدا لوښی رسول الله(ص) واخست او خپله مبارکه خوله به يې پر هغه ځای کېښودله چې ما به ايښې وه او څکل به يې.[١]

(دا وه له حائضې ښځې سره د رسول الله(ص) تګلاره) رسول الله(ص) فرمايي: هېڅوک دې د کوروالي په وخت کې پر ښځه لکه څاروی حمله نه کوي ،بلکې لدې وړاندې دې يې په غېږ کې نيولو او ښکلولو ،او دا سې نورو عمليو سره کوروالي ته اماده کړي

.د ښځو د سينو (تيونو) رودل روا دي خو بايد کوشش وشي چې شيدې تېرې نشي او که تېرې هم شي شرعي ستونزه نه لري ځکه چې حرمت په کوچنيوالي کې وي او که بالغ د چا شيدې وروي نو هغه پرې حرامه نده لکه چې زموږ تولنه هم په همدې غلطه انګېرنه کې ده ،د ښځو د سينو رودل ،منبل يې،د ښځې ښکلول ،ښځې ته د ډېر اوناريته ته هم خوند ورکوي او دا د مينې او محبت يو لوی مظهر (ښکارندوی) هم دی ځکه چې د چا څوک خوښ شي نو هغې ته غاړې وځي او غېږ په غېږ شي او دا نهايت نژدې والی دی او کله چې مينه تر دې هم زياته شي نو ښکلول رامنځ ته شي بيا د روح نژديوالی راشي او خوله ښکلوي ژبه او شونډې روي او کله چې نفس لدې څخه نور هم ډېر نزديکت غوښتنه وکړي نو بيا کوروالی رامنځته شي.

[١] مسلم ابن ماجه او مشکوة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. د کوروالی لپاره ښه او مناسب وخت

فقیه ابولیث وایي: دکوروالي له ټولوڅخه غوره وخت د شپې وروستۍ برخه ده ځکه چې د شپې په لومړۍ برخه کې خېټه له خوړوڅخه ډکه وي او د شپې په وروستۍ برخه کې خواړه هضمېږي ،خوب پوره وي ،کراره کراري وي ،اشتها ښه برابره وي نو چې جماع وکړي بیا اودس یا غسل وکړي او ویده شي نو خپله لګول شوې انرژي (قوه) بېرته پوره کوي.له حضرت عایشې(رض) څخه روایت دی چې : رسول الله(ص) به د شپې په اخره برخه کې وترکول او که له ښځوڅخه به یې خپل حاجت پوره کاوه نوپه همدې وخت کې به یې کاوه.

د امام غزالي په نزد دشپې په لومړۍ برخه کې کوروالی مکروه دی پدې ګومان چې ټوله شپه به د ناپاکۍ په حالت کې سبا کوي.ډاکټران وايي چې: که څوک کوروالی کول غواړي اودشپې وروستۍ برخې پورې انتظار نشي کولې نو ګېډه دې نه مړوي.امام غزالي وايي چې دا درې شپې کوروالی مکروه دی د میاشتې لومړۍ ،پنځلسمه،او وروستۍ شپه.[1]

حضرت مولنا شاه اسحاق هم دادرې شپې او داخترونو شپې اودچهار شنبې شپه اوپه هغه شپه چې سبایې سفر کوي کوروالی منع کړی دی.[2]

[1] احیاء العلوم امام غزالي.
[2] رفاه المسلمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳. د کوروالي په وخت کې د جامو وېستل

که مېړه او مېرمن يې جامې وېستل غواړي نو بايد چې په تدريج سره يې وباسي يو ځل او ناڅاپه د چا په مخ کې لوڅ او بربنډ ودرېدل ښايي يو دبل تر تاثير لاندې راشي او که جامې وباسي نو بايد دواړه جامې وباسې ځکه دا ښه نده چې ښځه ټوله لوڅه واوسي او خاوند پټ لکه چې يو عصبي ډاکټر(ماري ستوب)هم دا خبره کړېده.[1]

که څه هم د ځينو رواياتو نسبت رسول الله(ص) ته شويدی چې د ښځو عورت ته کتل يې منع کړيلي دي لکه (اذا اتی احد من اهله فليستتر. . .).[2]

يعني : کله چې راتګ کوي يو ستاسې خپلې ښځې ته نو ځان دې په پرده کې کړي .

دې روايت ته نسائي او بيهقي منکرويلی دی ،همداراز ديوبل روايت نسبت رسول الله(ص) ته شويدی چې:کله چې يو ستاسو له خپلې مېرمن سره کوروالی کوي نو د هغې فرج ته دې نه ګوري ځکه دا ړوندوالی پيدا کوي)

دا روايت ابن قيم جوزي په خپل کتاب موضوعات کې را اخستی دي چې موضوعي يې بللی دی او ددې مقابل کې داسې پياوړي روايتونه شته چې په ډاګه کوي چې د خپلې ښځې عورت او ټول بدن ته کتل روا دي.مثلاً.له عايشې(رض) څخه روايت دی چې :ما اورسول الله(ص) به له يوه

---

[1] تحفة العروس.

[2] ابن ماجه او بيهقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوښي څخه غسل کاوه هغه به بیړه کوله تردې چې ما به ورته ویل (ماته پرېږده ماته پرېږده) او دا دواړه به جُنُب وو.[1]

او د غسل په وخت او دکوروالي دوخت ترمنځ په کتلو کې هېڅ توپیر نشته دی.

بل دا چې کله الله(ج) له خپلو ښځوسره کوروالی روا کړیدی نو دا عقل نه مني چې کتل دې یې ورته روا کړې نه وي. البته د ادب تقاضا داده چې له ډېروکتلو څخه ځان ساتنه وشي.

## ۴. د انزال سرعت

هغه چې نارینه دکوروالي اراده وکړي او دصحبت له پیل څخه یوه یا دوه دقیقې وروسته یې انزال وشي . دا حالت ښځې ته زیان رسوي،اولاد نه پیدا کېږي،هر نارینه اوښځه په شهوت کې برابر ندي د ځینوشهوت پیاوړی اودځینوکمزوری وي،دعلاقې اوبه ، هوا اقلیم دغذا استعمال پدی کې لویه ونډه لري دځینو تودو سیمو ـ لکه عربستان ـ د اوسېدونکو شهوت ډېر زیات وي او په یخوعلاقو کې نسبتاً کم وي مګر دښځې شهوت په عمومي ډول له نارینه څخه کم وي او ځومره چې دنارینه شهواني ځواک او طاقت ډېر وي دواړوخواوو ته خوشحالي حاصله وي اوکه دا ځواک په نارینه کې کم او په ښځه کې ډېروي نو پدې وخت کې ښځه ډېروخت نا ارامه وي. ډېروخت چې دښځې انزال ونشي نو خفه معلومېږي ، عصبي

---

[1] متفق علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغي ورته پيدا کېږي ، له کوروالي څخه بې رغبتي او له خاوند څخه نفرت ښکاروي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. د دوه ځلې کوروالی ترمنځ طهارت او پاکوالی

که څوک محتلم وي یا یو ځل یې کوروالی کړی وي او بیا دا کارکول غواړي نو غسل ورته مستحب دی او که غسل نه کوي نو اودس دې ضرور وکړي ، رسول الله(ص) بـه صـحابه وتـه درس ورکـاوه چـې کـه یو ځـل مـو کـوروالی وکړاو بیا مو داکار کاوه نو ترمنځ یې اودس کوئ.[۱]

امام غزالی(رح) فرمایي: که څوک دوهم ځل کوروالی کـول غـواړي نـو تـش حاجــت دې پــوره کــړي او خپــل مخصــوص غــړی دې ووینځــي او ددې دواړو کارونو له کولو څخه د مخه دې کوروالی نه کوي.[۲]

ابي رافع رضي الله عنه وایي: چې نبي(ص) یوه ورځ پـه خپلو ټولو بیبیانو وګرځېد او لـه هرې یوې څخه به یې غسل کاوه ما ورته وویل چې ټول غسلونه ولې یو ځای نه کوې؟ هغه (ص) وفرمایل چې دا پاکه ښه او غوره طریقه ده[۳]

عایشه(رض) فرمایي کله چې به رسول الله(ص) غوښتل چې خوراک وکـړي اویا ویده شي اوهغه به جنب و نو خپـل عـورت بـه یـې ووینځـه اود لمانځـه داودس په څېر اودس به یې کاوه.[۴]

او اوبه چې څومره نشاط پیدا کوي او صحت او روغتیا تـه ګټـه رسوي او س طب روښانه کړېده.

---

[۱] مسلم او ابوداود.
[۲] احیاء العلوم
[۳] ابوداود اونسائي
[۴] متفق علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوولسم څپرکی

# زنا

## پېژندنه او غندنه

### الف: ثبوت او پېژندنه

فقهاوو د زنا بېل بېل تعریفونه کړیدي مګرجامع اوغوره تعریف یې دابن رشد اود محمد علي صابوني عبدالله بن محمودبن مودود اومحمد امین مشهورپه ابن عابدین ګډ تعریف دی.

د ابن رشد تعریف : هره وطې چې د سیي نکاح یادنکاح دشبهې په اثریا چې له خپلې وینځې سره نه وي زنا ده.[1]

د محمدعلي صابوني اونوروګډ تعریف : له ښځې سره په فرج کې وطې ده چې له هغې سره دنکاح څه شبهه ونلري.[2]

[1] بدایة المجتهد.

[2] الاختیار ،حاشیه ابن عابدین،الفقه الاسلامی وادلته اوروائع البیان

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام قرطبي تعریف : د ذکر داخلول دي په فرج کې چې طبعاً ورته اشتها راځي او شرعاً حرام وي.[۱]

نو ددې تعریف پر اساس وطې په دبر کې او یا له نورو حیواناتو سره په زنا کې نه حسابېږي ځکه چې د سلیم طبیعت اشتها ورته نه راځي.

دحنا بله وتعریف : حنابله وايي چې زنا په قبل یا دبر کې بد کاري ده.[۲]

## ب: قباحت او بدوالی

اسلام که د سترپه هکله کوم احکام نازل کړي دي او که پردی ښځې یا نارینه ووته یې له لاس اوږدولو څخه منع کړې ده او که بې ځایه ګرځېدل یې ناخوښ ګڼلي دي دا ټول په خپل ذات کې عمده مقصود نه ،بلکې امنیتي تدابیر او مخنیوی دی چې اصلي ناروغتیا زناده ددې لپاره چې څوک پدې لویه اوبې شرمه ګناه کې چې هېڅوک یې له ضرر څخه خلاصیدلی نشي ، ونه لوېږي نو ټولې هغه لارې یې بندې کړې چې دې خواته دلالت او اشاره کوي الله(ج) فرمايي : (وَلاَ تَقْرَبُوا الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً) الاسرا : ۳۲

یعنې: زنا ته مه نژدې کېږئ یقینا چې دا بې حیایي او بده لاره ده.

دلته الله(ج) فرمايي چې زنا خوښخي مکوئ حتی دزنا په خوا اشاره کونکي وسایلو ته هم مه نژدې کېږئ. کېدای شي چې تاسې په دې ډېر بد جرم کښې ولوېږئ .

---

[۱] احکام القران محمد بن احمد قرطبی.

[۲] الجنا یات فی الشریعة الاسلامیه دکتورمحمدرشدی محمد اسماعیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنادکبیره لویوګناهونوله جملې څخه ده له شرک اوقتل څخه وروسته په دویمه پوړۍ کې راځي: (وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا {۲۸} يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ) الفرقان ۲۸-- ۹۲

یعنې: او هغه خلک چه الله سره بل معبود نه بولي او هغه نفس نه قتلوي چې الله(ج) یې قتل منع کړیدی مګرپه حقه سره او زنا نه کوي اوڅوک چه داکار وکړي هغه په ګناه کې پرېووت، دوه چنده عذاب به دقیامت په ورځ ورکړل شي اوپروت به په کې وي سپک شوی.

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چه ما له رسول الله(ص) څخه وپوښتل چه کومه ګناه ډېره لویه ده ؟ هغوی په ځواب کښې وفرمایل : (ان تجعل لله ندا وهو خلقک قلت ثم ای ؟قال : ان تقتل ولدک من اجل ان یطعم معک قلت ثم ای ؟ قال :ان تزنی بحلیلة جارک).[1]

یعنې: چه الله(ج) ته شریک وبولې حال داچې همده پیداکړي یې ، ما وویل بیاکومه ده ؟ هغه وویل چه اولاددې ووژنې له دې وېرې چې له تا سره به طعام وخوري. ما وویل بیا! هغه وویل چې دهمسایه له ښځې سره زنا وکړې.

زنا د ځمکې پرمخ دهلاکت سبب ده ، رسول الله(ص) فرمایي : په هېڅ قوم کښې زنا نده ښکاره شوې مګر الله(ج) پکښې مرګ ښکاره کړېدی .

---

[1] نیل الاوطار

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابوبکر صدیقؓ دخپل خلافت په لومړنۍ خطبه کې وفرمایل چې په هېڅ قوم کې فحاشي نه ده خپره شوې مګر الله(ج) ورته سزا عام طوفان رالېږلی دی.

حضرت عبدالله ابن مسعودؓ وايي چې: کله زنا په یوه سیمه کې ښکاره شي نو الله(ج) يې په هلاکولو امر وکړي.[1]

زنا ډېره لويه ګناه ده يوسف(ع) د زندان تورو تمبوته په زنا باندې ترجيح ورکوي زندان منی خودغه ناوړه کار ته زړه نه ښه کوي: (قَالَ رَبِّ السِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِي إِلَيْهِ) يوسف: ۳۳

یعنی: (ويې ويل ای زما ربه زندان ماته غوره دی له هغې څخه چې دوی مې دهغې طرف ته بلي.

ځکه هغه نبي واوپوهېده چې زنا څومره ناوړه عمل دی اوزنا کار ته به دقیامت په ورځ څومره سزاورکول کېږي.

رسول الله(ص) فرمايي: دقيامت په ورځ چې د الله(ج) د عرش له سيوري څخه پرته بل سيوری نشته الله(ج) به اوه کسانو د دې سيوري تر لاندې ځای ورکړي چې يوبه له دی اوه کسانو څخه هغه وي چې کومه ښکلې او ښايسته ښځه يې ځانته - دزنالپاره -راوبولي خودی يې په مقابل کې ووايي: زه له الله(ج) څخه وېرېږم.[2]

يعني: يوازې دالله(ج) دوېرې له کبله له هغې سره زنا ونه کړي نوداسې شخص به دالله(ج) د رحمت ترسيوري لاندې وي.

---

[1] الطرق الحکميه فی السياسة الشرعية محمد ابن قيم جوزی.
[2] بخاري.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج: زنا او ټولنیز ظلمونه

زنا په لوېديځ، ختيځ او اروپا کې په عام ډول د عيب خبره ، دا عتراض جوګه او څه جرم نه ګڼل کېږي اوڅوک چې پردې کارتنندی تروشوي هغوی يې د فطرت دښمنان بولي خودې بې قيده (ولکې) ازادی دې ټولنوته ډېرې ناکاره ډالۍ راوړلې.

مارکس کورنی نظام د بدبختۍ ننبه ګڼي د کمونېست ګوند په اساسنامه کې ليکي چې موږ د کورني ژوند نظام پای ته رسول غواړو، لينن په خپلې يوې وېنا کې ويلې دي :موږ د حلالي اوحرامي بچې ترمنځ توپير له منځه وړل غواړو.

فرويد له ده څخه هم وړاندې تللې دس ، ګډې ښځې د کمونېزم اصول دي . دا يډز وژونکې او هلاکوونکې ناروغي چې په ميليونونوګړي يې له ژوند څخه لاس په سرکړل او س جو ته شويده چې دا د مارکس ، لينن ، فرويد او. . . ډالۍ اوخدمت (دزنا دازادۍ) نتيجه ده او د پوستکي ډېرې ناروغتياوې هم له همدې ناوړه کړني څخه را پيدا کېږي.

زنا د ښځې او خاوند ترمنځ محبت له منځه وړي ځکه چې هرپلو به ياراني کوي لونډان به نيسي ،نسب ګډوډوي، د پلار له لطف او شفقت څخه اولاد محروموي، انسان په اخلاقي کمزوريو اخته کوي ،لکه بې حيايې چل، دروغ ويل، بدنيتي، خودغرضي ،دخپل غوښتنو غلامي، دخيالاتو پرېشاني، په طبيعت کې دناروا خوندونو داخستلو عادت، بې وفايي او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزنا په اثرد نکاح قانون له منځه ځي اوپه نتیجه کې چې کوم حرامي بچې ټولنې ته ډالۍ وړاندې کېږي هغه به دموراوپلار دطبیعت وارث وي،اودا به د یو مصیبت اویودروند پنډپه څېرپر ټولنه باوري چې نه یې منلوته څوک تیاردي اونه یې ساتلوته.

دهغه نفقه ،لویول،ساتنه . . . داهرڅه په ټولنې اوپه کوچنې باندې دزانې له ټولونه لوی ستم اوظلم دی چې دهغه د ژوندون هره لحظه یې له ستونزواوخطر سره مخ کړله.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د: د زنا ارکان

1 . وطی: د نارینه د ذکر داخلول دي د ښځې په فرج کې.

2 . وطې په صحیحه نکاح او له خپلې وینځې سره شرعاً روا ده،وطې په فاسده نکاح کې اویا په شبهې سره حرامه ده مګر زنا نده او نه عقوبت لري یوائې مهر واجبوي.[۱]

وطې به په اسلام کې له دې دوه حالاتو ځنې خالي نه وي هغه له عَقر(مهر ځنې اوایا عُقر (عذاب) څخه . . .[۲]

لکه چې ومو ویل د حنابله وپه نزد په قبل اودبرکې بدکارۍ ته زنا ویل کېږي اودزنا احکام پرې تطبیقوي.

اولمس (مسه) کول، ښکلول، په یوبستر کې ویده کېدل،یوبل ته غاړه ورکول اوحتی په یوبستر کې لوڅ لیدل زنا نده.

۱. د حرام کار د کولو هوډ او راتګ له اختیار او ارادې سره

نوکه چا دزنا هوډ او اراده وکړله اوپه خپل اختیار او ادارې یې داکار وکړنو دا زنا ده مرتکب ته یې دنیاکې عقوبت دی اوپه اخرت کې هم ورته د سخت عقوبت ګواښ شویدی اوکه چا زنا په ناپوهۍ سره وکړله لکه ذمی ،یا په داسې ځای کې ځوک اوسېده چې هلته د اسلام دعوت خپور شوی نه و،یا نوی مسلمان شوی واودزنا له حرمت څخه خبرنه ونو حد وربانډې نشته یا داسې وشو چې په تخت کې یې ښځه پرته وه اوده فکر وکړچې زما مېرمن ده او عادتاًدده پرتخت دده له خپلې مېرمنې څخه پرته

---

[۱] نهایة المحتاج،المغني لابن قدامه اوالمهذب للشیرازی.

[۲] فتح القدیر،البدائع الصنائع بدایه المجتهد بحرالرائق،المهذاب،المغنی،الجنایات فی الشریعه الاسلامیه اوالفقه الاسلامی وادلته.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل څوک نه ویده کېدله او وطی یې کړله او همدا سې د ښځې په هکله هم نو حد نشته دی.[۱]

## ۲. د زنا ثبوت

په هرې معاملې کې د ثبوت لپاره معمولاً لاندینۍ درې لارې په کار اچول کېږي.

## ۳. اقرار

کله چې زاني (زناکار) په خپله دا ومني چې ما زنا کړې ده ددې د اعتراف ترڅنګ د شاهدانو او قرائنو شته والي ته هېڅ ضروت نشته پدې شرط چې اقرار کوونکي کې د اهلیت شرطونه پوره وي لکه چې یو صحابیې د رسول الله (ص) په وړاندې په خپلې زنا باندې اعتراف وکړ چې بیا رسول الله (ص) په حد کړله.

## ۴. شاهدان

د زنا په مقدمه کې به د نورو مسائلو پر خلاف شاهدان څلور وي ځکه دا مقدمه د نورو مقدمو په پرتله ډېر سخته ده شاهدان به د شهادت اهلیت ولري اودا چې قاضي یې شهادت ومني او دا سې شهادت ورکړي چې دا هرڅه یې په خپلو سترګو دا سې لیدلي دي لکه سلایې چې درنجو په کڅوړه کې وي او یا لکه چې سطل (ډولچه) په کوهي کې وي.

شهادت ځان ته څو نور شرطونه لري چې زمونږ بحث اوږدوي د فقهې په کتابونو کې دې وکتل شي.

---

[۱] کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵. قرائن او نښې

لکه د ناواده ښځې حمل چې خاوند ورسره کوروالی نه وي کړي یا دداسې ښځې حمل چې خاوندیې کوچنی وي اوعادتاً ورڅخه حمل نه اختستل کېږي یا د داسې سړي دښځې حمل چې مجبوب وي (ذکر یې غوځ وي) یا دهاغه بالغې ښځې چې دپوره اندامونه والا کوچني وزیږوي اود واده یې لاشپږمیاشتې تیرې نه وي نو داټولې د زنا نښې اونښانې دي.[1]

## سزاګانې

### په دنیا کې دزناکار سزا:

ددې لپاره چې زنا بې شرمه اودرنه ګناه ده نو عقوبت یې هم سخت دی او دا عقوبت دمجرد (بې واده) اومتاهل (واده والا)ترمنځ توپېرلري ،ځکه چې متاهل نسبت مجرد ته پدې ښه پوهیږي چې په پردي ناموس تجاوز اوتېرى څومره زورلري ،اومجرد ته لا تراوسه داغیرت معلوم شوی نه وي نو شارع ددې خبرې خیال وساته او د دواړو په عقوبت کې یې توپیر راوست.

### الف: محصن یا واده والا

#### پېژندنه

فقهاوو دمحصن لپاره لاندې شرطونه په اتفاق سره ټاکلي دي.

[1] کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. حریت یا اصیلوالی: نو غلام (مریی) یا وینځه که هم واده ولري محصن نه دي.

۲. بلوغ :همدارنګه کوچنی که څه هم واده والا وي او کوروالی یې کړی وي محصن نه دی.

۳. عقل: لیونی که څه هم بالغ،ازاد ا صیل او واده والا وي بیا هم محصن نه دی.

۴. له محصنې سره نکاح ولري :یعنې چې لـه محصنې سره یې په صحیح عقد نکاح هم کړې وي او جماع هم صورت نیولی وي پداسې حال کې چې وطی یې روا وي نو په لیوني کوچنې هغه مجرد چې صحیحه نکاح ونلري یا یې ښځه د شاه له لورې وطي کړي یایې له وینځې سره کوروالی کړي وي حد نشته او نه ورته محصن ویل کېږي.

داحنافو اومالکیه ووپه نزد دا چې مسلمان هم وي او که دا ټول شرطونه پکې پوره وي خو چې مسلمان نه وي محصن نه دی اود محصن حد پرې نه تطبیقېږي . خوشوافع اوحنابله وایي چې: اسلام په احصان کې شرط نه دی نو که په چا کې دا ټول شرطونه بشپړشول اوزنا یې وکړله نو دمحصن حد پرې تطبیږي که څه هم مسلمان نه وي ځکه چې ابن عمرﷺ روایت کوي چې رسول الله(ص) یهودی سړی اویهودی ښځه هم په حد کړیدي.[1]

او دټولو فقهاووپه اتفاق سره هم دا شرطونه په ښځه کې ضرور

دي اوکه له ښځې اوخاوند څخه په یوه کې د احصان شرطونه بشپړ اوبل کې نیمګړې وي نو دلته د فقهاووترمنځ اختلاف د نظردی حنفي اوحنابله

[1] کتاب الفقه علی الذاهبالاربعة،بخاري،مسلم،ابوداوداوابن ماجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فقهاء(رح) وايي چې: يوهم محصن نه دی او نه پرې دمحصن احکام تطبیقېږي يعنې دا رجم کېږي نه، بلکې په درو به وهل کېږي.

شافعيان اومالکيان(رح) وايي :په چا کې چې د احصان شرطونه پوره وي هغه محصن دی نارينه وي اوکه ښځه ،مېره وي اوکه مېرمن يې اوچاته چې احصان ثابت نه وي هغه محصن نه دی دليل يې دا حديث دی چې ابوهريره او زيد بن خالد رضي الله عنه روايت کړې دي چې يو بانډه چې رسول الله(ص) ته راغې او ورته يې ويل زه تاته الله(ج) درياذوم چې زموږپه منځ کې د الله په کتاب فيصله وکړه هغه ځوک چې دده ورسره دعوه وه اوله ده پوه وه راوړاندې شواو ويې ويل هو فيصله وکړه د الله په کتاب مګر د خبرو اجازه لومړی ماته راکړه رسول الله(ص) ورته وفرمايل: چې ووايه هغه وويل چې زما زوی له ده سره مزدور و او دده له ښځې سره يې زنا وکړله اوزه خبرشوم چې زما په زوی د رجم عقوبت دی نو ماده ته سل ګډې اويوه وينځه ورکړله بيا له پوهانو څخه مې وپوښتل هغوی راته وويل:چې ستا په زوی سل درې اوديوکال تبعيد (دملک نه شړل) دي او دده په ښځې رجم دی رسول الله(ص) ورته وفرمايل: قسم په هغه خدای دی چې زما نفس دهغه په واک کې دی چې دالله(ج) پرکتاب به ستاسو په مقدمه کې فيصله وکړم.

ستا وينځه اوګډې ستاشولې اوپه زوي دې يوکال تبعيد دی اوسحرورشه ای انيسه (تصغيردانس)دده ښځې ته که اعتراف يې وکړنو رجم يې کړه نو انس رضي الله عنه سحر وختي ورغی هغې اعتراف وکړاورجم يې کړله.[1]

نو لدې حديث څخه په ډاګه څرګندېږي چې هر چاته خپله سزا ده محصن ته دمحصن ،غير محصن ته دغير محصن سزا ورکول پکاردي اوهمدا رايه

[1] صحاح الستة

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاوړې هم ده ټول فقهاء پدې اتفاق سره لري چې که چېرې محصن له داسې چا سره زنا وکړله چې په هغې کې هم داحصان شرطونه پوره وونو دواړو ته درجم سزا پکار ده.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب: د غیر محصن (جره)عقوبت

که چېرې کوم اصیل عاقل بالغ زنا وکړله خو د احصان شرطونه پکې پوره نه وونو دټولوفقهاوو په اتفاق سره دهغې عقوبت سل درې تاکل شویدی.الله(ج)فرمایي : (الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ) النور۲.

یعنې :زنا کوونکی نارینه اوزنا کوونکې ښځې ،ووهئ هریوله دې دواړه څخه سل درې اونه دې راځي تاسولره په دوې باندې وېره (نرمي) د الله(ج) په حکم چلولوکې که تاسویقین لرئ په الله(ج) اوپر ورځ د اخرت ب اوحاضر دې شي وهلو د دوی ته څه خلک له مسلمانانو څخه .

حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه فرمایي: (البکربالبکرجلد ماٰة وتغریب عام).[1]

یعنې: نا واده په ناواده سل درې اویوکال تبعید دی.

بل د ابوهریره رضي الله عنه اوزیدبن خالد جهني رضي الله عنه هغه روایت چې موږ وړاندې بیان کړاوهمدا سزا عبدالله ابن عباس رضي الله عنه تاکلې وه او ویې فرمایل:الرجم للثیب والجلد للبکر.[2]

یعنې په تیګو ویشتل واده والا ته او دُرې جره ته دي .

اوهمدا سل دُرې پوره اوکافي حد دی مالکیان(رح) وایي چې: غیر محصن زنا کاردې له درو څخه وروسته له وطن څخه لرې وشړل شي په دومره

---

[1] صحاح ستة مګربخاري،نیل اوطاراومسنداحمد .

[2] معارف القران نقل له بخاري څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصافه کې چې هلته په لمانځه کې قصر وشي ځکه چې دلته به هرڅوک ورته په بده سترګه ګوري اوښځه به دفساد له وېرې نه تبعيدوي خو په کورکې به يې دننه بنده ساتي اوبهر وتلو ته به يې نه پرېږدي شوافع اوحنابلهﷺ وايي چې:غير محصن زناکاران دي له دروڅخه وروسته تبعيد شي او دتبعيد مصافه دې دسفرله مصافې څخه کمه نه وي د دوی دلايل د ابوهريرهﷺ او زيد بن خالد جهنيﷺ روايت اوبل د عباده بن صامتﷺ روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايي: (خذاعنی خذوا عنی قد جعل الله لهن سبيلا ،البکربالبکرجلدمأة وتغريب عام والثيب بالثيب جلد مأة والرجم).[1]

يعني :له ماڅخه علم واخلئ له ما څخه علم واخلئ الله(ج) زنا کارسړي اوښځې ته لاره وګرځوله د ناواده سړي اوښځې لپاره سل درې اويوکال تبعيد دی اوواده والا ښځې اوسړې لپاره سل درې اوپه تيږ ويشتل دي.

۱. احناف(رح) وايي چې د درو اوتبعيد يوځای والی نشته دی او دا په قاضي پورې اړه لري چې که تبعيد مناسب ويني نو تبعيد دې يې کړي اوکه ضروريې نه وي نو تبعيد نشته ځکه چې تبعيد په سوره نور کې نشته اودحدبرخه هم ندہ اودتعزير له بابه دی اوبل داچې په تبعيد کې فتنه ده اودا چې ځينې صحابه و دا کاړکړيدی دا دهغوي خپل اجتهاد دی.

بل داچې تبعيد په خبر واحد ثابت دی چې دقران په مقابل کې پرې عمل نه کېږي اوابن عباسﷺ هم په حد کې تبعيد ياد نکړ.

---

[1] صحاح الستة مکربخاري مسند احمداوموطا امام مالک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج: د محصن (واده والا) سزا

د محصن زناکارعقوبت په اسلام کې په تیګو ویشتل اومړکول دي دا سزا ورته په متواترو روایاتو ثابته ده اوپرته له ځینوخوارجو نورټول فقهاء پرې متفق دي.

رسول الله(ص) فرمايي:خذواعنى........والثيب بالثيب جلدماة والرجم).[۱]

یعنې: له ما څخه علم واخلئ . . . واده والا سړی او واده والا ښځه سل درې اوپه تیګو ویشتل دي.

رسول الله(ص) غامديه اوماعزرجم کړل او دا واقعه دحدیثوټولوکتابونو رانقل کړیده.[۲]

رسول الله(ص) یهودي زنا کاران هم په تیګو وویشتل.[۳]

د ابوهریرهؓ اوزید بن خالد جهنیؓ په روایت کې وویل شول چې رسول الله(ص) انسؓ ته وویل چې ورشه که هغې اعتراف وکړ نو رجم یې کړه .همدا راز رسول الله(ص) فرمايي:الشيخ والشيخة اذا زنيافارجموهما البتة نكالا من الله.[۴]

یعنې:واده والا سړی او واده والا ښځه رجم کړئ خامخا لپاره دعبرت د الله(ج) له خوا څخه.

---

[۱] ټول صحاحه مګربخاري،مسند احمد ،اونيل الاوطار.
[۲] مسلم ابوداود ،ترمذی.،اونسايي.
[۳] متفق عليه
[۴] متفق عليه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله(ص) فرمايي:لايحل دم امرء مسلم الاباحدی الثلاث الثيب زانی.[۱]

يعنې: نده روا وينه توی‌ول دهيڅ مسلمان سړي مګرپه يود درېيوسببو ـ واده والا زنا کار. . .

همدا راز فرمايي:(ان الرجم حق فی کتاب الله علی من زنی اذا احصن من الرجال والنساء اذا قامت البينة اوکان الحمل اوالاعتراف).[۲]

يعنې :يقيناً رجم د الله تعالی په کتاب کې حق دی په هغه چا چې زنا وکړي کله چې واده والا وي له نارينه يا له ښځو څخه کله چې ښنې پيدا شي اويا حمل ښکاره شي اويا اعتراف وکړي.

درجم سزا د واده والا لپاره بشپړه سزا ده اوله رجم سره نوره سزا نشته مګر تنها حنابله وايي چې :په لومړۍ ورځ به په درو ووهل شي او په دوهمه ورځ دې په تيګو وويشتل شي اوجمهورفقهاء وايي چې:رجم او درې دواړه نشته او دجمهورو فقهاء وينا پياوړې هم ده.[۳]

## د: کيفيت او تطبيق

کله چې څوک په درو وهي نو دره به نه، نوې وي اونه زړه چې يا ډېردرد وکړي يا بېخي درد ونکړي د پوستکي برابره دره به وي په دره وهلو کې به مبالغه نه کوي ټولې جامې به ترې نه باسي چې عورت يې ښکاره شي اودرې

---

[۱] متفق عليه.
[۲] متفق عليه.
[۳] کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په ټول بدن وېشي ددې لپاره چې د بدن غړي يې له منځه لاړنشي او په مخ او عورت به يې په دُره نه وهي ښځه به په ناسته په دُره وهي اوکه څوک رجم کوي نو په برابرو تيګو به يې ولي چې نه ډېرې غټې وي اونه ډېرې وړې وي چې نه پرې تکليف ډېر شي اونه داسې چې سمدستي مړشي اوخلکو ته عبرت جوړنشي ځکه چې الله(ج) چې ديوډله خلکو په حضورکې دعذاب ورکولوحکم وکړهغه هم دعبرت لپاره.

نه به يې په توري ياټوپک يا تمانچې وژني اونه په چاقويابرچې په تيږوويشتلوکې ښايي حکمت همدا وي چې که تورن په ټوپک اوتمانچې يا. . . سمدستي ووژل شي نوهغه چانس يې له لاسه وځي چې شريعت دهغه چا لپاره ورکړی دی چې زنا يې په اعتراف ثابته شوې وي يعني:که کوم محصن په خپلې زنا اعتراف وکړاوقاضي پرې حکم وکړچې ودې وژل شي اوخلکوڅوتيګي وويشت اوبيا هغه له خپل اعتراف څخه واوښت نورجم يې ساقطېږي اوڅوک يې دوژلوحق نلري نو که داسې څوک په ټوپک يا. . . سمدستي ووژل شي نو هغه چانس به له لاسه ورکړي چې له مرګ څخه پرې خلاصېږي.

اوپه تيګو به يې پر مخ نه ولي سړي ته به کنده نه وباسي اونه به يې تړي اوښځوته به ترنامه کنده وباسي اوجامې به ورپورې کلکې وتړي چې عورت يې ښکاره نشي. اوکه چېرې حامله وه نو هم په درو کې اوهم په رجم کې به انتظار ورته کوي چې حمل وزېږوي اوکه نفاسه وي چې له نفاس څخه پاکه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که زنا کار په حد کې مړشي نو غسل به ورکوي کفن به ورکوي لمونځ به پرې کوي او د مسلمانانو په هدیره (حضیره) کې به یې ښخ کړي.[۱]

www.melitahrik.com
0777 400 116

[۱] کتاب الفقه على المذاهب الاربعة

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېل بېل معلومات

## الف: څوک په زنا مجبورل

دزوراندازدادی چې څوک یې په وژلو، په وهلو یا دکوم غړي په پرې کولو تهدید کړي، اوکه څوک چا په وهلو وېرولی ونودا اکراه نده اوکه پدې مجبوریت کې څوک څه وکړي نو مسؤول دی.

کله چې چاته دوژلو یا دکوم غړي دبېکاره کولو ګواښ وکړل شو چې هرومرو به زنا کوي کنه نو ... درسره کوو اوداپوهېده که زه دده شرطونه پوره نه کړم نو داخپل هوډ پوره کوي نو که په داسې حالت کې چا زنا وکړله نو دامام ابوحنیفه(رح)په نزد په حد کېږي.ځکه چې زنا دذکر انتشار ته اړه لري اوانتشار امن، سکون هوساینې ته اړه لري او رضا اوخوښه غواړي اوکله که دده انتشار کېږي نو معنی دا چې دده خوښه ده امن او سکون ورسره دی مګرکه پاچا (بادشاه) یې مجبورکړي نوبیا حدنشته او امام زفر(رح) وایي چې: که پاچایي هم مجبورکړي نوبیاهم حد پرې شته دی.
جمهورفقهاء مالکیان ،شوافع،حنابله ،او صاحبان(رح) وایي چې که څوک له هر پلوه په زنا مجبور شي نو حد پرې نشته دی.[۱]
اوپه یو روایت کې له حنابله ووخخه په اکراه کې حد غوره دی اوپه یوبل روایت کې امام مالک هم پکې تفصیل کړی دی.[۲]
دلته قوي مذهب دجمهورو فقهاوودی ځکه چې داسلام له نظره حتی که چا څوک په کفرمجبورکړاوله وېرې یې دکفرکلمه هم ظاهراًوویله نو هغه مسلمان دی ځکه

---

[۱] کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة
[۲] الفقه الاسلامی وادلته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زړه خویې کفرنه دی منلی اونه یې قبول کړی دی،خو کله چې په کفرکې اکراه ته اعتبار ده او کله چې په ایمان او عقیده کې ناچاري، مجبورتیا او زورتر نظر لاندې نیول شوی نو په زنا کې خو په طریقه اولی ترنظرلاندی نیول کېږي.

رسول الله(ص) فرمايي :پورته شوی دی زما له امت څخه وبال دخطا ،هېرې او هغه چې پرې په زور کېږي.[1]

دا چې امام ابو حنیفه(رح) ته منسوب قول وايي چې انتشار په زورنه راځي،خو که فرض کړو چې داسې حالت وي چې یوه ښکلې پېغله چې هرډول ښایست،زینت او ښکلا یې برابره وي او لوڅه دیوزلمي په مخ کې ودورل شي نو دلته که هرڅوزور وي نو ایا دهغه انتشاربه ورته ونشي ؟فطري خبره ده چې انتشار به یې کېږي او که ښځه په زنا مجبوره شوه نو دټولو فقهاوو په اتفاق سره حد پرې نشته دی.[2]

# له خپلې مېرمنې سره څوک په زنا نیول

ځینې فقهاوايي چې: یوهم نه وژل کېږي دلیل یې دسعدبن عباده هغه حدیث دی چې بخاري روایت کړیدی (د لعان په عنوان کې دي وکتل شي) بله دا چې دچا به له خپلې ښځې سره په څه خبره خفګان او تاوتریخوالی پیدا شوی وي ،ورته به په غصه وي وبه یې وژني بیا به وايي چې زنایې کوله ،یابه یې له بل چاسره ورانه وي او په څه پلمه به یې کورته ننباسي وبه یې وژني او وايي به چې زما له ښځې سره یې زنا کوله.

ځینې صحابه وايي:که هغه یې وواژه نودانه وژل کېږي کله چې دده رښتینولي ثابته شي لکه درښتوني ډاکټرنظر،یا پر زنا دمقتول بدشهرت یادښځې بد اخلاقي.

[1] ابو داود.
[2] فقه السنة

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالکیان او حنابله(رح) وایي: که ګواهان یې راوستل چې په زنایې وژلی دی او مقتول محصن (واده والا) و نو هېڅ پرې نشته دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذ او مراجع


۱. معارف القران:د پاکستان لومړی مفتي مولنامحمد شفیع.

۲. جامع البیان عن تأویل ای القران: محمد ابن جریر طبري(رح)

۳. الکشاف عن حقائق التنزیل وعیون الأقاویل:ابي القاسم محمد بن عمرزمحشري.

۴. الجامع الاحکام القرآن:ابي عبدالله محمد بن احمد الانصار القرطبي.

۵. تفسیرالقرآن العظیم (ابن کثیر) حافظ عماد احمد بن ابي الفداء اسماعیل بن کثیر.

۶. روائع البیان فی تفسیرایات الاحکام:محمد علي صابوني.

۷. صحیح بخاري:.ابي عبدالله محمد ابن اسماعیل ابن ابراهیم البخاري.

۸. صحیح مسلم:ابولحسن مسلم بن الحجاج نشاپوري.

۹. سنن ابن ماجه:ابوداود سلیمان ابن الاشعث سجستاني.

۱۰. جامع ترمذي:ابي عیسی محمد ابن عیسی.

۱۱. سنن ابن ماجه :ابي عبدالله محمد ابن یزید القزویني.

۱۲. سنن نسائي:ابوعبدالرحمن محمد ابن شعیب بن علي بن بحر النسائي.

۱۳. سنن دارلقطني:عبد الله ابن محمد دارقطني.

۱۴. المستدرک:حافظ ابي عبدالله محمد عبدالله حاکم النشاپوري.

۱۵. المسند :امام احمد بن حنبل.


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. موطا:امام مالک.

۱۷. فتح الباري:احمدابن علي ابن محمدابن حجرالعسقلاني.

۱۸. شرح مسلم:ذکریامحی الدین بن شرف النووي.

۱۹. ریاض الصالحین: ابوزکریا یحیی بن شرف نووی

۲۰. معالم السنن:امام ابي سلیمان الخطابي.

۲۱. نصب الرایه:علامه جلال الدین ابي محمدالزیلعي.

۲۲. السنن الکبري.ابي بکراحمدابن حسین ابن علي البیهقي.

۲۳. سنن الدارمي:ابي محمد عبدالله ابن بهرام الدارمي.

۲۴. نیل الاوطار:محمدابن علي ابن محمد الشوکاني.

۲۵. جامع الصغیر:امام عبدالرحمن ابن کمال الدین السیوطي.

۲۶. مشکوة المصابیح. محمد بن عبدالله

۲۷. بحر الرائق:زین الدین نجیم مصري.

۲۸. بدائع الصنایع فی ترتیب الشرائع:علاوالدین ابوبکرکاساني.

۲۹. فتح القدیر:امام کمال الدین محمدابن احمدعبدالواحدابن الهمام.

۳۰. المبسوط:ابي بکرمحمدابن احمدشمس الائمه السرخسي.

۳۱. مجمع الانهرشرح ملتقي الابحر:عبدالله محمدابن سلیمان.

۳۲. ردالمحتارعلی الدرالمختار.سیدمحمدامین المعروف بابن عابدین.

www.melltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳. الاختيارلتعليل المختارالمسمي بالاختيارلشرح المختار:عبدالله ابن محمودابن مودود النسفي.

۳۴. حاشيه ابن عابدين:سيدمحمدامين المعروف بابن عابدين.

۳۵. الهدايه:شيخ الاسلام برهان الدين ابوالحسن ابن ابي بكرمرغيناني فرغاني.

۳۶. شرح الوقايه:مولناعبدالحى لكهنوي.

۳۷. البريقه شرح الطريقه:ابي سعيدخادمي قونوي.

۳۸. الاشباه والنظائر:شيخ زين العابدين محمد ابن ابراهيم ابي نجيم.

۳۹. تحفة المحتاج:شهاب الدين ابن حجرالهيتمى.

۴۰. نهايه المحتاج الى شرح المنهاج:شمس الدين محمد ابن ابي العباس الرملي.

۴۱. المهذب:ابواسحاق ابراهيم ابن علي يوسف.

۴۲. الوجيز:امام ابي حامدالغزالي.

۴۳. المجموع شرح المهذب:ابي ذكريامحي الدين ابن شرف النووي.

۴۴. مغني المحتاج الى معرفةالفاظ المنهاج :محمدشربيني الخطيب.

۴۵. حاشية الباجوري:شيخ ابراهيم الباجوري.

۴۶. الميزان:امام شعراني.

۴۷. رحمة الامة:محمدعبدالرحمن الدمشقي.

۴۸. الخرشي على مختصرخليل:امام ابي عبدالله محمدالخرشي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۹. بدایه المجتهد ونهایة ا لمقتصد :محمد ابن احمد ابن محمد ابن رشد .

۵۰. شرح الکبیرعلی متن المقنع:شمس الدین ابو الفرج عبد الرحمن.

۵۱. المغني:ابن محمد عبد الله ابن احمد ابن قدامه.

۵۲. کشاف القناع علي متن لاقناع:شیخ منصور ابن یونس ابن ادریس.

۵۳. غاية المنتهی :شیخ مرعي بن الكرمي الحنبلي.

۵۴. زادالمعادفی هدی خیرالعباد :محمد ابن ابي بکر ابن قیم الجوزي.

۵۵. فتاوی ابن تیمیه :امام ابن تیمیه.

۵۶. احیاءعلوم الدین:امام ابی حامد الغزالي.

۵۷. کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة:عبد الرحمن جزیري.

۵۸. الفقه الاسلامي وادلته:دکتور وهبة الزحیلي.

۵۹. فقه السنه:سید السابق.

۶۰. زادالمستنقع:شرف الدین موسی بن احمد المقدسي.

۶۱. حجة الله البالغة:احمد ابن عبدالرحمن الدهلوي معروف په شاه ولي الله دهلوي.

۶۲. اللباس والزینة فی الشریعة الاسلامیة:محمد عبد العزیزعمرو.

۶۳. الانکحة الفاسده :عبدالرحمن بن عبدالرحمن شمیلة لامدل.

۶۴. النکاح والقضایا المتعلقه به:دکتوراحمد الحصري.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۵. الاحوال الشخصية فی الشریعة الاسلامیة:محمد محی الدین عبدالحمید.

۶۶. الجنایات فی الشریعة الاسلامیه:دکتورمحمد رشدي محمداسماعیل.

۶۷. کشف الاسرار:ایت الله خمیني.

۶۸. کاشف الغطاء:محمد حسین الکاشف الغطاء.

۶۹. مختصرالنافع:ابي القاسم نجم الدین جعفرابن الحسین المحلي.

۷۰. الاعتبارفي الناسخ والمنسوخ من الاثار:محمد ابن موسی الهمداني.

۷۱. این است ائین ما:ایت الله محمد حسین ژباړه ایت الله ناصرمکارم شیرازي.

۷۲. المحلی:امام ابي محمد علي ابن احمدابن سعید ابن حزم ظاهري الاندلسي.

۷۳. طرق الحکمیة فی السیاسه الشرعیة :محمد ابن ابي بکرابن القیم الجوزي.

۷۴. فرد اودولت:دکتور عبداکریم زندان.

۷۵. تلبیس ابلیس:محمد ابن ابي بکرابن القیم الجوزي.

۷۶. الاغاني:امام ابوالفرج الاصفهاني.

۷۷. اداب مباشرت :داکترافتاب احمدشاه.

۷۸. تحفة العروس:محمود مهدي استانبولي،

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۹. رفاه المسلمین:حضرت مولنا شاه اسحاق دهلوي.

۸۰. پرده سید ابولاعلی مودودي.

۸۱. المقدمه:عبدالرحمن ابن محمدابن خلدون.

۸۲. الحیاة الاجتماعیه عندالعرب:استاد ظافرالقاسمي.

۸۳. اداب الزفاف في السنة المطهره:شیخ محمدناصرالدین الباني.

۸۴. الاسلام بلامذاهب:دکتورمصطفی الشکعه.

۸۵. حقوق المراة فی الاسلام:عبدالقادرشبیة الحمد.

۸۶. المراة فی القران:استاد محمود العقاد.

۸۷. المراة بین البیت والعمل:دکتور محمد سلاله ادم.

۸۸. قضیه تحدیدالنسل فی الشریعه الاسلامیه:ام کلثوم یحیی مصطفی الخطیب.

۸۹. تنظیم النسل وموقف الشریعة الاسلامیه:دکتورعبدالله ابن عبدالحسن الطریقي.

۹۰. کشف الحقایق :عبدالعزیزمحمد نسفي

۹۱. سبل السلام شرح بلوغ المرام: محمد بن إسماعیل الصنعاني

۹۲. نظام حقوق زن دراسلام:مرتضی مطهري.

۹۳. زن وشوهر: محمدعلي صغري.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای

www.melitahrik.com
0777 400 116

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**